بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَ اعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيْعًا وَّ لَا تَفَرَّقُوْا۱

د ګبين خواګه به هير شی درنه ګرانه

که أمّت مسلمه خپلو کښي يو شو

# اِتِّحَادُ الْاُمَّةَ



تألیف :

مولنا رضاء الله بن الحاج خان بادشاهؒ

دار النشر والتوزيع :شانري
، الواقعه فی باجوړ باکســــــتان

مقدمة الكتاب ____ 4
د مسلمانانو په مینځ کښې صلحه کول ____ 32
د مسلمان□اجت پوره کول ____ 36
د مسلمان د بے اتفاقۍ یو□بب بد رد کنځلې کول دي ____ 42
اوچت اخلاق د اتفاق□بب دے ____ 43
اتــفاق او اتــحاد ____ 43
ا□لام او اجتماعیت ____ 46
□ــکایــت ____ 46
د ا□تشراق محرکات ____ 51
د مستشرقین دوه/۲ أهم ترین هدفونه ____ 54
قوم پر□تي ____ 57
د عالم ا□لام خلاف د ا□تعماري کوششونو تمهیدي دوراو د مسلمانانو اختلافات ____ 59
د اتفاق □ببونه ____ 62
دویمه خبره د اتفاق په باره کښې□دیثونه ____ 62
دریمه خبره د لانجو او جګړو قبا□ت او نقصانونه ____ 65
څلورمه خبره د هغه چا مقام او فضیلت چې هغه د مسلمانانو په مینځ کښې اتفاق او دروغې کوشش کوي ____ 69
پنځمه خبره د اتفاق فائدې ____ 71
شپږمه خبره د بے اتفاقۍ نقصانونه ____ 72
اوومه خبره ____ 74
أتمه خبره ____ 75
نهمه خبره د اختلاف او بے اتفاقۍ أ□باب ____ 76
لسمه خبره آداب د اختلاف ____ 79
دریم□بب په اجتهادي مسائلو کښې په یو بل تنقید نه کول ____ 80
یولسمه خبره د اتفاق أ□باب ____ 85
□ـکایـت ____ 90
د□ق او باطل والا د پاره د جنګ جګړو پریښودو ترغیب ____ 95
وقت ____ 98

ټول حقوق په حق د ناشر محفوظ دي


﴿د كتاب نوم ........................................ إتحاد الأمة﴾
﴿د مؤلف نوم.................. مولوي رضاء الله خفظ الله ﴾
﴿طباعت اول ........................... ۱۴۴۱هـ بمطابق **2020**﴾
﴿كمپوزنگ .................... أبو ضحاك عادل شهزاد﴾
﴿ناشر ......................................... دار النشر والتوزيع ﴾




## تقريظ شيخ القران والحديث تقي الاتقياء خاکی مدظله العالی

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى .
أما بعد : بنده حقير پر تقصير د جناب الفاضل رضاء الله حفظه الله تأليف شده رساله چي مسمّى ده په "إتحاد الأمة" باندي څه نه څه مطالعه کړه، ماشاء الله تعالى په خپلے موضوع کښي بے مثاله ده .
الله تعالى دي ده دوئي ليکلے شوے کتاب د أمّت مسلمه د اتفاق ، إتحاد ذريعه وګرځوي ، او د مؤلف صاحب د پاره دِ صدقه جاريه وګرځوي . او فاضل مؤلف لره دي د مزيد توفيق د تصنيفاتو ورکړي څرنګه چي نور تأليفات هم دي .
آمين لا ارضى بواحدة ، رحم الله من قال آمينا .

يوم الاثنين ۲/شعبان المعظم/۱۴۴۰
العبد الضعيف محمد عبدالجبّار الباجوري غفرله
حالا توحيد آباد ترخو باجوړ

## تقريظ :ماهر الفنون مولناغلام الله خان حفظه الله

الحمد لله لوليه والصلوة على نبيه امابعد: فاني طالعت عدة أوراق لكتاب إتحاد الأمة فوجدت العنوان موافقا للمعنون

اللهم تقبل جميع سعايا للأخ الصالح مولوى محمد رضاء الله كما تقبلت السعي من إبراهيم واساعيل عليهما السلام . اللهم مرجعه كما جعلت بيت الكرم مرجع للناس . اللهم وفقه لما تحب وترضى واجعل اخرته خيرًا من الأولى، واجعل الجنة مثوائه . واجعل الأمة متحدة بسبب كتاب إتحاد الأمة . وجعله متفقة على كلمة واحدة آمين ألف آمين .

العبد أبو ضياء غلام الله خان الباجوري
06/04/2019

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمة الكتاب

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وحده والصلوة والسلام على من لا نبي بعده أرسله بالحق بشيرا ونذيرا، وداعيا إلى الله باذنه وسراجا منيرا.

أما بعد:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِيْ كِتَابِهِ:

﴿وَ اعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّ لَا تَفَرَّقُوْا۪ وَ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖۤ اِخْوَانًا۪ وَ كُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا١ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ۝۱۰۳﴾([1])

ترجمه : او منګولي اولګوئ ،په رسَئ دالله تعالی غوندِ، اومه جدا کيږئ ددينه، او ياد کړئ نعمت د الله تعالی په تاسو باندي ،کله چي وئي تا سو دوشمنان د يو بل ، پس مينه ئي وا چوله په مينځ د زړونو ستاسو کبني پس اوګرځيدئ په نعمت د الله تعالی رونړه رونړه، او وئي تاسو په غاړه د ړوغل د اور پس خلاص ئي کړئ تاسو د دينه، دغه رنګه بيانوي الله تعالی تاسو ته آيتونه خپل د پاره د دي چي تاسو په سمه لار روان شئ .

---

[1]) [آلعمران: 103]

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَ اتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿١٠﴾﴾ ([2])

ترجمه : يقيناً مومنان رونړه دي نو اصلاح کوئ په مينځ د ورونړو ستاسو کښي او ويريږئ د الله نه د پاره د دي چي په تاسو رحم اوکړے شي .

الله سبحانه وتعالی په ټولو مخلوقاتو کښي انسان اشرف معزز، مکرم، محترم او بهتر پيدا کړے دے .

الله رب العزت فرمائي: ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ اٰدَمَ﴾([3])

ترجمه:بے شکه بنی آدم ( انسان) لره مونږه عزت ورکړے دے .

بياروستوپه دي آيت کښي فرمائي:﴿وَ فَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا ﴿٧٠﴾﴾([4])

او غوره والے ورکړے دے مونږه دوئ لره په ډيرو د هغه چا نه چي مونږه پيداکړی دی په غوره والی باندي خو چي کله انسان په مقتضي ده انسانيت چليږي او روان وي، نو دا انسان دومره عزتمند دے چي د الله سبحانه وتعالی د نوراني مخلوق چي ملائك عليهم الصلاة والتسليمات دي د دوئي نه هم غوره او عزتمند دے، وجه هم دا ده چي ملائك عليهم الصلاة والتسليمات کښي الله رب العزت ماده د گناه نه ده پيدا کړي او هر چي انسان دے نو الله تعالی په ده کښي د گناه او د نيکئ طاقت پيدا کړے دے .﴿فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَ تَقْوٰىهَا ﴿٨﴾﴾([5])

ښودنه ئې کړي ده نفس ته د دي ده گناه او طاعت او خير او شر بلکه دا نوارني مخلوق ئې د انسان د خدمت د پاره لګولے او مقرر کړے دے .

﴿لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَ مِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ ۭ ١﴾([6])

ترجمه : د دي انسان دپاره حفاظت کونکی فرشتی دی مخکښي ددينه او روستو ددينه ده حفاظت کوی د ده په حکم د الله تعالی .

او بلکه انسان ته ده الله رب العزت ابادی ويئلي شوی ده حديث د مسلم شريف دے ﴿اَلْاِنْسَانُ بُنْيَانُ الرَّبِّ مَلْعُوْنٌ مَنْ هَدَمَ بُنْيَانَ الرَّبِّ﴾([7])

---

[2]) [سورة الحجرات/١١]
)[3][سورة بنى اسرائيل/٧٠]
[4]) [سورة بنى اسرائيل/٧٠]
[5]) [سورة الشمس/٨]
[6]) [سورة الرعد/١١]
[7])

ترجمه: انسان ده الله رب العزت ابادی ده او لعنتی دی هغه څوک چه دالله رب العزت ابادی نړوی.

کله ورته الله رب العزت خپل عیال وائي .

﴿اَلْخَلْقُ عَیَالُ اللهِ فَاَحَبُّ الْخَلْقِ اِلَی اللهِ مَنْ اَحْسَنَ اِلٰی عَیَالِهٖ﴾([8]) [الحديث]

ترجمه: خلق ده الله رب العزت عیال دی او ډیر محبوب ده مخلوق نه الله تعالی ته هغه څوک دی چې ده الله تعالی ده عیال سره مینه او محبت کوی؛ کله الله رب العزت ده انسان په ښائست قسم خوری .

لکه الله رب العزت فرمائي :﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِیْٓ اَحْسَنِ تَقْوِیْمٍ﴿۴﴾﴾([9])

یقینًا پیدا کړے دے مونږه انسان په خائسته جوړخت، او کله الله رب العزت فرمائي :

﴿الَّذِیْ خَلَقَكَ فَسَوّٰىكَ فَعَدَلَكَ﴿۷﴾ فِیْٓ اَیِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ﴿۸﴾﴾ ([10])

هغه ذات چي ته ئې پیدا کړے ئې او برابر کړي ئې ، او ستا اندامونه ئې صحیح سالم پیدا کړي دي، ته ئې په اعتدال باندي برابر کړے ئې، په کوم یو شکل او صورت چي ئې خوښه وه جوړ کړے ئې ئې . علاوه لا دا هم وایو چي د ټولي دنیا نظام او پیدائش ده انسان د پاره دے .

الله تعالی فرمائي :

﴿هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا ۗ ثُمَّ اسْتَوٰٓی اِلَی السَّمَآءِ فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ؕ وَ هُوَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ﴿۲۹﴾﴾([11])

ترجمه : دغه الله تعالی هغه ذات دے چي پیدا کړي ئې دي ستاسو د فائدي د پاره هغه څه چي په زمکه کښي دي، د دي ټولو عقیده د الله د طرف نه وساتئ .

کله الله سبحانه وتعالی فرمائي : ﴿الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّ السَّمَآءَ بِنَآءً ۪ وَّ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴿۲۲﴾﴾([12]).

---

[8] ) شعبالإيمانلأبوبكرالبيهقي(43 /6)

[9])[التين: 4]

[10]) [سورةالأعلي٢٩]

[11])[البقرة/٢١]

[12])[سورة البقرة/٢٢]

ترجمه : الله تعالى هغه دے چي پيدا كړي ده ستاسو د پاره زمكه فرش، او آسمان چت او راورئ ده بره نه اوبه، نو راوباسي په دي سره د ميوؤ نه د خوراک ستاسو د پاره .
يو شاعر هم فرمائي :

**وَتَزْعَمُ اَنَّكَ جِرْمٌ صَغِيْرٌ... ... وَفِيْكَ اِنْطَوَى الْعَالَمُ الْأَكْبَرُ**([13])

ترجمه : اے انسانه ! ته گمان كوي په خپل ځان چي ته وړه جوسه ئي، اوپه تاكښى لوى عالم راجمع شوئ دئ ـ
د دنيا چي كوم نظام په نظر راځي نو دا د انسان په وړه جوسه كښي راجمع شوے دے ، كه د سپوږمئ نظام وي نو دا د انسان په بدن كښي په ذريعه د سترگو موجود دے كه ده اور نظام دے نو د انسان په بدن كښي گرمائش شته كه د يخنئ نظام وي نو ده انسان پّه بدن كښي موجود دے كه ده هواء نظام وي نو د انسان په بدن كښي د هوا نظام موجود دے، كه د غرونو نظام وي نو د انسان پّه بدن كښي په واسطي د هډوكو موجود دے ، كه د ونو بوټو نظام په دنيا كښي شته دے نو په انسان كښي هم په ذريعه د ويښتو موجود دے .
مقصد د شعر دا دے چي د دنيا پيدائش د انسان د پاره دے زه وائم چه دشعرمقصددادئ چي عالم اكبريدعالم اصغردپاره پيداكړى انسان كله ده انسانيت په مقتضٰي روان نه وي نو الله رب العالمين فرمائي :
﴿أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ﴾([14])]
ترجمه : نه دي دوئي مگر ډنگر (ځناور) بلكه د دينه هم زيات خطاء روان دي . كله ورته الله تعالى سپي وائي : ﴿ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ ۚ﴾([15])
ترجمه : صفت د ده پشان د سپي دے كله ورلره الله تعالى د خر سره تشبيه وركړي ده ﴿كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ۚ ﴾ ([16]).
ترجمه : صفت د دوئي پشان د خر دے چي بار كړي كتابونو لره ، مقصد د خبرې دا دے چي كله انسان ځان اونه پيژني نو دا د ډنگر (ځناور) نه هم بدتر دے. وجه هم دا ده چي د عام حيواناتو سره حساب كتاب نشته او هر چه انسان دے ، نو د ده سره به خامخا ده ذرّى ذرّى حساب كيږي نبى

[13])زادالمسلموالداعيةمنالشعروالبيان (ص: 68)
[14]) [سورة الأعراف/١٧٩
[15]) [سورة الأعراف/١٧۶]
[16]) [سورة الجمعة/۵]

عليه السلام به دعا کوله : ﴿اَللّٰهُمَّ حَاسِبْنِيْ حِسَابًا يَسِيْرًا﴾([17]) اے الله ! زما سره آسان حساب اوکړي د دي وجه نه خو به ابوبکررضی الله عنه فرمائيل : کاش ! چي زه د ځنګل يو بوټي وےواښه وے ، يو ځل ئي د ځنګل يو ځناور وليده يو سوړ اسويلے ئي اوکړو چي کاش زه ده ځنګل يو ځناور وے سره د دينه چي په ټولو اوصافو متّصف وو ، که هغه هر قسم صفت وو .يو ځل جنګ تبوك لره چانده کيدله هر چا د خپل وس مطابق مال راوړلو، ابوبکرصديقرضی الله عنه خپل ټول مال راوړو نبی عليه السلام اوئيل چي کورکښي دي څه پريښودل؟هغه اوئيل ﴿اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ﴾([18]) الله او د الله پيغمبر مې پريښودو . اول سړے چي په نبی عليه السلام ئې ايمان راوړے وو په ټولو صحابو رضی الله عنهم کښي .ملګري د نبی عليه السلام په غار ثور کښي د ټولو دروازو د جنت نه به ورته آواز کيږي، په مخلوق کښي غوره سيوا د انبياء عليهم السلام نه . د نبی عليه السلام سخر خليفه اول بلا فصل نبی عليه السلام د مرض موت په وخت کښي فرمائي : ﴿مُرُوْ اَبَابَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ﴾([19]) ابوبکررضی اللهعنهته حکم اوکړئ چي خلقو ته مونځ د جمعي اوکړي .

اول امداد کونکے د نبی عليه السلام چي کله نبی عليه السلام ته مشرکين تکليف رسولو نو ابوبکر ترينه خلاص کړو وئيل ئې : ﴿اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ﴾([20]) آيا تاسو هغه څوک وژنئ چي هغه وائې ! زما رب الله تعالی دے او بل دا چي کله الله رب العزت به د قيامت په ورځ ډير زيات غصه وي ، هر پيغبر به د " نَفْسِيْ نَفْسِی" آواز کوي صرف محمدﷺ به د "اُمَّتِيْ اُمَّتِي" آواز کوي نبی عليه الصلاة والسلام به د حساب د پاره ابوبکررضی الله عنه پيش کړي ده الله رب العزت غصه به يخه او سړه شي بيا هم د هغه دغه حالت دے چي څومره د الله تعالی نه ويريږي دغه شان عمر بن الخطابرضی الله عنه وو چي فرمائيل به ئي : که ده فرات په

---

[17])صحيحابنحبان(23/ 347)
[18])
[19])اتحافالخيرةالمهرةبزوائدالمسانيدالعشرة(69 /4)
[20]) الجمعبينالصحيحينالبخاريومسلم322 /3)

غاړه يو سپے هم د تندي مري نو ده عمر نه به تپوس کيړي . او کله به ئي فرمائيل :"اِنْ زُغْتُ فَقَوِّمُوْنِيْ"([21])که زه کوږ شوم نوما به سيده کوئ يو زنانه راپاسيده وئيل ئي مونږه به دي په توره برابر کړو.

عمررضی الله عنه وفرمائيل ده الله صفتونه دي چي د عمررضی الله عنه پشان کسان په توره سمولے شي يوه شپه ئي د مديني په کوڅو کښي ګشت کولو يو شپه ئي په کور کښي د ماشومانو چغي واوريدلي چي د لُږي د وجه نه ئي ژړل ، او يو بوډئ زنانه هغوئ پوخلا کول او تشه کټوئ ئي په نغري ايخي وه . عمررضی الله عنه ئي خبر واخستو چي کله سبا شو نو ده طعام بوجئ ئي په خپله اوګه ايخي وه غلام او خادم ورته وئيل چي دا به زه اوړم عمررضی الله عنه ورته اوفرمائيل : سبا د قيامت په ورځ ته د عمررضی الله عنه پيټے نشي اوړلے .

عمررضی الله عنه به فرمائيل : ﴿

(إنا كنا أذل قوم فأعزنا الله بالإسلام فمهما نطلب العز بغير ما أعزنا الله به أذلنا الله)

([22]) مونږه په قومونو کښي ذليل ترين قوم وو مونږه لره الله رب العزت په اسلام او قرآن عزت راکړو ، که اوس مونږه په بل څيز کښي علاوه د قرآن او اسلام نه عزت طلب کړو نو مونږه به الله ذليله کړي او د عاجزئ دا عالم وو چي ګټه به ئي سر ته کيښوده .

يوه ورځ زلزله شوه زمکه ئي په لته اووهله چي آيا په تا عمررضی الله عنه انصاف نه دے کړے ؟ نبی عليه السلام د عمررضی الله عنه په شان کښي فرمائي : که زما نه بعد بل پيغبر وي نو "لَكَانَ عُمَرَ" نو هغه به عمررضی الله عنه وے باوجود د دينه هم بيا د الله تعالی نه ځومره ډير زيات يريدلو ، يو صحابيرضی الله عنه فرمائي : چي کله عمررضی الله عنه شهيد شو نو زه ډير خفه ووم چي کاش ما په خوب کښي وليدے يو کال بعد مي په خوب کښي اوليدو چي د ځان نه ئي خولی اوچولي چي اوس د حساب کتاب نه فارغ شوم .

---

[21]) موسوعةالخطبوالدروس 1500 خطبة(2 /)

[22])الولاءوالبراء (ص: 204)

مقصد د خبري دا دے چي انسان الله تعالی په دنیا کښي عبث او بې فائدي نه دے پیدا کړے الله په خپل کتاب کښي فرمائي : ﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ﴿۱۱۵﴾﴾([23]) .

ترجمه : آیا ګمان کوئ تاسو چي یقینًا مونږه تاسو عبث بے فائدي پیدا کړي ئې ، او یقینا تاسو به مونږه ته نه واپس کیږئ .

بل ځائے الله رب العزت فرمائي : ﴿اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًىؕ﴿۳۶﴾﴾([24])

ترجمه : آیا ګمان کوي انسان چي دے به داسي پریښودے شي چي ده ته به ده څه حکم او منع نه کیږي نه نه ، بلکه دا خیال د انسان غلط دے . الله رب العزت د انسان د پاره مکمل نظام حیات رالیږلے دے د بیت الخلاء نه تر بیت الله پوري او د مهد نه تر لحده پوري داسي نظام حیات چي "لَيْلُهَا كَنَهَارِهَا" چي شپه ئې پشان د ورځي ده او داسي نظام حیات چي د ګډو بیزو شپونکیان راعیان ئې د دنیا بادشاهان او سرداران جوړ کړل .

یوه ورځ د جنګ بدر په موقع چي کله ابوجهل د دوؤ ۲/ کم عمره ماشومانو د لاسه مردار شو او په زخمي حالت کښي وو نو عبد الله بن مسعودرضی الله عنه ئې په سینه کیناستو ابوجهل چي ولیدلونو نه ورته وائي :

﴿لقدارتقيتمرتقىصعباًيارُوَيْعيالغنم ﴾([25]) .

اے د ګډو او بیزو شپونکیه یقینًا ته ډیر اوچت ګران ځائے ته وختلي ، که یو طرف ته د ګډو بیزو شپونکے نو بل طرف ته د مکي سردار ، که یو طرف ته عتبه ، شیبه، ابولهب نو بل طرف ته بلال حبشیرضی الله عنه ، صهیبرضی الله عنه او ابو هریرة رضی الله عنه که یو طرف ته کسري او قیصر نو بل طرف د مکي مهاجرین او مدیني انصار بے یاره او مدد ګار .

که یوطرف ته د﴿يَاَيُّهَا النَّاسُ قُوْلُوْا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ تُفْلِحُوا﴾([26]) نوبل طرف ته د ﴿تَبًّا لَّكَ سَائِرَ الْيَوْمِ اَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا﴾([27]) واله که یو طرف ته د مکّی واله ظلم او ستم نو بل طرف ته د مکّی فاتح که یو طرف ته د مکي والا إستهزاء او

[23])[سورة لمؤمنون/۱۱۵]

[24])[سورة القيامة/۳۶]

[25])أعلامالسيرةالنبويةفيالقرنالثانيللهجرةمصنفاتهمومناهجه (ص: 8)

[26])) دلائلالنبوةللبيهقي (2/ 61،بترقيمالشاملةآليا

مسخري نو بل طرف ته د ﴿لَا تَثْرِيْبَعَلَيْكُمُ الْيَوْمَ اَنْتُمْ عُتَقَاءُ لِلّٰهِ﴾([28]) واله معامله چي په تاسو اے مکي والو ! هيڅ ملامتيه نيشته تاسو د الله د پاره آزاد ئي که يو طرف ته د طائف والا ظلم او ستم او دا آواز کول چي " أُخْرُجْ مِنْ اَرْضِنَا نَجَّسْتَ اَرْضَنَا " زمونږه د زمکي نه اوځه زمونږه زمکه دي ګنده او پليته کړه نو بل طرف ته دا آواز " اَللّٰهُمَّاهْدِ قَوْمِیْ فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ لَعَلَّ الله اَنْ يَّخْرُجَ مِنْ اَصْلَابِهِمْ اَنْ يَّعْبُدُوْهُ وَلَا يُشْرِكُوْا بِهِ شَيْئًا "([29])اے الله ! زما قوم ته هدايت وکړي يقينًا دوئي نه پوهيږي کيديشي الله ده دوئي د ملاګانو نه داسي اولاد پيدا کړي چي د الله تعالی عبادت به کوي او د الله سره به څوک نه شريك کوي که يو طرف ته ده '' أُعْلُ هُبُلُ او د لَنَا الْعُزّٰى وَلَا عُزّٰى لَكُمْ '' والا نو بل طرف ته ده '' اَللّٰهُ اَجَلُّ لَنَا الْمَوْلٰى وَلَا مَوْلٰى لَكُمْ ''والا که يو طرف ده وينو تږي نو بل طرف ته ناصح او امين که يو طرف ته د ظلم ستم او بربريت قانون والا نو بل طرف ته ده ﴿قَدْتَرَكْتُكُمْعَلَىالْبَيْضَاءِلَيْلُهَاكَنَهَارِهَا﴾([30]) ما تاسوپرښودلئ په صفا ستره دين چي شپه ئي د ورځي پشان ده، که يو طرف ته ﴿{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ} ([31]) دي نو بل طرف ته ﴿ {وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ} ([32]) والا دي .که يوطرف ته په معمولی خبره دشمنيان کوی

[27]) تفسير القرآنالعظيملعمادالدينالدمشقي(15/ 396)
[28]) المفصلفيفقهالدعوةإلىاللهتعالى(15/ 90)
[29]) المفصلفيشرحآيةلاإكراهفيالدين(1/ 375)
[30]) مسندأحمدطالرسالة (28/ 367
[31]) [البقرة: 165]
[32]) [البقرة: 165]

که یو طرف ته ده لړي او تندي نه مري نو بل طرف ته ﴿وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفِسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﴾([33]) والا دی .که یو طرف ته اتحاددکافرونوبل طرف ته

د ''﴿اللهم لَا عَيْشَ اِلَّا عَيْشُ الْاٰخِرَةِ فَاغْفِرِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَةِ﴾([34])نو بل طرف ته د ﴿نَحْنُ الَّذِيْنَ بَايَعُوْ مُحَمَّدًا عَلَى الْجِهَادِ مَا بَقِيْنَا اَبَدًا﴾([35]) والا دی .

که یو طرف ته د دنیا په جاه او سلطنت مغروره نو بل طرف ته د الله په مینه او محبت مست ، که یو طرف ته د کافر ظلم جبر او د مسلمان شهادت نو بل طرف ته د﴿فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ اَوْ اِنَّهَا لَحَيَاةٌ طَوِيْلَةٌ﴾ ([36])والا

که یو طرف په تجارت او سیاحت مست ، نو بل طرف ته ﴿اِنَّ الله اِبْتَعَثَنَا لِنُخْرِجَ الْعِبَادَ مَنْ عِبَادَةِ الْعِبَادِ اِلٰى عِبَادَةِ رَبِّ الْعِبَادِ وَنُخْرِجُهُمْ مِنْ ضَيْقِ الدُّنْيَا اِلٰى سَعَةِ الْاٰخِرَةِ وَنُخْرِجُهُمْ مِنْ ذُلِّ الدُّنْيَا اِلٰى عِزِّ الْاٰخِرَةِ﴾([37]) والا

یقینا مونږه الله رالیږلي یو د دی د پاره چي بندګان ده بندګئ د بندګانو نه اوباسو عبادت د بندګانو د رب ته او اوباسو مونږه دوئي د تنګوالي د دنیا نه پراخئ د آخرت ته .که یو طرف د دنیا په سازو سامان اسلحو مغروره نو بل طرف بے سازه سامان د الله په مدد او نصرت مطمئن .

که یو طرف ته أصحاب النار نو بل طرف ته أصحاب الجنة والا .

مقصد دا دے چي هر قسم عزت او شرافت دے که د دنیا او آخرت دے نو په دین کښي دے . دا دین الله رب العزت ته ډیر زیات محبوت دے دومره محبوب دے چي الله رب العزت خپل خاص بندګان د هر چا نه په هر لحاظ غوره او بهتر او معزز انبیاء کرام علیهم الصلاة والتسلیمات قربان کړي دي که د نوح علیه السلام زندګئ ته وګوري نو ټوله زندګي

---

[33]) [الحشر: 9]

[34])الجمعبينالصحيحينالبخاريومسلم(2/ 432)

[35])) السننالكبرىللإمامالنسائي(9/ 74) .

[36])) سبعونحديثافيالجهادلابنبطةالحنبلي (ص: 9

[37])المعجمالجامعفيتراجمالعلماءوطلبةالعلمالمعاصرين (ص: 32)

:إناللهابتعثناالنخرجالناسمنعبادةالعبادإلىعبادةاللهوحده،ومنضيقالدنياإلىسعتها،ومنجورالأديانإلىعدلالإسلام

ئې د غمونو دردونو او تکلیفونو مشکلاتو نه ډکه وه دومره ئې خفه کړے وو چې آخر ئې ورته خیري وکړي .
﴿وَ قَالَ نُوْحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا﴾([38])
ترجمه : اے الله ! په مخ د زمکه د کافرانو یو کور هم مه پرېږده . نوح علیه السلام خپل ژوند ده سپیسلي دین نه قربان کړو خو دین ئې د خپل ځان نه قربان نه کړو .
که د ابراهیم علیه السلام ژوند ته اوګورو نو د انسان عقل حیران شي چې خپل ځان د دین له خاطره اور ته غورځول خپل ملك وطن پریخودل خپل بچے او ښځه په خوشي بیابان کښي پریښودل د خپل بچي په مرئ چاړه راښکل خپل مال قربانول ځانله په ځانله بتان ماتول د ټول قوم مقابله کول . داهر قسم تکلیفونه برداشت کول ده دین لپاره ، خو دین ئې ده ځان نه قربان نه کړو. که مونږه ده موسی علیه السلام زندګئ تهسوچ اوکړو چه ده وخت بادشاه سره سخته مقابله راغلی وه نوقوم ئې د فرعون د غلامئ نه خلاص کړو بیا ئې د قوم سره ډیري سختئ تیري کړي . دا هر څه ئې برداشت کړل خو د الله د طرف راغلي دین یې د ځان نه قربان نه کړو .
که د زکریا علیه السلام او یحیی علیه السلام په ژوند نظر اوشی نو ځانونه ئې شهیدان کړل خو د خوږ دین د خاطره ئې خوږ دین د ځان نه قربان نه کړو .که د عیسٰی علیه السلام په ژوندن کتل اوشي نو هر قسم مشکلات تیرول دا هر څه د دین د پاره وو .
او که د محمدﷺ په حیات طیّبه ژور نظر واچولے شي نو هره لمحه د مرګ هر منتې د ژوند د فنا هره ګړئ په خوف خطر کښي سفر او حضر کښي د زندګئ نه لاس وینځل خلوت جلوت د مشکلاتو او ارشاد ئې هم فرمائیلے وو ﴿لَا رَاحَتَ بَعْدَ يَوْمِیْ هٰذَا﴾ د نن نه بعد راحتونه ختم شو . او ورقه بن نوفلؓ ورته هم وئیلي وو
لَيْتَنِيأَكُونُحَيًّاإِذْيُخْرِجُكَقَوْمُكَ.......وَإِنْيُدْرِكْنِييَوْمُكَأَنْصُرْكَنَصْرًامُؤَزَّرًا ([39]) .
آرمان چې زه ژوندے وے کله چې تاسو ستا قوم د مکي نه اوباسي نو ما به ستا مضبوط امداد کړے وے .

[38]) [سورة نوح/۲۶]
[39])مسندالصحابةفيالكتبالتسعة (10/ 62)

يوه زنانه وه نوم ئې فاطمه وه غلا ئې کړې وه څه کسانو(اسامه بن زيد رضی الله عنه) سفارش کولوچي دا د لوئې او غټ خاندان زنانه ده ، لاس ترينه مه کټ کوئ د نبیﷺ مخ مبارك متغير شو او وے فرمائيل :﴿ وَايْمُاللَّهِلَوْأَنَّفَاطِمَةَبِنْتَمُحَمَّدٍسَرَقَتْلَقَطَعْتُيَدَهَا﴾ ([40]).

قسم په الله که به تن نفيس د محمدﷺ لور فاطمه رضی الله عنها غلا اوکړی نو لاس به ترينه کټ کوم سره ده دينه چي نبیﷺ ده فاطمه رضی الله عنها په باره کښي فرمائي چه فاطمه زما ده زړه ټکړه ده او دا هم فرمائي :

﴿وأَنَّفَاطِمَةَسَيِّدَةُنِساءِأَهْلِالجَنَّةِ[41] فاطمه رضی الله عنها به ده جنّت ده ښځو مشره او سرداره وي. او دا هم فرمائي چه فاطمه رضی الله عنها ته څوک تکليف رسوي نو هغه ما ته تکليف رارسوي ، او چي کله به فاطمه رضی الله عنها ده نبيﷺخواله راغله نو نبيﷺ به ورته خپل څادر خورولو او چي کله به نبيﷺ ده سفر نه راتللو نو اول به ده فاطمه رضی الله عنها کور ته تللو.دغه رنګه نبيﷺ فرمائي﴿ أُذِيْتُ فِي اللهِ مَا لَمْ يُؤْذَ أَحَدٌ مِثْلِيْ([42]) ما ته د الله د پاره دومره تکليفونه رارسيدلي دي چي هيڅ چا ته نه دي رسيدلي زما پشان . او کله فرمائي : ﴿ أُخَافُ فِي اللهِ مَا لَمْ يُخَفْ ([43]﴾ زه چي څومره ويريدلے يم د الله ددين د پاره نوبل څوک داسي نه دي يريدلي ، پيروانونه ئې پرې اچولي وو د قتل منصوبې ئې خلاف شوي وي . په سر ئې انعامات مقرر شوي وو د کلي نه شړلي شوي وو ، بدي ردی کنځلې ورته شوي وي . لور ګاني ئې طلاقي شوي وي ، غاښونه او سر ئې شهيدان شوي وو ، جادو سحر پرې شوے وو مسجد ضرار ئې په خلاف کښي جوړ کړے شوے وو په بې بې ئې تهمت لږيدلے وو ، قسما قسم الزامات پرې لږيدلي وو ، په غاړه او مرئې کښي څادر اچولے شوے وو

---

[40])السننالكبرىللبيهقيوفيذيلهالجوهرالنقي (8/ 253)

[41]/ الفتحالكبيرفيضمالزيادةإلىالجامعالصغير (1/28)

[42]/جامعالأصولفيأحاديثالرسولللجزري(4/ 687)
لقدأُخِفْتُفياللهماليُخَفْأَحدٌ،وأُوذِيتفياللهماليُؤذَأحد،

[43]/ايض

اتحاد د کافرو د نبیﷺ خلاف شوے وو ، په بنفسِ نفیس په ویشتو/۲۷ عزاګانو کښې شریك شوے وو .

مقصد دا دے چي دا هر قسم سازشونه د نبیﷺ خلاف کیدل دا هر څه د څه د پاره وو ممبرئ مشرئ دپاره ؟ نه بلکه دا خو ورته د مکي مشرکانو هم وئیل که مشري غواړي نو د مکي بادشاهي ستاسو شوه . که نه دا هر څه د مال او ښځي د پاره؟ نه نه بلکه د مکي مشرکانو ورته دا هم وئیلی وو چي څومره مال دي پکار وي نو واخله ، که کومه جینئ او ښځه دي خوښه وي نو هغه به درته په نکاح کړو خو زمونږ په آلهه وو پسي بدي ردي مه وایه .مقصد ئي دا دے چي دا هر قسم عزتونه ، شرافتونه موجود وو په صادق الأمين مشهور وو ، د حجر الأسود په کیخودلو جګړه او تنازع وه خو چي نبیﷺ سحر راغلو نو ټولو اوئیل ﴿رَضِيْنَا بِالْاَمِيْنِ([44])﴾ مونږه په امانت دارئ باندي خوشحاله یو دا هر څه ئي د الله د سپسیلي راوړلے شوي دین نه قربان او زار کړل خو دین ئي د خپل ځان او عزتونو نه قربان نه کړو .ددی ټولو انبیاء علیهم الصلوة والتسلیمات سره فکر أخرت وو ، ځکه خو الله فرمائی{إِنَّا أَخْلَصْنَاهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ}([45])

الله تبارك وتعالى فرمائي : ﴿اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللهِ الْاِسْلَامُ﴾([46])

یقینًا کامل دین د الله په نزد اسلام دے او نبیﷺ فرمائي ﴿ ﴾( وإنهيعلوولايُعلىعليه،[47]) اسلام به اوچت وي او په دي بل څه نشي اوچتیدے او بل ځائے کښې الله تعالى فرمائي : ﴿هُوَ الَّذِىْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَ دِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَ لَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ۝۹﴾ ([48]).

ترجمه : دا الله هغه ذات دے چي رالیږلے ئي دے خپل پیغمبر په هدایت او دین کره د دي دپاره چي غالب ئي کړي په ټول دین باندی .

دا دین تر آسمان اوچتوالے لري ځکه چي ﴿ اَلدِّيْنُ مَا جَاءَ مِنَ الْفَوْقِ ([49]) .

---

44// سبلالهدىوالرشادفيسيرةخيرالعباد(2/ 172)

45/[ص: 46].

46/[العمران/۱۹]

47/ مفاهيماساسيةلدراسةالسيرةالنبوية (ص: 30

48/[سورة الصف/۶] .

49/

دين هغه دے چي د بره نه راغلے دے﴿ اَلدِّيۡنُ النَّصِيۡحَةُ ([50]) دين سراسر خير خواهي ده . الله تعالی فرمائي : ﴿ وَمَنۡ يَّبۡتَغِ غَيۡرَ الۡاِسۡلَامِ دِيۡنًا فَلَنۡ يُّقۡبَلَ مِنۡهُ‌ۚ وَهُوَ فِى الۡاٰخِرَةِ مِنَ الۡخٰسِرِيۡنَ ([51])

او چا چي اولټوله بغير د اسلام نه بل د ژوند تيرولو قانون هيڅ کله به ترينه قبول نشي ﴿اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللهِ يَبْغُوْنَ ﴾([52]) آيا غير د الله د دين نه لټوئ دوئي .([53]) د دين فکر د فرعون سره هم وو ﴿اِنِّىۡۤ اَخَافُ اَنْ يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ فِى الْاَرْضِ الْفَسَادَ﴾ ([54])[

يقينًا زه ويريږم چي دا موسی عليه السلام ستاسو دين بدلوئ يهود هم وائي . ﴿وَ لَا تُؤْمِنُوْۤا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ‌ؕ ﴾([55])

ايمان مه راوړئ مګر په هغه چا چي ستاسو د دين تابعداري کوي .

حقيقت دا دے نن سبا دغه دين إلٰهي آسماني خلق د دنيا د مفادو د پاره استعمالوي ، که هر قسم منفعت وي نو اول به دين رامخې ته کړي بيا به روستو خپل مقصد ته راشي که يو تاجر دے دوکاندار دے ، سياسي دے ، صاحب اقتدار دے که د هري طبقي سره ئې تعلقه ده خو اول به دوئې د دين په نوم ګټه او سوداګري کوي هغه دين چي د دي د پاره ژړاګانې فريادونه شوي اوښکې تويه شوي وي هر قسم مصيبتونه برداشت شوي دي د دين د پاره د سترګو نه خوبونه تختيدلي دي شپې بې خوبه شويدي راحتونه آرامونه ختم شويدي . هر قسم ذلّتونه زغملې شوی دي باوجود د دينه بيا هم ورځ په ورځ د دي دين جنازه روانه ده ګړئ په ګړئ منټ په منټ سيکنډ په سيکنډ زمونږ د ژوند نه روان دے . د بوډئ باز ترينه مونږه جوړ کړے دے څوک ئې د يو طرف نه ختموي او څوک ئې د بل طرف نه ختموي ځني وائې ږيره پکښې د کوم طرف نه راغلي ده دا دي پکښې نه وي ، څوک وائې ميراث چا ورکړے دے څوک وائې قانون پکښې چا راوستے دے ، څوک وائې ماډرن اسلام راولو ، ځني

---

[50]/إرواءالغليللمحمدالألباني(77 /1)
[51]/[سورة ال عمران/٨٥]
[52]/[العمران/٨٣]
[53]/[فتح الرحمن للشيخ عبد الجبار الباجورى] .
[54]/ سورة المؤمن/٢٦]
[55]/[العمران/٧٣] .

وائي په اسلام کښي د زنانو حقوق نشته ، څوک وائي جهاد دهشتګري ده او إنتهاء پسندي ده ، عالم طالب او مجاهد دهشتګرد دے (نعوذبالله) .

او دا ټول هر څه مونږه پخپله کوو أصل وجه د دي دا ده چي مسلمان په خپلو کښي په يو بل پسي لګيدلے دے مُشت ګريبان دے ، عزتونه لوټ کيږي دا سوچ او فکر هيڅ مسلمان نه کوي چي زما د وينا د وجه نه او زما د وجه نه دين ته څومره نقصان رسيږي مونږه د خپل عزت جاه او مال د وجه نه څومره خسران او تاوان دين ته رسوؤ، مونږه ته دين زړه ځپلئ هم نه ښکاري ، دين زمونږ نه په مړي کښی چهټي وي په ښادئ واده خوشحالئ کښي مونږه دين شا ته غورځوؤ .

په معاملاتو کښي د دين هډو څه حيثيت نشته ، که معاشري ته اوګورو نو دين لره څوک د سړي روټئ حيثيت هم نه ورکوي ، که صله رحمئ لره راشي نو په دين پسي خنداګاني کيږي ، که د ګاونډ د حال تپوس اوکړو نو ده نقصاناتو نه ډک دے ، عبادت أکثر د غير الله کيږي که هغه قبر دے که بت دے ، که آواز وي غير الله ته کيږی، که رامدد شه وائي نو بابا ته د قبر پير فقير ئې د نفع او نقصان مالکان ګرزولي دی ، او که د دين أهم جزء مونځ دے هغه هم يو خندا او مسخره ګرځيدلي ده ، که روژي لره راشي هغه هم برائے نام روژه پاتې شوي ده ، که زکوة لره راشي د دي خو هډو څوک نرخ هم نه مني ، که د حج غونده أهم جزء ته ګورو د چا په خيال او خاطر کښي هم نه راځي ، که قانون لره راشو نو ټولي فيصلي د کتاب الله خلاف کيږي په قچرو باندي د علاقي په دود دستور باندی په جرګو وغيره باندي فيصلي کيږي .

نو آيا مونږه د دی دين کوم حق ادا کړو څومره نقصان چي مونږه دين ته ورسولو دومره أغيارو نه دے رسولے ، أغيار په خپل غلط دين کلك او مضبوط دي ، يو ځل په هندوستان کښي د فوج برتي وه سيکهان هم داخل شو حکومت وقت دا خبره تجويز کړه چي سيکه به پټکے نه پسر کوي نو سيکهانو احتجاج اوکړو چي دا هيڅ کله نشي کيدلے حکومت خبره واپس واغستله دغه رنګه يهود نصاريٰ بت مت والا چي څومره دي هغوئ په خپل غلط دين خفه کيږي بلکه دوشمنئ پري کوي صرف يو مسلمان دے چي خپل دين ده سړی روټئ پشان استعمالوي .

نو راځئ چي د دي خپل دين قدر په خپله اوکړو او ده خپل دين نه زار او قربان شو او دا به څنګه کيږي د دي د پاره د وحدت يو والي او

اتفاق ضرورت دے . چي مونږه په قرآن او حديث او د سلفِ صالحينو په زندګئ نظر واچوؤ نو دا ټول د ورور ولئ او يو والي درس ورکوي ، او د بے اتفاقئ اختلاف او انتشار نه د نفرت درس ورکوي الله رب العزت په خپل کتاب لا يزال کښي فرمائي﴿وَ اعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيْعًا وَّ لَا تَفَرَّقُوْا﴾(56)
ترجمه : منګولي اولګوئ د الله تعالى په کتاب او تس نس کيږئ مه .
بل ځائے الله رب العزت فرمائي : ﴿كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَّاحِدَةً ﴾(57)
وو خلق يو امت نو اختلاف ئي اوکړو بل ځائے الله سبحانه وتعالي فرمائي : ﴿وَ لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا ﴾ (58)
او مه کيږئ پشان د هغه کسانو چي تس نس شوي وو . او اختلاف ئي کړے وو .
بل ځائے الله سبحانه وتعالي فرمائي : ﴿وَ لَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَ تَذْهَبَ رِيْحُكُمْ وَ اصْبِرُوْا ﴾(59)
ترجمه : او جګړه مه کوئ بزدله به شئ او لاړه به شي دبدبه ستاسو يعني کمزوري به شئ دبدبه به مو ختمه شي .شيخ الحديث بادشاه صاحب رحمه الله به فرمائيل چه پنچر به شئ.

کله چي د مسلمان اتفاق وي هيڅ يو کافر د دنيا په مسلمان نشي غالب کيدے که هر قسم أسباب او ټيکنالوجي ورسره ولي نه وي ، نن سبا مسلمان په ګرده نړئ په ټوله دنيا کښي ذليله دے ، او په ټوله اسلامي نړئ باندي د کفارو اور بل دے ، او د مسلمان په سر سودا او لوبي کيږي ده مسلمانانو په ملکونو کښي د مسلمان د وينو سيلابونه روان دي مسلمان په سيخانو کښي کباب کيږي ، وړوکے بچے د مور د غيږي نه راخستلے شي او د هغه زړه څيريږي او د مسلمان د خور په قسم قسم طريقو بې عزتي کيږي ، د هغوئ سره جنسي تيرے کيږي د هغوئ سيني غوڅيګي ، هغوئ په اور سوزي دا هر څه چي کيږي دا د مسلمان د خپله لاسه ، دا د مسلمان د بے اتفاقئ د وجه نه ، او د مسلمانانو د بزدلئ او خوف د وجه نه ، يو مشهور متل دے " وائي دا ولي وائي دا په خپله نو ګيله ولې کوي

---

56/[العمران/١٠٣] .
57/[البقرة/٢١٣] .
58/العمران/١٠٥] .
59/[الأنفال/٤٦] .

د بله " كاش چي مسلمانانو ته پته لګيدلے چي هغه څه أسباب وو چي د هغې په وجه دوئې په دنيا باندي غلبه کړي وه او اوس دا څه وجه ده چي مسلمان د ترقئ په ځائے په تنزل روان دے . وجه هم دا ده چي په قرآني احکاماتو او نبويﷺ په تعليماتو باندي مونږ عمل پريښودلے دے .

که چرته نن هم په هغې تعليماتو او احکاماتو باندي عمل اوشي نو کاميابي او کامرانی به زمونږه قدمونو لره راځي ، که چرته د حضورﷺد تعليماتو نه انکار اوکړو اګر که جديد وسائل زمونږ سره خه زيات مقدار کښي دي ليکن بيا هم مونږه چرته د کاميابئ سره مخامخ کيدے نه شو. اولني امتونه هم په خپلو خپلو وختونو کښي د عروج آخري درجي ته رسيدلي وو په خپل خيال کښي دا خيال نه کولو چي دوئې ته به عذاب ورکړے شي بلکه ده ظاهری مالونو، اولاد او د نورو وسائلو په وجه باندی هغوئی دا دعوٰي کوله چي مونږه په عذاب کښي نه ګيريګو هم داسي نن هم د دنيا ترقي يافته قومونه دا دعوي کوي چي مونږه د قدرتي آفتونو نه د ځان بچ ساتلو صلاحيت لرو په سنه/2005 کښي چي کله زلزله وه نو زمونږ صدر پرويز مشرف وئيل "ہم قدرتی آفاتو کے ڈٹکر مقابلہکرے گے"چي د دي مقابلهبه کوؤ ليکن په موقع باندي بيا ليدلے کتلي خبره ده چي سره د اسبابو او وسائلو بيا دوئې د الله رب العزت د عذاب نه ځان نه دے ساتلے او عاجز او ناتوان ګرځيدلي دي .

﴿اَمْ يُرِيْدُوْنَ كَيْدًا ؕ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا هُمُ الْمَكِيْدُوْنَ ﴿٤٢﴾﴾ ([60])

ترجمه : آيا اراده لري دوئې د څه چل پس هغه کسان چي کفر ئي کړے دے هم دوئې تدبير کړي شوي دي .

﴿ وَ لَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ ؕ ﴾([61]).او نه نازليږي ناکاره مکرمګر په اهل خپل باندی .

کله وائې دا به اوکړو دا به اوکړو هيڅ هم نشي کولے ﴿بَلْ اِنْ يَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا اِلَّا غُرُوْرًا ﴿٤٠﴾﴾ ([62]).

بلکه وعده نه کوي ظالمان بعض د دوئې نه د بعضو سره مکر د دهوکي .

﴿اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَّ اَكِيْدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾﴾([63])

[60]/الطور/٤٢] .
[61]/[الفاطر/٤٣]
[62]/الفاطر/٤٠]

ترجمه : يقينًا دوئي تدبير كوي تدبير ، او تدبير كوم زه هم تدبير .نن صباکروناوائرس دئ ټوله دنیائ په لپېټ کښي اغستی ده
دا هر څه چي کيږي دا زمونږ د کړو او خپله لاسه ، الله رب العزت ظالم نه دے الله رب العزت د دنيا د فساد د وجه او سبب ده انسانانو عمل بيانوي
.

﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِى الْبَرِّ وَ الْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِى النَّاسِ ﴾([64]).

ترجمه : ښکاره شوے دے فساد په اوچه او په دریاب کښي په سبب د هغه عملونو چي کوي لاسونه د خلقو .

﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ؕ وَ اِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَ مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ﴿۱۱﴾﴾[65]

ترجمه : يقينًا الله تعالى تغيّر (بدلون) نه راولي د هغه حالت چي په يو قوم وى ، تر دي چي بدل کړي دوئي هغه چي په زړونو د دوئي کښي وى ، او کله چي اراده وکړى الله تعالى په يو قوم د څه تکليف ، پس نشته واپسي هغي لره ، او نه به وي د دوئي دپاره سيوا د الله تعالى نه څوک مددګار .

الله سبحانه وتعالى ظالم نه دے حديث قدسي دے . ﴿عَنْ اَبِىْ ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ عَنْ رَبِّهِ عَزَّوَجَلَّ اَنَّهُ قَالَ يَا عِبَادِىْ اِنِّىْ حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلٰى نَفْسِىْ وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالَمُوْا ﴾ ([66])

ترجمه : حضرت ابوذررضى الله عنه د نبیﷺ نه روايت کوي او نبى عليه السلام د الله رب العزت نه روايت کوى چي الله سبحانه وتعالى فرمائي : اے زما بندګانو ! يقينًا ما په خپل ځان ظلم حرام کړے دے او ظلم مي په تاسو هم حرام کړے دے نو په يو بل ظلم مه کوئ .

بل حديث کښي هم راځي : ﴿عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ﴾([67])

---

[63]/سورة الطارق/۱۵،۱۶].
[64]/[الروم/۴۱]
[65]/[سورة الرعد/۱۱] .
[66]/[رواه مسلم وإبن ماجة]
[67]/المصنفلإبنأبيشيبه(275 /10)

ترجمه : ظلم به د قيامت په ورځ د تورو تيارو په شكل كښي وي .
مركزي خبره او محور د مسئلي دا دے چي مسلمان خپل ځان په حيثيت د مسلمان اوپيژني او ظلم پريږدی د ګناهونو نه توبه تائب شي او خپل مينځ كښي اختلاف شاته اوغورځوي نو دا به د دنيا مشران سرداران او بادشاهان جوړ شي .

او دا به كله كيږي چي كله د مسلمانانو وحدت رور ولي او اتفاق راشي يو بل ته اوړه ښكته كړی عاجزي اوكړی يو بل ته. د بادشاهانو او حكمرانانو يو بل سره اسلامي تعلقات پيدا شي تو تو ، ميں ، ميں ختم شی نو ګرده نړئ كښي به حكومت د دوئی وي . ټوله كفري نړئ به د دوئ خپو لره راځی ، او په ټوله دنيا به د مسلمان غلبه ، حكومت او خلافت اسلامي وي. او دا به كله كيږي چي كله د مسلمان د قرآن په أصولو برابر روان وي نو كاميابي او كامرانی به د دوئي قدمونو ښكولوي . قرآن د مسلمانانو د يو والي دپاره اصول ذكر كړي دي چه كله مسلمان په دغه اصولو روان وي نو هيڅ كله دا د ناكامئ خوبونه نشي ليدلے په سورة آلعمران كښي الله رب العزت د مسلمانانو د تنظيم او يو والي د پاره پنځه/۵ اصول بيان كړي دي ..

**١- اول قانون :**

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَ لَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ۝۱۰۲﴾([68])

چي د ټولو عقيده د توحيد وي د الله د يو والي وي نو د دوئی زړونه به يو بل ته سپين وي او دا د اهل جنت اوصاف دی الله د هغوی باره كښي فرمائي{وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِمْ مِنْ غِلٍّ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُوَقَالُواالْحَمْدُلِلَّهِالَّذِي هَدَانَا لِهَذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللَّهُ}([69]) بے اتفاقي به نه راځي او چي كله عقيده خرابه وي نو يو خو به د ده په زړه كښي ويره خوف وي ، او بل به بي اتفاقي وی د دوئی په مينځ كښي .

**٢- دويم قانون :**

الله رب العزت د مسلمانانو د تنظيم او يو والے د پاره ذكر كوي چي د الله رب العزت په كتاب ټول منګولي اولګوئ ﴿وَ اعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّ لَا تَفَرَّقُوْا وَ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ

---

68/[العمران/١٠٢]

69/[الأعراف: 43]

فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖۤ اِخْوَانًاوَ كُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَاكَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ﴿۱۰۳﴾)[70]

ترجمه : او منګلې اولګوئ په رسئ د الله تعالى ټول او مه جدا کيږئ د دينه ، او ياد کړئ نعمت د الله تعالى په تاسو باندې کله چې وئې تاسو دشمنان د يو بل ، پس مينه يې واچوله په مينځ د زړونو ستاسو کښې ، پس اوګرځيدئ په نعمت د الله تعالى ورنړه ، او وئې تاسو په غاړه د ډوغل د اور ، پس خلاص ئې کړئ تاسو لره د هغه نه ، دغه رنګه بيانوي الله تعالى تاسو ته آيتونه خپل د پاره د دې چې تاسو هدايت وموميئ .([71])

.

چې کله د مسلمان قانون د الله تعالى کتاب وي نو مسلمان به هيڅ کله د ناکامئ او نا مرادئ په لاره لاړ نشي ، فساد ختميدل او اصلاح د عالَم په کتاب الله راځي اخوّت بهائې چاره او رورولي د الله په کتاب راځي ځکه امام مالكؒ فرمائي : ﴿ لَنْ يُّصْلِحَ آخِرُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اِلَّا مَا صَلحَ بِهٖ اَوَّلُهَا﴾([72])

د دې آخري امت اصلاح به په هغه کتاب راځي چې په کوم کتاب د اولنو راغلي وه نو که اوس ئې هم څوک دستور حيات وګرځوي نو د دنيا او د آخرت کاميابي به حاصله کړي او په ټوله دنيا کښې به ئې اسلامي خلافت وي .

**<u>۳- دريم قانون :</u>**

الله سبحانه وتعالى د مسلمانانو د تنظيم او يو والي دپاره ذکر کوي چې أرکان به داعيان وي يعني د دعوت کار به کوي .

﴿وَ لْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِؕ وَ اُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴿۱۰۴﴾)[73]

ترجمه : وي دې ستاسو نه يوه ډله ، چې بلنه کوي خير طرف ته ، او أمر کوي په ښو باندې ، او منع کوي د بدو نه ، او دغه کسان خاص دوئې کامياب دي شيخ القرآن عبد الجبّار خاکي صاحب حفظه الله په خپل تفسير فتح الرحمن په حواله د تفسير کبير جلد/۱صفحه/۱۶۷ کښې ليکلي دي چې دعوت إلى الخير جنس دے لاندې ترينه دوه/۲ نوعې دي يو د دغه نوعې

[70]/[العمران/۱۰۳] .
[71]/فتح الرحمٰن تحت هذه الآية]
[72]/:موسوعةالدفاعنالرسولصلىاللهعليهوسلم(340 /3)
[73]/[آلعمران/۱۰۴] .

ته ترغيب دے چي دا مناسب دے او هغه أمر بالمعروف دے . او دويم پرېښودل د هغه دي چي مناسب نه وي او هغه نهي عن المنكر دے ، پس اول ئې جنس ذكر كړو او بيا ئې ورپسي دواړه نوعي ذكر كړي د پاره د مبالغي په بيان كښي نو أمر بالمعروف او نهي عن المنكر دا په مسلمان واجب دي ځكه چي دا وئيلي شوي دي چي "مِنْ" د پاره د بيان د جنس دے نو معني ئې دا شوه چي تاسو ټول دغه رنګه شئ (يعني حكم كونكي په نيكو او منع كونكي د بدو نه) په صفحه/۱۰۵ كښي . منع د تفرّق او اختلاف نه ده دويم ځل باندی ، او مراد د تفرق او اختلاف نه اصولي اختلاف دے چي تعلق د عقيدي سره لري([74])

مفتی شفيع صاحبؒ عليه ليكلي دي چي اجتهادي اختلافاتو كښي هيڅ يو جانب منكر نه دے په دی انكار كول جائز نه دي . ([75])

## ۴. ځلورم قانون :

د مسلمانانو د تنظيم او اتحاد د پاره چي مال به لګوئ ﴿وَمَا يَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ﴿۱۱۵﴾﴾([76])اوهغه چي دوئ كوي د نيكئ نه پس هيچري به محرومه نشي د ثواب د هغې نه .

چي كله مسلمان مال لګوي د مسلمانانو په خير خيګړه يو خو به د ده بخل ختميږي او بل به مسلمان د كافرانو نه متأثره كيږي نه ، ځكه چي په ټوله دنيا كښي د مسلمانانو خلاف سازش روان دے چي مسلمان به د خپل دين نه څنكه محرومه شي او څنګه به بد ظنّ شي نو د هغې خلاف خپل حياء عزّت مال جان هر څه ته تيار وي . نو د "إين جي اوز" په وجه او نوم باندي په مسلمانانو كښي فحاشی عرياني راولي د هغې د پاره ئې خپل خاص پنډ خاص كړے دے اګر چي د هغوئ خپل غريب كافر د ولږي د لاسه چي ځنګل كښي اوسيږي د هغوئ ورسره هيڅ غم او فكر نشته .

كه يو طرف ته په مسلمان د اور او باردو باران وريږي د مسلمانانو او د مسلمانانو د بچو د غوښو پته نه لګي مسلمان په اور كښي كباب كوي نو بل طرف ته په زنانو او پيسو د مسلمان غيرت او حياء اخلي .

---

[74]/[تفسير قرطبي جلد/۱صفحه/۱۰۵] .

[75]/[معارف القرآن/جلد۱صفحه/۱۴۳] .

[76][آلعمران/۱۱۵]

نو زما خوږو مسلمانانو ورنړو راځئ چي په خپل دين باندي خپل مال او جان قربان کړو . په کلي علاقه کښي يتيم غريب او مسکين بے سوکه پاتي نه شي . د مظلوم د آه نه بل مسلمان بچ کړو او د دی حديث مصداق ځان برابر کړو چي ﴿اُنْصُرْاَخَاكَ ظَالِمًااَوْمَظْلُومًا﴾([77]) د خپل ظالم او مظلوم ورور امداد اوکړه د ظالم لاس ونيسو او د مظلوم مرسته اوکړو چي کله مسلمان په داسي صفتونو ځان متّصف کړي نو کاميابي به د ده قدمونو له راځي .

**<u>۵. ينځم قانون:</u>**

هغه دا چي د مسلمان د اتفاق او تنظيم د پاره چي د جماعت حفاظت به څنکه کوي هغه داسي الله رب العزت فرمائي :

﴿يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ١ ﴾([78])

ترجمه : اے د ايمان والو ! مه نيسئ راز دار دوست ، سيوا ستاسو نه کمي نه کوئ په نقصان ستاسو کښي ، مقصد دا شو چي رازونه به د دوشمنانو نه پټ ساتئ او أغيار به راز دار او دوستان نه ګرځوئ د هغوئ لس/۱۰ قباحتونه ذکر کوي .

۱. ﴿ **بِطَانَةً** ﴾ رازدار دوست جواهر القرآن صفحه/۱۷۳ . په مفردات صفحه/۵۰ کښي ليکلي دي چي "**بَطَنَتْ ثَوْبِيْ بِآخَرَ**"([79]) په هغه وخت کښي وئيلي شي چي جامه لاندي د بلي نه کړي او لفظ د "بِطَانَةً " مستعار شوے دے د هغه چا د پاره چي ته ئي خاص کړے په خبر ورکولو په پټو (باطنو) کارونو خپلو باندی .

جناب مفتی شفيعؒ ليکلي دي چي په روس او چين کښي هيڅ يو داسي سړي لره چي کميونزم ايمان او عقيده نه لري په کومي ذمه داري عهدي باندی نه کاميابوي او دغه د مملکت راز دار او مشير نه جوړوي، د اسلامي مملکتونو د زوال قصّي چي ولولئ نو د زوال د نورو أسبابو سره په کثرت سره دا هم ميلاويږي چي مسلمانانو د خپلو کارونو راز دار او معتمد غير د مسلمانانو نه جوړ کړي دی .([80])

---

[77]/إتحافالخيرةالمهرة(8/ 30)

[78]/[العمران/۱۱۸] .

[79]/ راغب اصفهانيؒ

[80]/[معارف القران/جلد۲ صفحه/۱۵۹] .

٢. ﴿ لَا يَأْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ﴾ دلته لفظ د "في" پټ دے ، اي "فِيْ خَبَالِكُمْ"([81])
معنی دا شوه چي صرفه نه کوي ستاسو په فساد کښي ، يعني هميشه د پاره د دوئي عادت فساد او ورانے وي اګر چي نوم ورلره د اصلاح او امن ورکوي . الله رب العزت فرمائي : ﴿وَ اِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ ۙ قَالُوْۤا اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ﴿۱۱﴾﴾([82]).
ترجمه : او کله چي اوئيلے شي دوئي ته چي فساد مه کوئ زمکه کښي نو وائي دوئي يقينًا مونږه اصلاح کونکي يو .([83])
کافر يهوديان نصاري هميشه د پاره په مسلمانانو کښي فساد خوره وي پّه خپله دهشتګردي کوي او ځان ته امن پسند وائي مسلمان او مجاهد ته دهشتګر وائي ، مسجد او مدرسي ته د دهشتګردئ اډي وائي . د قران فيصله حرف آخر دے چي ﴿ لَا يَأْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ﴾ کمي نه کوي په نقصان ستاسو کښي هيڅ قسم کمے نه کوي مسلمان ئي د مسلمان دوشمن جوړ کړے دے او مسلمان ئي د مسلمان تماشي ته کينولے او د مسلمان ضمير ئي په ډالرو اخستے دے مسلمان ئي په لهو لعب کرکټ او وغيره اخته کړے دے . مسلمان ئي په مسلمان جاسوس ګرځولے دے په مسلمانانو کښي قسما قسم بے حيائي په مختلفو طريقو خوروي د لباس په ذريعه د ټي وي فيس بک او انټرنيټ پّه ذريعه د اخبار او رسالو په ذريعه د موبائل په ذريعه چي څومره وس ئي کيږي مسلمان شرموي . په ټوله دنيا ئي بدناموي او برائے نام مسلمان په هر څه کښي د هغوئ تابعداري کوي او د دي حديث مصداق ګرځي چي ﴿
لَتَسْلُكُنَّسُبُلَمَنْقَبْلَكُمْحَذْوَ النَّعْلِبِالنَّعْلِوَلَتَأْخُذُنَّبِمِثْلأَخْذِهِمْإِنْشِبْرًافَشِبْرٌ افَشِبْرٌ فَإِنْذِرَاعًافَذِرَاعٌوَإِنْبَاعًافَبَاعٌحَتَّىلَوْدَخَلُوافِيجُحْرِضَبٍّلَدَخَلْتُمْفِيهِ([84])
ترجمه: خامخه ورپسي کيږئ به تاسو په طريقو د هغه چا پسي چي ستاسو نه مخکښي وو (يعني يهود او نصاري) برابر والے د پيزار په پيزار تاسوبه نيول کوی په مثل دنيولودهغوی ليشت په ليشت او ګز په ګز وازه په وازه که چرته يو کس د هغوئ نه د سمسري په سوړه ننوځي نو

---

[81]/[مدارك/١٧٧] .
[82]/[البقرة/١١]
[83]/[تفسير فتح الرحمن] .
[84]/:السنةلابنأبيعاصم (1/ 13)

خامخا تاسو به هم ننوځي (يعني که د نه کيدو کار کوي نو تاسو به ئې هم کوئ) .

او که چرته په هغوئ کښې يو کس د خپلې مور سره زنا کوي نو په دې امت کښې به هم وي . نو زما خوږو مسلمانانو رونړو راځئ چې د أغيارو د دُود او دستور نه إجتناب اوکړو ، او د الله په دين کښې ځان رنګ کړو. او د صبغة الله مصداق ځان جوړ کړو او د اتفاق او إتحاد لاس يو بل لره ورکړو او خپل مينځ کښې اختلاف يو طرف ته کيدو. او کافرون ته د وحدت او يو والي مظاهره اوکړو کله چې د مسلمان په ما بين کښې اختلافات او جګړې منازعي وي نو کافران به پرې د هر طرف نه حملې کوي . او إتحاد او اتفاق به ورته کوي او د دی حديث مصداق به ګرځي . چې کافران به په تاسو داسې راټوليږي او آوازونه به يو بل ته کوي لکه چې ماتې روټئ ته څوک راوبللے شي نن سباد﴿اَلْکُفْرُ مِلَّةٌ وَّاحِدَةٌ ﴾ مصداق د ټولو کافرانو اتحاد او نيټو أفواج جوړ کړې او ځني برائے نام مسلمانانو ورسره هم حصه اخستې ده. او د هغوئ په إتحاد فخر هم کوي چې زه د هغوئ د پرنټ ملګرے يم .

او علاوه لا پکښې دا هم وائې چې زمونږ خيټې په امريکه کښې پرتې دي ، هغوې ته رام رام وائې ، او بيا خاص کر په دې نن سبا د اليکشن په ورځو کښې چې په ۲۵جولائې ۲۰۱۸ کښې به کيږي مسلمان د مسلمان سره مشت ګريوان دے . د مسلمان د لاسه د مسلمان حياء او عزت لوټ کيږي . د مسلمان تحقير او تذليل کيږي ، د مسلمان وينه چې په دې ورځو کښې د پارمې چرګانو د وينې نه هم ارزانه ده بے ځايه تويږي باوجود د دينه چې دا هر څه بحيثيت مسلمان په مسلمان حرام دي لکه حديث کښې راځي .

﴿عَنْ اَبِيْ هُرِيْرَةَرضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِﷺ قَالَ : اَلْمُسْلِمُ اَخُوْ الْمُسْلِمِ ، لَا يَظْلِمُهُ ، وَلَا يَخْذُلُهُ ، وَلَا يَحْقِرُهُ ، اَلتَّقْوٰى هٰهُنَا ، اَلتَّقْوٰى هٰهُنَا ، اَلتَّقْوٰى هٰهُنَا وَيُشِيْرُ اِلٰى صَدْرِهِ ، بِحَسْبِ امْرِئٍ مِّنَ الشَّرِّ اَنْ يَّحْقِرَ اَخَاهُ الْمُسْلِمَ ، كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ ، دَمُهُ وَعِرْضُهُ وَمَالُهُ ﴾([85]) .

[85]/[رواه مسلم وغيره/الترغيب والترهيب جلد/۳صفحه/۳۷۳] .

ترجمه : د حضرت ابو هريرهرضی الله عنه روايت دے چي يقينًا نبي عليه السلام اوفرمائيل چي مسلمان د مسلمان ورور دے ، مسلمان به په مسلمان ظلم نه کوي ، مسلمان به مسلمان نه شرموي ، مسلمان به د مسلمان سپکوالے نه کوي . تقوي دلته ده تقوي دلته ده ، تقوي دلته ده او اشاره ئې سينه ته اوکړه . د انسان د شر نه دا کافي ده چي دے د خپل ورو مسلمان سپکوالے اوکړي ، ټول مسلمان په مسلمان حرام دے ، وينه د هغه او عزت د هغه ، او مال د هغه .

نو اے زما خوږو مسلمانانو رونړو ! مونږه لره پکار دي چي د دي ټولو فضولياتو نه ځان اوساتو ، او مسلمان لره په زړه کښي ځائے ورکړو د مسلمان عزت خپل عزت اوګڼړو ، د مسلمان بے عزتي خپله بے عزتي اوګڼړو په مسلمان پرده واچوؤ ، د مسلمان بے پردګي اونکړو ، مسلمان رسوا نه کړو ، او دا ټول هر څه د مسلمان د بے اتفاقئ د وجه نه ، او هر کله چي د مسلمانانو په خپل ما بين کښي اتفاق وي يو والے او ورور ولي وي نو د الله رب العزت امداد به شامل حال وي هيڅ يو طاقت د دنيا د دوئي مقابله نشي کولے حديث کښي راځي نبی عليه السلام فرمائي

﴿ ﴾« يد الله على الجماعة »([86]) د الله امداد دجماعت سره وي ، او د پښتو متل دے چي د يو لاس نه پړق نه خيژي ، او يوه مشهوره قصه ده چي يو ځل په يوه علاقه باندي يو حيوان ديو مقرر شوے وو چي هره مياشت به ئې يو تن اوړلو خلق ډير زيات پريشانه وو. يو عالم اوئيل چي د دي کس سره به نن زه لاړ شم ، خلق حيران شو چي دا به څه کيږي چي ورسره دغه عالم لاړو نو د درياب نه يوه پنجه راښکاره شوه . چي دوه ګوتي ئې نيولي وي او بيرته پناه شوه ، دوئې روغ جوړ سالم پاتې شو د دغه علاقي خلقو ته دغه عالم خبر ورکړو چي کله تاسو دوه کسان په اتفاق ئې نو په تاسو باندي څه بلا نشي طاقت وره کيدے نو چي کله تاسو ټول په اتفاق ئې وئي نو څنګه به زور وره شي . دغه رنګه مسلمانانو لره هم پکار دي چي په خپل مينځ کښي د اتفاق او ورور ولئ نه کار واخلي ، او ټول اختلافات ختم کړي ، نن سبا د مسلمانانو د شکست او د زوال سبب بي اتفاقئ ده هر کله چي مسلمانان بے اتفاقه وي نو کافرانو ته موقع په لاس ورشي .

---

[86] الإبانةالكبرىلابنبطة (1/ 236،بترقيمالشاملةآليا)

مشهوره قصه ده ! چي په ځنګل کښي يو زمرے وو او درى/۳ غواګاني وي سپنه ، سره ، توره . زمري سوچ اوکړو چي په دي دريو واړو خو مي وس نه کيږي خو راشه چل ورسره اوکړه ځانله ځانله به ئي ماته کړم . اول ئي سپينه غوا راوه غختله چي تا ته خبره کوم او د نورو غواګانو نه ئي جدا کړه هغه ئي ما ته کړه ، بيا ئي د سري غوا سره دغه چل اوکړو ، بيا ئي د توري غوا سره هم دغه اوګړو حديث کښي هم راځي چي شرمخ کومه ګډه ماتوي ...

په دي دور حاضر کښي هم کافران دغه رنګه کوي يو يو مملکت د مسلمانانو ځانله ځانله کوي او حملي پري کوي ، قابض کيږي پري کله په افغانستان نو کله په عراق کله په چينچنيا کله په شام کله په بوسنيا کله په يمن کله په فلسطين کله په کشمير نو کله په برما او کله په خپل مينځ کښي او مسلمان صرف تماشے ته پروت دے . د مسلمان بچي په وينو کښي لت پت دي د مسلمان خور سره جنسى تيرے کيږي ، د مسلمان خور حياء لوټ کيږي ، مسلمانان په سيخونو کښي کباب کيږي د مسلمانانو زندګي په زندانونو کښي ختمي شي . د مسلمانانو بوډاګان بے عزته شو علماء ئي په ګاډو پسي رابنکل شو ، علماء مجاهدين طلباء په ډريلونو او برمو سوري شوى . د مسلمانانو په سرونو او خپو لاسونو باندي ميخونه اووهل شو ، په علماء مجاهدينو طلباء باندي ناحقه جاسوسيان اوکړے شو د هغوئ جنازي د جيلونو راوتلي ، د ډيرو د لاشونو پته هم اونه لګيده ، د ډيرو پلاران مياندي او بچي سترګي په لار دي . او د خپل بابا په انتظار دى د هغوئ خوشحالي اخترونه په ژړاګانو او واويلا باندي وي . او ډيرو ته داسي قيدونه واورول شو چي د هغوئ زندګي مفلوج شوه ، د هغوئ د خپلي زندګئ نه طمعه کټ شوه .

وآه ! د معتصم بالله په آواز هيڅوک په مسلمانانو کښي پاتي نه شو .

او د محمد بن قاسمؒ پشان ځوانان څه شو چي د مظلومي خور آواز واوري او د طارق بن زيادؒ پشان سپه سالاران څه شو ، او د هغه مظلومانو سرو زناؤ او ماشومانو پرياد او آه اوريدونکي څه شو ، چي هغوئ ﴿الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَ اجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۚ وَّ اجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ؕ﴿۷۵﴾﴾([87])

[87]/[سورة النساء/۷۵] .

ترجمه : هغه کسان چي هغوئ وائي اے ربه زمونږ ! اوباسه مونږه لره د دي کلي نه چي ظالمان دي اوسيدونکي د دي ، او اوگرځو مونږه لره د خپل دربار نه ، دوست او اوگرځوه مونږه لره د خپل دربار نه امدادي.
څه شو هغه چي د دي مظلمانو پّه نوم باندي به ئې چاندي کولې د هغوئ په نوم به ئې سونا او چاندي راټولوله ، ځانونه ئې د هغوئ وکيلان جوړ کړي وو ، که اوس هم مونږه اتفاق اونکړو او يو نه شو نو دا د شهيدانو د وينو سره خيانت دے . دا د مظلومانو آه او فرياد نه اوريدل دي او دا د کونډو رونډو يتيمانانو سره غدّاري ده ، او خاص په نن ورځ چي نن ٢٥ جولائي ٢٠١٨ يوم الأربعاء دے .
د هر چا سره د خپل ووټ غم دے ورور د ورور دوشمن پلار د ځوئے دوشمن ماما د خورئ دوشمن ښځه د خاوند دوشمنه ، نيکه د نمسي دوشمن ، گاونډي د گاونډي دوشمن صله رحمي ختمه شوه ، هر انسان په خطر کښي دے ځائے په ځائے دهماکي د مسلمان وينه ډيره ارزانه شوه .
هيڅ بے څه توئيږي دا هر څه مونږه پخپله په ځان اوکړل د پښتو متل دے وئې دا ولې؟ "وئې دا په خپله نو گيله ولې کوي د بله" نو اے زما عزتمتندو مسلمانانو ورنړو راځي چي د الله تعالى د رضا د پاره يو بل ته عاجزي اوکړو يو بل ته ځانونه ښکته کړو يو بل لحاظ اوکړو د يو بل خبري ته غوږ کيدو او يو دبلدخبرې قدر اوکړو بيا خاص کر د مسلمانانو مشران ليډران د يو بل انتهائي خيال اوساتي چي څومره کيدلے ايله دي پري نه کوي زما سره داسي الفاظ نيشته چي زه ئې ستاسو په شان کښي استعمال کړم خو "فَإِلَى اللهِ الْمُشْتَكٰى" ستاسو د معززينو ، محترمينو خپل مينځنئ وسوسي او نزاع ختميدل او بهائي چاره يو والے ، يو ورور ولي او وحدت ملّي راتللو سره به هر څه ختم وي کشران او لاندي افراد به خپل ما بين کښي ورنړه وي او دا خبره څه بعيده نه ده داسي څوکرته شوي هم ده . مونږه لره د أغيارو نه غيرت اخستل پکار دي چي د خپل غلطي عقيدي او غلط دين د پاره څه څه نه کوي ، په يو بل ځانونه وژني يو بل سره د مسلمان خلاف خپله زمکه او خپل ملك استعمالولو لره ورکوي خپله چانده د مال او فوج ورکوی هغوئ خپل مينځ کښي تعاون "عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَان"([88]) مصداق دي او مسلمانان چي پّه خپل مينځ کښي

[88]/[المائدة: 2]

"وَتعَاَوَنُوْ عَلَى البِرِّ وَالتَّقْوٰی([89])" مصداق جوړ نه شو راځئ مسلمانانو چي يو بل لره د ورور ولئ لاس ورکړو نفرتونه ختم کړو د الله رب العزت نه اميد دے چي زمونږه سره به د الله تعالى امداد شامل حال وي .

الاحقرمولنا رضاءالله بن الحاج خان بادشاه ادام الله فيوضه

[89] ايض

## د مسلمانانو په مينځ کښې صلحه کول

الله رب العزت انسان مدنِیٌّ الطبع پيدا کړے دے ، بغير د مينې او محبت نه وخت تيرول نشي کولے خو کله کله د انسان په فطرت کښې نفرت او کينه هم پيدا کيږي نو د دوئي د پاره الله سبحانه وتعالى يو قانون او طريقه راليږلي ده ، چي کله په دغه أصل باندى عمل اوشي نو دا نفرتونه او حسدونه په ورور ولئ بدليږي او هغه داسي کيديشي چي هر انسان ځان ته د غلطئ نسبت اوکړي چي نقصان زما دے .

او دويمه طريقه ئې دا ده چي بل مسلمان دي د دوئې په ما بين کښې د صلح او جوړي کردار ادا کړی ، او په دي باندی د الله رب العزت کتاب گواه دے .

﴿اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ۝۱۰﴾[90]

ترجمه : يقيناً مؤمنان وروڼه دي نو روغه کوئ پّه مينځ د ورڼړو ستاسو کښې او ويريږئ د الله نه د پاره د دی چي په تاسو رحم اوکړے شي .

که يو مسلمان دا غواړي چي زه دي د الله تعالى د رحم قابل اوگرځم نو د دي محنت او کوشش دي په مسلمانانو کښې د اتفاق او يو والي وي .

دا بې اتفاقي کله کله د ښځي او خاوند پّه ما بين کښې هم وي ، کله ښځه بد اخلاقه وي کله خاوند ، او کله ښځه د پلار کره لاړه شي بيا دوباره د خاوند کور ته نه راځي. نو دا نه راتلل سبب د لوئے دوشمنئ او خفگان جوړ شي . اوس د دي دواړو خلاصيدل د يو بل نه ممکن نه دے نو څه به کيږی ؟ الله سبحانه وتعالى د هغې د پاره يو قانون مقرر کړے دے الله تعالى په خپل کتاب کښې فرمائي :

﴿وَ اِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَاۤ اَنْ يُّصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا١ؕ وَ الصُّلْحُ خَيْرٌ١ؕ ﴾[91]

ترجمه : او که چري يوه ښځه وويريږي د خپل خاوند د بد خوئ نه ، او يا د مخ اړولو نه ، پس نيشته گناه ، په دواړو باندي ، چي صلحه اوکړی په مينځ خپل کښې صلحه او صلحه کول غوره دی .

---

[90]/[سورة الحجرات/١١]

[91]/[سورة النساء/١٢٧] .

﴿ وَ الصُّلْحُ خَيْرٌ ﴾ او صلحه غوره ده فقهاء کرام رحمهم الله کتاب الصلح د دي آيت مستنبط کړي ده ، کښي ليلکلي دی چي جائز ده چي دا عام دے جواز د صلحي لره په ټولو اشياء کښي مګر هغه چي خاص کړے وی دليل .

بل قانون الله رب العزت فرمائي : د ښځي او خاوند پّه ما بين کښي چي کله د دواړو په ما بين کښي د زړه خفګان راشي نو پنځلسم/١٥ حکم دے . "الصلح بين العشائر" د ښځي او خاوند ما بين کښي صلحه کول.[92]

﴿وَ اِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوْا حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَ حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا١ اِنْ يُّرِيْدَاۤ اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا١ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا۝۳۵﴾[93]

ترجمه : او که ويريږئ تاسو د خلاف نه په مينځ د دواړو کښي ، پس اوليږئ يو فيصله کونکے ، د خپلوانو د سړي نه ، او يو فيصله کونکے د خپلوانو د ښځي نه ، که اراده لري دواړه د اصلاح ، جوړخ به راولي الله تعالی پّه مينځ د دواړو کښي يقيناً الله تعالی دے پوهه خبردار.

دلته دري معني دي .

١- که اراده لری دواړه فيصله کونکي د اصلاح نو جوړخ به راولي الله سبحانه وتعالی د ښځي او خاوند په ما بين کښي .

٢- که اراده لري فيصله کونکي د جوړښت نو موافقت به راولي الله تعالی د فيصله کونکو په ما بين کښي .

٣- که اراده لري ښځه او خاوند د اصلاح نو جوړښت به راولي الله تعالی د ښځي او خاوند پّه مينځ کښي .

او کله د ښځي د اصلاح د پاره دري طريقي ذکر کوي ، کله په وعظ او نصيحت سره کله چي په دي اصلاح اونشي ، نو بيا جدا کيدل په بستره کښي ، او چي پّه دي طريقه هم سمه نه شي نو د أدب د پاره وهل که وے منله نو ډيره خه ده خو طلاق به نه ورکوي ؛ ځکه د دينه لوئے فساد جوړيږي کله الله تعالی فرمائي ﴿وَ اِنْ تُصْلِحُوْا وَ تَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا۝۱۲۹﴾ ([94])

---

[92]/جصّاصّ به جلد/٢ صفحه/٢٨٣

[93]/[سورةالنساء/٣٥] .

[94]/سورة النساء/١٢٩] .

ترجمه : او كه اصلاح كوئ تاسو ، او ځان ساتئ د ظلم نه پس يقينًا الله تعالى دے ښنونكے مهربانه ، الله رب العزت ته صلحه ډيره غوره ده . او فساد ورته ډير زيات مبغوض ترين دے تر دي پوري چي كومه زنانه د خپل خاوند نه د طلاق مطالبه كوى په هغې زنانه جنت حرام دے . حضرت ثوبانرضى الله عنه نه روايت دے .چي نبى عليه السلام فرمائي :

﴿ اَيُّمَا امْرَءَةٍ سَاَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقَهَا مِنْ غِيْرِ مَا بَأْسٍ ، فحَرَامٌ عَلِيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ ﴾([95])كومه زنانه چي د خپل خاوند نه بغير د عذر نه د طلاق مطالبه اوكړي نو په دي زنانه د جنت بوئے حرام دے .مقصد مې دا دے چي شريعت د بنى نوع انسان نه د وحدت او يو والي مطالبه كوي او بيا خاص د ښځي او خاوند نه چي د دوئي د يو بل نه خلاصون نشته دے ، دغه رنګه يو والے د اِنګور د طرف نه د خپل سخر او خواښي سره ، او د سخر او خواښي د طرف نه د خپل انګور سره ، انګور دي خپل سخر ته د پلار په نظر ګوري ځكه چي خپل ترينه جدا شوے دے او مرتبه ئي هم ده ، او خپله ښواخي ته دي د مور پّه نظر ګوري مرتبه او مقام ئي هم دے ، دغه رنګه سخر او خواښي دي هم خپلي انګور ته د لور په نظر ګوري ، ځكه چي د دي خپله لور د بل په كور كښي ده كه نن دوئي د بل چا لور ته دخپلی لور په نظركورى نوبل به دده لورته دخپلی لور په نظر ګوري ، او دغه رنګه خيال به ئي ساتي مشهور متل دے چي " ته زما توره مور مه كنځه زه به ستا خائسته مور نه كنځم " نو مونږه لره پكار دى چي پخپله هم د بے اتفاقئ نه ځان بچ كړو او نور هم . او د مسلمانانو په ما بين كښي دا نفرتونه په سوكالئ او روز ولئ سره بدل كړو ، او د دي په باره كښي آقا نامدار محمد رسول اللهﷺ ډير زيات ترغيبات هم وركړے دے .

﴿وَعَنْ عَبْدِ ابْنِ عُمَرَرضى الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِﷺ "أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ اِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ ﴾([96])

ترجمه : حضرت عبد الله بن عمررضى الله عنه روايت كوى د نبى عليه السلام نه چي نبى عليه السلام به فرمائيل غوره او بهترينه صدقه د خلقو په مينځ كښي اصلاح كول دي . د هر انسان زړه دا تمنّا كوي چي زه دي

[95]/[رواه أبو داؤد والترمذى كتاب الترغيب/٥٩

[96]/[رواه الأصفهاني وهو حديث غريب جدا كتاب الترغيب والترهيب جلد/٣ صفحه/٣٢١] .

صدقه اوکړم او ما لره دي د مرګ نه بعد فائده راکړي،بله دا چې د مسلمانانوپه مينځ کښي اتفاق راوستل ديته نبی عليه السلام تجارت وئيلے دے .

﴿عَنْ اَنَسٍ رضی الله عنه اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ لِاَبِیْ اَیُّوبَ '' اَلاَ اَدُلُّكَ عَلٰی تِجَارَةٍ ، قَالَ بَلٰی ، قَالَ : '' صِلْ بَیْنَ النَّاسِ اِذَا تَفَاسَدُوْا ، وَقَرِّبْ بَیْنَهُمْ اِذَا تَبَاعَدُوا ﴾([97])

ترجمه : د انسرضی الله عنه نه روايت دے چې يقينا نبی عليه السلام أبو ايوب انصاريرضی الله عنه ته اوفرمائيل چې آيا تا ته يو تجارت اونه ښايم ؟ هغه اوفرمائيل ولې نه؟ نبی عليه السلام اوفرمائيل : د خلقو په مينځ کښي يو ځائے والے کوه يعنې صلحه کوه کله چې په دوئې کښي فساد راشي نو نزدی والے کوه په مينځ د دوئ کښي ، کله چې د يو بل نه جدا شئ يعنې نفرت ئې پيدا شي او په بل روايت کښي داسي راځي ﴿ اَلَا اَدُلُّكَ عَلٰی عَمَلٍ یَرْضَاهُ اللهُ وَرَسُوْلُهُ ﴾([98]) آيا اونه ښايم تا ته داسي کار چې په هغې باندي الله تعالی او نبی عليه السلام خوشحاليږي .

نو هغه اوئيل ضرور اوښائي نو نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل د خلقو په مينځ کښي صلحه کوئ کله چې په دوئې کښي فساد راشی او نزدي والے کوئ په مينځ د دوئ کښي کله چې په دوئې کښي لري والے راشي .

دغه رنګه حضرت انسرضی الله عنه د نبی عليه السلام نه نقل کوي چې نبی عليه السلام به فرمائيل ﴿مَنْ اَصْلَحَ بَیْنَ النَّاسِ اَصْلَحَ اللهُ وَاَمرَهُ ، وَاَعْطَاها بِكُلِّ كَلِمَةٍ بَهَا عِتْقُ رَقَبَةٍ ، وَرَجَعَ مَغْفُوْرًا لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ﴾([99])

ترجمه : چا چې صلحه اوکړه د خلقو په مينځ کښي ، الله رب العزت به ئې کار برابر کړي ، او وربه کړي الله رب العزت په هره خبره چې دوئې خوله خوځولې وي ، آزادول د غلام ، او واپس کيږي به په داسي حالت کښي چې مخکښي ګناهونه به ورته معاف شوي وي .

[97]/مجمعالزوائدللهيثمي(17/ 167)
[98]/ايض
[99]/

دنيا كښي هر انسان په تجارت پسي ستړے دے حيران او پريشان دے/۲۴
څلورويشت ګينټهي په دي سوچ او فکر کښي وي چي په دي تجارت کښي
تاواني نشم .
او د مسلمانانو په مينځ کښي صلحه کول يو والے راوستل دا داسي ګټه او
تجارت دے چي په ديکښي تاوان نيشته ، هميشه د پاره پکښي ګټه ده .
دويم دا چي د مسلمانانو په ما بين کښي د يو والي کوشش کول په دي
باندی الله او رسول اللهﷺ خوشحاليږي ، او زه وايم چي الله رب العزت او
نبی اکرمﷺ د چا نه خوشحاله وي نو د هغه څه کمے دے ، هغه لره الله
تعالی هر څه ورکړي دي .
او دريم دا ده چي هر انسان پريشانه وي که تپوس ترينه کوی چي څه
رنګه حال دے ، نو په جواب کښي د خفګان او پريشانئ خبره کوي ، او
که د کار تپوس ترينه کوي نو وائي به چي څه مزه نيشته ، او د مسلمانانو
په ما بين کښي اتفاق راوستل صلحه کول په دي سره الله سبحانه وتعالی د
دي انسان کار برابروي .
او څلورم دا ده چي غلام آزادول دا هم ډير ګران کار دے ، ليکن د
مسلمانانو په يو والي باندي او د دی د اتفاق په باره په يوه خبره باندی الله
رب العزت د يو غلام د آزادولو أجر او ثواب ورکوي .
او پنځم دا ده چي کله دا د مسلمانانو د صلحي نه واپس کيږي نو مخکښي
واړه ګناهونه ورته معاف کيږی . هر کله چي د مسلمانانو په زړونو کښي
اخلاص وي ، او نيتونه ئي صحيح وي نو دالله رب العزت فيصلي هم د
بره نه صحيح راځي . او چي کله په نيتونو کښي فساد او نقصان وي نو په
دغه جرګو کښي هيڅ خير نيشته . په دي عصر حاضر کښي أکثر صلحو
او جرګو والا "إلا ما شاء الله" د خپلو خيټو او جيبونو په فکر کښي وي
نيتونه ئې د اصلاح نه وي نو د دوئې صلحي هم أکثر په دوشمنو بدل شي
أعاذنا الله من ذالك .

## د مسلمان□اجت پوره کول

ځني انسانان الله سبحانه وتعالی د خير چابياني پيدا کړي دی ، او
ځني پکښي د شر دی ، او کله کله ورسره نبی عليه السلام د کان سره
تشبيه ورکړي ده .

نبی علیه السلام فرمائي : ﴿ اَلنَّاسُ مَعَادِن كَمَعَادِنِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهم فِي الْإِسْلامِ إِذَا فَقُهُوْا ﴾ .([100])

ترجمه : انسانان کانونه دي پشان د سرو زورو او سپنو زورو د کانونو ، غور والے د دوئي په جهالت کښي او غوره والے د دوئي په اسلام کښي کله چي دوئي پو هه شو .

داسي خلق ډير کم دي چي د مخلوق خدا خير لټوي ، او د هغوئي حاجتونه پوره کوي . عبدالله بن عمررضی الله عنه فرمائي : وائي نبی علیه السلام اوفرمائیل : ﴿إِنَّ لِلّٰهِ خَلْقًا خَلَقَهُمْ لِحَوَائِجِ النَّاسِ يَفْزَعُ النَّاسُ إِلَيْهِمْ فِيْ حَوَائِجِهِمْ ، أُولٰئِكَ الْاٰمِنُوْنَ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ ﴾([101])

ترجمه : بے شکه د الله رب العزت د پاره څه مخلوق دے ، الله رب العزت د مخلوق د حاجتونو او ضرورتونو د پاره پیدا کړي دي ، فریادکوی خلق دوئي ته په خپلو حاجتونو کښي دغه کسان به په امن وی د الله د عذاب نه . چي یو انسان الله رب العزت د انسانیت د حاجت پوره کولو د پاره خاص کړی دا انسان ډیر خوش قسمته انسان دے نو مونږه لره پکار دي چي خپله زندګي د مخلوق خدا د خدمت د پاره صرف کړو .

او روایت شوے دے د حضرت عبدالله ابن عمررضی الله عنهما فرمائي رسول اللهﷺفرمائیلی دی﴿إِنَّ لِلّٰهِ أَقْوَامًا اِخْتَصَّهُمْ بِالنِّعَمِ لِمَنَافِعِ الْعِبَادِ يُقِرُّهُمْ فِيْهَا مَا بَذَلُوْهَا ، فَإِذَا مَنَعُوْهَا نَزَعَهَا مِنْهُمْ فَحَوَّلَهَا إِلٰى غَيْرِهِمْ﴾([102]) .

ترجمه : یقیناًخاص د الله د پاره څه قومونه دي خاص کړي دي الله تعالی دوئي په نعمتونو باندی د بندګانو د فائدو د پاره برقرار ساتئ ، الله دوئي لره ضررورکوی په دیکښي کله چي دوئي دا خرچه کوي یعنی بندګانو ته فائده ورکوي ، او هر کله چي دوئي دا فائدي منع کړی الله تعالی دا فائده د دوئي نه واخلي او نورو ته ئي اړوي .

نو مونږه لره پکار دی چي کوم انعامات احسانات الله رب العزت په مونږه کړي دي . نو د دی قدر اوکړو شکریه ئي ادا کړو ، او د الله

---

[100]/جمعالجوامعأوالجامعالكبيرللسيوطي (ص: 24871)

[101]/[الترغيب والترهيب جلد/۳ صفحه/۲۶۲]

[102]/[رواه ابن ابي الدنيا والطبرانی في الكبير والترهيب جلد/۳ صفحه/۲۶۳] .

تعالی راکړي نعمتونه د مخلوق خدا د خدمت د پاره استعمال کړو ، که مال دے که جان دے او که وقت دے الله رب العزت به ئې نور هم زیات کړي .

﴿لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴾([103])

ترجمه : که تاسو شکر اوباسئ نو زیات به کړو نعمتونه ستاسو او که تاسو نا شکري کوئ نو یقینًا عذاب زما ډیر سخت دے .

د بل ورور مسلمان حاجت پوره کول حقیقت کښي د خپل ځان حاجت پوره کول دی ، زید بن ثابترضی الله عنه د نبی علیه السلام نه روایت کوي . نبی علیه السلام فرمائي : ﴿لَا يَزَالُ اللهُ فِيْ حَاجَةِ الْعَبْدِ مَا دَامَ فِيْ حَاجَةِ أَخِيْهِ ﴾([104])

ترجمه : الله سبحانه وتعالی همیشه د بنده په حاجت کښي وي ، یعنی حاجت ئې پوره کوي . تر څو پوري چې بنده د خپل ورور په حاجت کښي وي ، که یو کس دا غواړي چې زما حاجتونه پوره شي نو هغه دي د بل مسلمان ورور په حاجت ټول کوششونه خرچ کړي . بل حدیث کښي راځي : ﴿وَاللهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ أَخِيْهِ﴾([105])

ترجمه : الله رب العزت امداد کوی دخپل بنده کله چه بنده د خپل ورور مسلمان په امداد کښي وی ، که د الله امداد مسلمان د ځان سره شامل حال کوی او دا غواړي چې د الله رب العزت امداد راسره وي ، نو د ورور مسلمان امداد دی کوي ، او په دی کښي دي سستي نه کوي . هسې نه چې خدا نخواسته دا نعمت ترینه الله وانخلي .

او ابن عمررضی الله عنه راوي دے چې یقینًا نبی علیه السلام فرمائي : ﴿ مَنْ أَعَانَ عَبْدًا فِيْ حَاجَتِهِ ثَبَّتَ اللهُ لَهُ مَقَامَهُ يَوْمَ تَزُوْلُ الْأَقْدَامُ ﴾([106]) .

ترجمه:چا چې د یو بنده په یو ضرورت کښي امداد اوکړو الله رب العزت به ئې په خپل ځائے مضبوط کړي ، کله چې د خلقو قدمونه خویږي .

---

[103]/[سورة الرعد/۶]
[104]/[رواه الطبراني ورواته ثقات] .
[105]/الأذكار النووية للإمام النووي (ص: 162)
[106]/

د قيامت ډیره سخته ورځ ده پدیکښي انسان معمولي څیز ته محتاج وي او چي بیا د انسان قدمونه په خپل ځائے مضبوط وي او نه خویيږي .نولوی سعادت دئ

او حضرت انسرضی الله عنه فرمائې چي نبی علیه السلام فرمائي : ﴿مَنْ مَشٰى فِيْ حَاجَةِ اَخِيْهِ الْمُسْلِمِ كَتَبَ اللهُ لَهُ بِكُلِّ خَطْوَةٍ سَبْعِيْنَ حَسَنَةً ، وَمَحَا عَنْهُ سَبْعِيْنَ سِيِّئَةً إِلٰى اَنْ يَّرْجِعَ مِنْ حَيْثُ فَارَقَهُ ، فَاِنْ قُضِيَتْ حَاجَتُهُ عَلٰى يَدَيْهِ خَرَجَ مِنْ ذُنُوْبِهِ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ اَمُّهُ﴾([107])

ترجمه : څوک چي لاړ شي د خپل ورور مسلمان د حاجت پوره کولو د پاره ، دي انسان لره به الله رب العزت په هر قدم اویا/ ۷۰ نیکئ اولیکي او اویا/ ۷۰ ګناهونه به ورته معاف کړي، تر دي چي واپس شي د هغه ځائے نه چي د کوم ځائے نه واپس شوے وو که چرته دا حاجت د ده په لاس پوره شو نو د ګناهونونه به داسي اوځي لکه چي د مور نه پیدا شوے وي . یعني ګناه به ورپسي نه وي ، او که چرته د دي په مینځ کښي مړ شو نو جنت ته به بے حسابه داخل شي .

او د دي کامیابئ نه بله لویه کامیابي نیشته ، الله رب العزت دي مونږه او تاسو ته نصیب کړي آمین .

دغه رنګه د انسرضی الله عنه نه روایت دے فرمائي چي نبی علیه السلام فرمائیلي دي ﴿ يَخْرُجُ خَلْقٌ مِنْ اَهْلِ النَّارِ فَيَمُرُّ الرَّجُلُ بِالرَّجُلِ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ ، فَيَقُوْلُ يَا فُلَانُ اَمَا تَعْرِفُنِيْ . فَيَقُوْلُ : وَمَنْ اَنْتَ؟ فَيَقُوْلُ : اَنَا الَّذِىْ اِسْتَوْهَبْتَنِيْ وَضُوْءً ، فَوَهَبْتُ لَكَ فَيَشْفَعَ فِيْهِ ، وَيَمُرُّ الرَّجُلُ فِيَقُوْلُ : اَمَا تَعْرِفُنِيْ ؟ فَيَقُوْلُ : وَمَنْ اَنْتَ ؟ فَيَقُوْلُ : اَنَا الَّذِيْ بَعَثْتَنِيْ فِيْ حَاجَةٍ كَذَا وَ كَذاَ ، فَقَيْتُهَا لَكَ ، فَيَشْفَعُ لَهُ فَيُشَفَّعُ فِيْهِ ط﴾([108])

---

[107]/[رواه ابن ماجة وابن ابی الدنیا فی کتاب اصطناع المعروف ، والأصبهاني]

[108]/[رواه ابن ماجه والاصبهاني بحواله الترغیب والترهیب جلد/۳ صفحه/۲۶۴] .

ترجمه : راوبه اوځي څه خلق د اور والو نه ، نو تيريږي به يو جنت واله د بل سړي په خوا کښي نو دا سړي به دي جنتي ته اوائي اے فلانکيه آيا ته ما نه پيژني نو دے به ورته وائي ته څوک ئي نو دا سړے به ورته اووائي زه هغه کس يم چي تا زما نه د اوداسه اوبه غوښتلي وي نو ما تا لره درکړي وي نو جنتي به د دي سفارش اوکړي ، او بل سړے به تيريږي نو دي جنتي ته به وائي آيا ته ما نه پيژني ؟ نو هغه به ورته اوائي ته څوک ئي نو هغه به ورته اوائي زه هغه کس يم چي تا زه په فلاني فلاني حاجت پس ليږلے ووم . نو هغه مي درله پوره کړے وو ، نو هغه به د دي دپاره سفارش اوکړي نو د هغه د پاره به سفارش قبول شي .

الله سبحانه وتعالى څومره لوئے مهربانه ذات دے چي په معمولي معمولي عمل باندي د خپل بنده بيړئ پار کوي او د نجات ذريعه ئي ګرځوي د اوداسه اوبه ورکول يا يو حاجت پوره کول د مسلمان ورور دا به مونږه ته ډير معمولي ښکاري خو عند الله ډير زيات لوئے دے . الله دي زمونږه نصيب کړي آمين .دغه رنګه مسلمان خوشحاله کول دا هم سبب د دخول د جنت دے عائشه رضى الله عنها نه روايت دے چي نبى عليه السلام فرمائيلي دي ﴿ مَنْ اَدْخَلَ عَلٰى اَهْلِ بَيْتٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ سُرُوْرًا لَمْ يَرْضَ اللّٰهُ لَهُ ثَوَابًا دُوْنَ الْجَنَّةِ ﴾ ([109]).

ترجمه:چا چي يو کور د مسلمانانو ته خوشحالي داخله کړه ، نه خوشحاليږي اللهرب العزت د هغه د پاره بے د جنت نه .

او نبي عليه السلام دا هم فرمائيلي دي چي د فرائضو نه بعد بهترين عمل الله رب العزت ته داخلول د خوشحالئ دي مسلمان ته او نبى عليه الصلاة والسلام دا هم فرمائي څوک چي د خپل ورور مسلمان ملاقات اوکړي په هغه څه چي د ده ورسره محبت وي . او د دي د پاره چي په دي خوشحاله شي نو الله رب العزت به ئي د قيامت په ورځ خوشحاله کړي نو د دى احاديثو نه معلومه شوه چي د مسلمان خوشحاله کول هم د مسلمان بے فائدي نه دي . بلکه سبب د دواړو جهانونو د کاميابئ دے او دا هم د مسلمان يو حاجت پوره کول دي ، او دا هم سبب د نجات دے ، او هم په دي باندى د مسلمان زړه ګټل دي ، او د دي په وجه باندي د مسلمانانو

[109]/[رواه الطبراني الترغيب والترهيب جلد/٣ صفحه/٢٦٥]

ورور ولي او يو والے راځي او هم دا سبب د وحدت المسلمين ګرځي الله رب العزّت دي هميشه د پاره د مسلمانانو زړونه يو بل ته صفا کړي .

## چا ته د تکليف نه رسولو فائدي

نورو خلقو ته د تکليف نه رسولو نه دا فائدي حاصليږی .

۱۔ د لويو لويو او غټو غټو ګناهونو نه بچاؤ راځي .

۲۔ د آخرت د عذاب نه داشان انسان د بچ کيدو ذريعه ده .

۳۔ چي کله خپل ځان د دي ګناه نه د بچ کيدو کوشش کوي ، نو دا پخپله يوه نيکي ده يعني د صدقه ثواب ميلاويږی د شريعت يو قانون دا هم دے چي کله د انسان په زړه کښي د ګناه اراده پيدا شي ، او بيا دغه ګناه د الله تعالی د ويري نه پريږدی نو دا پخپله يو نيک عمل دے . مثلا زړه ته دا خيال راشي چي نا محرم ته اوګورم ليکن د الله د ويري نه نظر ښکته کړي صرف دا نه چي ګناه نه ده ؛ بلکه د الله سبحانه وتعالی د ويري د وجه نه دا ګناه پريښودل په پخپله يوه نيکي ده چي عمل نامه کښي به ليکلے کيږي . دغه رنګه ستا زړه غواړی چي چاته کنځل اوکړم ليکن د الله د ويري د وجه نه خپله ژبه قابو کښي ، نو دلته دوه فائدي حاصلي شوي . [1]يو دا چي د يو لوئے کبيره ګناه نه بچ شوي . [2]او دويم فائده دا ده چي ستا په عمل نامه کښي يوه نيکه زياته شوه .

د نبی عليه الصلاة والسلام بيان شوے دا حکم څومره عجيب او نا آشنا دے چي په دي باندي د الله څومره شکر ادا شي نو کم دے . د دي وجه نه په دي باندي هيڅ محنت اونشو . هيڅ دولت پري اونه لګيدو نور هيڅ هم اونه شو ، ليکن فائده دا شوه چي انسان د ګناهونو نه بچ شو ، او په نيکو کښي اضافه اوشوه .

او اے مسلمانانو ! مونږه لره پکار دي چي هيڅ يو ورور مسلمان زمونږه نه په تکليف نشي هميشه د نورو خير خواهي اوکړو بيا خاص کر د مسلمانانو چي کومې تنازعي خپل مينځ کښي دي د دي صلحې او يو والي کوشش او جهد اوکړو . الله رب العزت دي د مسلمانانو بے اتفاقي په اتفاق بدله کړي چي د زړونو نه خفګانونه ختم شي . آمين .

## د مسلمان د بے اتفاقئ يو □بب بد رد كنځلې كول دي

مسلمان لره پكار دي چې د يو بل احترام په ځان فرض كړي ، او د مسلمان د بے احترامئ نه ځان محفوظ اوساتي ، مثلا كنځل فحش خبري كول شو . لكه د نبى عليه السلام ارشاد دے ﴿ اَلْمُتَسَبَّانِ مَا قَالَا فَعَلَى الْبَادِئِ مَالَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُوْمُ ﴾[110]

ترجمه : دوه انسانان چې په خپل مينځ كښي يو بل ته كنځل بد رد وائي د ټولو گناه په هغه چا ده چې چا په بدو ردو او كنځلو اول شروع كړي ده تر هغه وخته پوري چې كله مظلوم زياتې او نكړی .

د ژبې د گناهونو نه كنځل هم دي دا داسې يو بد څيز دے چې هر قسم د مسلمان او د مؤمن د شان نه ندي په يو حديث كښي ارشاد دے .

﴿سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ ﴾[111]

ترجمه : يعنې مسلمان ته كنځل كول لويه د گناه خبره ده ، او د مسلمان سره جنگ كول د كفر يو څيز دے .

د ډيرو سړو او زنانو كنځلې كول عادت دے او ځنې خلق دا لوئے كمال گنړي حالانكه دا جهالت او د جهالت خبره ده . په ديكښي سخته گناه هم ده او د دي په وجه په خپل مينځ كښي تعلقات هم خرابيږي او په كنځلو بدو ردو وئيلو سره د دی پلار ته كنځل اوكړی بيا اولني كس د پلار سره نيكي هم يادوي ، دغه رنگه د خپل پلار مور د كنځلو كولو ذريعه هم جوړه شي .

نبى عليه الصلاة والسلام فرمائي : د غټو لويو گناهونو نه يو دا هم ده ، چې يو كس خپل مور او پلار ته كنځل اوكړي ، صحابه كرام رضوان الله عليهم أجمعين عرض اوكړو ، يا رسول اللهﷺآيا يو كس به خپل مور پلار ته هم كنځل كوي؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل : آو د چا پلار ته كنځل كول هغه به د دي پلار ته كنځل اوكړي او د چا مور ته كنځل كول نو هغه به د دي مور ته كنځل اوكړي .

---

110[رواه مسلم كتاب البر والصلة باب النهي عن السباب] .

111/[رواه البخاري كتاب الأدب ، باب النهى من السباب جلد/٢ صفحه/٨٩٣] .

حاصل دا شو چي کله مسلمان خپل مينځ کښي بد رد وئيل پرېږدي نو د دوئي ورور ولي په ځائے وي او اتفاق به ئي وي او چي بد رد کنځل وغيره وي نو په خپله به بے اتفاقي مينځ ته کيږي الله رب العزت دي مسلمانان د يو بل د بي عزتئ او پوچ وئيلو نه محفوظ اوساتي .
نن سبا د مسلمان د بے اتفاقئ وجه هم دا ده چي مسلمان په مسلمان پسي بد رد وئيل کنځل کول شروع کړي دي نو د دي وجه نه د دوئي په زړونو کښي نفرت او دوشمني وی د الله دا نفرتونه په خوشحالو بدل کړی آمين .

## اوچت اخلاق د اتفاق □بب دے

الله سبحانه وتعالى انسان په اوچتو أوصافو پيدا کړے دے که چري مونږه أخلاق عاليه يعني نبويه خپل کړو نو په دنيا او آخرت دواړو کښي به کامياب شو . په دغه اوچتو أخلاقو کښي به د ټولو نه ړومبے د اتفاق او إتحاد فائدي او فضائل ذکر کيږي .

## اتـــفاق او اتـــحاد

په اتفاق او إتحاد کښي قوت دے ، برکت دے او په بے اتفاقئ کښي سراسر نقصان او خساره ده . د انګريزانو اصول دي "ډيوائډ اينډرول" ﴿حَرِّبْ تَسُدْ﴾ *لڑاواوحکومت کروں* ، تقسمول کوئ او حکومت کوئ . د دي فارمولي لاندي انګريزانو په هندوستان سل/۱۰۰ کاله حکومت کړے دے . نن سبا عالم اسلام د بے اتفاقئ ښکار شوے دے ، کاش چي مسلمانانو غور کولے ، او خپلو کښي ئي اتفاق راوستلے نو کفارو ته به د سازشونو موقعه نه ميلاويدله . د اتفاق او اتحاد بر قرار ساتلو متعلق د الله تعالى ارشاد دے.

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَ صَابِرُوْا وَ رَابِطُوْا١ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ۠﴿۲۰۰﴾﴾ [112]

ترجمه : اے ايمان والو ! صبر کوئ او وينا د صبر کوئ او تياري کوئ د جهاد ، او ويريږئ د الله تعالى نه ، د پاره د دي چي تاسو کامياب شئ .

﴿اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ۠﴿۱۰﴾﴾ [113]

---

[112]/[سورة العمرآن/۲۰۰]

ترجمه : يقينًا مومنان ورنړه دي نو روغه كوئ پّه مينځ د ورنړو ستاسو كښي او ويريږئ د الله نه د پاره د دي چي په تاسو رحم اوكړے شي .
﴿يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّ اُنْثٰى وَ جَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَآىِٕلَ لِتَعَارَفُوْا١ؕ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ١ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ۝۱۳﴾([114])]
ترجمه : اے خلقو ! يقينًا مونږه پيدا كړي دي تاسو لره ، د يو نارينه او يوے زنانه نه ، او گرځولي دي مونږه تاسو لره خاندانونه ، او قبيلي ، د دي د پاره چي يو بل اوپيژنئ يقينًا ډير عزتمند ستاسو نه ، په نزد د الله تعالى ډير تقوى دار ستاسو دے يقينًا الله پوهه په هر څه خبردار دے .

د حضور اكرمﷺ ارشاد مبارك دے﴿ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِﷺ اَلْمُؤْمِنُوْنَ كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ اِنِ اشْتَكٰى عَيْنُهُ اِشْتَكٰى كُلُّه وَاِنِ اشْتَكٰى رَأْسُهُ اِشْتَكٰى كُلُّهُ﴾ ([115])

ترجمه : نبى كريمﷺاوفرمائيل ! چي ټول مسلمانان په شان د يو بنده دي ، كه چرې د ده په سترگو درد وي نو ټول بدن بے قراره وي او كه چرته د ده په سر كښي شكايت وي نو ټول بدن بے آرامه وي .

او نبى عليه السلام اوفرمائيل : ﴿اَلْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضهُ بَعْضًا ثُمَّ شَبَّكَ بَيْنَ اَصَابِعِهِ ﴾([116])

ترجمه : مؤمن د مؤمن د پاره د يو مكان پشان دے چي د هغي د يوي خښتي نه بلي خښتي ته قوت او مضبوطي حاصليږى . بيا نبى عليه السلام د يو لاس گوتي د بل لاس گوتو كښي وركړى او وي فرمائيل چي دغه شان بے اتفاقي ، بے بركتي .

يو ځل نبى عليه الصلاة والسلام ته يو څو صحابو رضى الله عنهم عرض اوكړو چي مونږه خوارك كوؤ مگر زمونږه خيټه نه مړيږي. حضورﷺاوفرمائيل تاسو به خوراک جدا جدا كوئ؟ هغوئ عرض اوكړو چي آو نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل چي يو ځائے كينئ او د الله تعالى نوم اخلئ او خوراک كوئ پديكښي بركت هم وي او مړيږئ به هم ، بيا

[113]/[سورة الحجرات/١٠]
[114]/[الحجرات/١٣
[115]/الجمعبينالصحيحينالبخاريومسلم(1/ 309)
[116]/صحيحالبخاري(5/ 2242)

ئي اوفرمائيل چي د الله سبحانه وتعالى لاس په جماعت باندي دے . كوم بنده چي (أهل اسلام) نه جدا شو هغه دوزخ ته لاړو . نبی علیه السلام ته حكم اوشو ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾ او د دوئې سره مشوره كوه . د مشوري أهميت د دينه معلوميږي . د دي وجه نه چي په مشوري كولو سره اتفاق او محبت پيدا كيږي . الله جلَّ جلاله د صحابه كرامو رضی الله عنهم تعريف كوي او فرمائي ﴿وَأَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ﴾([117]) او كار د دوئې په مشوري سره وي په مينځ خپل كښي .

يعنې په دي خلقو كښي څه بدي او شرارت نشته ، بلكه په دوئې كښي اتفاق او محبت دے ، په يو حديث كښي په اتفاق ډير زور وركړے دے نبی عليه السلام فرمائي : ﴿ لَا تَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى تُؤْمِنُوْا ، وَلَنْ تُؤْمِنُوا حَتّٰى تَحَابُّوْا﴾([118])

ترجمه : تاسو به جنت ته لاړ نه شئ تر هغه پوري چي تاسو ايمان رانه وړئ او هغې پوري درته مؤمن نشي وئيلے كيدے . چي په خپل مينځ كښي محبت اونه ساتئ د الله رب العزت ارشاد ﴿وَارْكَعُوْا مَعَ الرَّاكِعِيْنَ﴾ او ركوع كوئ د ركوع كونكو سره ، يعنې خپلو كښي يو ځائے اوسيږئ نو د دي وجه نه خو مونږه وايو .

د ګبين خواږه به هير شي درنه ګرانه
كه امَّت مسلمه خپلو كښي يو شو

---

117/ [الشورى: 42]

118/إرواءالغليللمحمدالألباني(3/ 241)

## ا□لام او اجتماعيت

الله سبحانه وتعالي اسلام د مسلمانانو د پاره يو دستور حيات گرځولے دے . اسلام هميشه مسلمانان يو ځائے کړي دي او د دننه ئي اجتماعيت پيدا کړے دے . مثال په طور وي فرمائيل چي مونځ جماعت سره ادا کوئ د دينه به د يوي محله يا د يو کلي خلق يو ځائے وي او خپلو کښي به ئي محبت زياتيږي د يو بل غم او خوشحالئ کښي به شريک وي د يو بل نه به د دين او علم په زده کولو کښي مدد ميلاويږي .

بيا ئي د جمعي د مونځ حکم اوکړو د دي د پاره چي د يو ښار خلق په خپل مينځ کښي تعلق پيدا کړي . د يو بل د مسئلو نه به واقف وي ، دغه شان په کال کښي ئي د دوؤ/٢ اخترونو د أدا کولو حکم کړے دے . د دي د پاره چي د لري او نزدي علاقو خلق په يو ځائے کښي جمع کيږي . چي د دينه د مسلمانانو د شان او شوکت اتحاد او اتفاق اظهار کيږي ، دغه شان د حج حکم ورکړے شو د دي د پاره چي د ټولي دنيا مسلمانان جمع شي ، او د مسلمانانو د شان او شوکت اتحاد او إتفاق اظهار اوشي ، د حج حکم ئي اوکړو د دي د پاره چي د ټولي دنيا مسلمانان يو ځائے جمع شي ، او د الله تعالى د عظمت (لوئ والي) او وحدت (يو والي) اظهار اوکړي او خپل عبديت او بندگئ ښکاره کړي ، خپلو کښي دي يو ځائے شي چي د دين تبليغ او دعوت په ټوله دنيا کښي خور کړي .

دغه شان حکم دے چي د خپل ورور مسلمان پوښتنه کوئ ، که وفات شي نو جنازه کښي شرکت کوئ تر دي پوري چي د غير مسلمو سره هم خه سلوك کوئ پّه دوئ باندي ظلم مه کوئ د هغوئ حقوق ادا کوئ ، په يو حديث کښي ارشاد دے نبی عليه الصلاة والسلام فرمائي " د الله رب العزت په نزد هغه بنده ډير بهتر دے چي په خپلو دوستانو أحبابو کښي ډير ښه وي . او په گاونډيانوکښي هغه بنده ډير ښه دے چي د گاونډيانو سره ښه اخلاق ساتي يعني خه سلوك ورسره کوي .

## □ـــکايــت

د يو بادشاه قصه ده ځني وائي چي د أکبر بادشاه ده، چي کله هغه ته يقين اوشو چي زما د مرگ ورځي نزدي دي نو هغه خپل ټول وارثان راجمع کړل او تارونه ئي راوغښتل، بيا ئي يو يو کس لره دوه دوه تارونه ورکړل چي دا اوشلوئ نو ټولو خپل خپل تارونه اوشلول، د دينه پس هغه

د ډېرو تارونو يوه رسئ جوړه کړه او يو يو لره به ئې ورکوله چې اوس دا اوشلوئ نو هيڅ چا هم نه شوه شلولے. د دينه پس بادشاه اوئيل چې اوګورئ په إتحاد کښې څومره قوّت دے چې کله تارونه جدا جدا وو نو ټولو اوشلول ليکن چې کله يو ځائے شول او يوه مضبوطه رسئ ترينه جوړه شوه نو چا هم اونه شلوله. دغه رنګه که چرې تاسو متفق او متحد اوسيږئ نو څوک به هم تاسو کمزوري کولے نه شي، او که چرته تاسو متفرق او جدا جدا شوئ نو ستاسو قوّت به کمزورے شي لهذا يو يو به شئ او ختم به شئ ''پھر پچھتائے کیا ہوتا جب چڑیاں چگ گئی کھیت'' نو لهذا د وحدت او يو والي نه بغير په دنيا کښې زندګي ګرانه او مشکله ده په ځنګل کښې چې د زمرو او شرمخانو اتفاق دے نو په ټول ځنګل بادشاهي کوي اګر چې پّه ځنګل کښې د زمرو او شرمخانو نه غټ غټ ځناور دي، ليکن چې اتفاق ئې نيشته نو اکثر پکښې د زمرو خوراک شي لکه چې په يو حديث کښې راځي کومه ګډه زمرے ماتوي ﴿اَلنَّاحِيَةُ الْقَاصِيَةُ اَلشَّاذَةُ﴾ يو طرف ته شوي د نورو ګډو نه، جدا شوي د نورو ګډو نه ، ځانله شوي د نورو ګډو نه .

که دغه ګډي بيزي په يو ځائے وي نو هغوئ پرې داسې ډېر نشي زړور کيدے دغه رنګه مسلمان هم دے چې کله د دوئ په خپل مينځ کښې اتفاق او يو والے وي نو هيڅ کله د اغيارو ښکار کيدلے نشي، نن سبا دور کښې د غم خبره دا ده چې مسلمان په هر څيز کښې ځّان اغيارو ته محتاج کړے دے که په تعليمی معيار باندي وائې که په تجارتي معيار وائې که زراعاتي معيار ، او که پّه صنعت او پيشه باندی وائې په هر څه کښې مسلمان د کافرو غلام دے. او زه وايم چې د غلام هر څه د مالك وي نو که مسلمان هر څومره ځان ته ځان وائي خو هر څه ئې د يهودو او نصاراوو او هنودو دي .

دا کوم قانون دے چې پّه مسلمان باندی دے دا پابندی وي چې ته به غنم نه کري، ته به تيل نه اوباسي، ته به خپله بجلي د کوئلي نه نه جوړوي، د دی وجه نه خو د سعودي عرب ټولي د غنمو مشينرئ زنګ وهلي دي او خرابې شوي يو کال سعودي عرب خپل غنم کرلي وو چې امريکي ته پته اولګيده نو دا هرڅه ئې پرې بند کړل چې تاسو به د دينه بعد غنم نه کرئ او دا خبره بالمشاهده هم معلوم شوه چې يو څو ورځې

مخکښي ټرمپ په اخباري بیان کښي وئیلي وو " چي سعودي عرب زما نه بغیر یوه هفته هم نشي چلیدے " ولې به داسې نه وائي؟ چي مسلمان دي حد ته اورسیدلو چي د کافرو په لاس کښي لاس او په غیږ کښي غیږ ورکړو . وَاِلَى اللهِ الْمُشْتَكٰي .

الله په مسلمانانو کښي دا حس ژوندے کړه، یا الله د مسلمانانو پوهه پیدا کړه ، یا الله د مسلمانانو بادشاهانو په زړونو کښي درد د خپل دین پیدا کړه. یا الله ټول مسلمانه نړئ یو موټے کړه .

اے زما ! خپله ربه د مسلمان بچے بچے د خپل دین داعي جوړ کړه ، اے ربه ذوالجلاله د موجوده مسلمان نسل حفاظت په خپله ذمه واخله الله بل طرف ته روان دی حیاء غیرت ، عزت شرافت مرّوت او دین ترینه روان دے. الله کافرانو ته د اسلام نه مانع ګرځیدلے دے خپله لاره ئې پریښودي ده ، د دي وجه نه خو مونږه وایو .

## اشعار سنه

مسلمانه ځان بيدار  کړه ديــن دپاره
او پيــدا کړے ئې الله د څـــه د پاره؟
ته خو رب ئې موجود کړے عبادت له
ولې پريښــودلـه تا د رســول لاره
تش خوراک او څکاک کوي خو ټول په ټوله
ته  شوي ولې  بے وفــا د بل د پـاره
بس کــه پرېږده محبــت د دنيــا کی څه
الله سپے له ورکــوي رزق بے سياره
ته خالق ئې پيدا کړے معزَّز وي
ولې څه شوه هغــه ستـــا د بدبه لاړه
چي کافر به متأثر وو ستا د دين نه
ته شوي ځله وروران د هغوئ په لاره
پرېږده دعــوی د مينـــی او محبت نور
قســـم تا کړله د دين خونه ويجاړه
اے فقيره ! پرېږده وه ډيري خبــــري
که ته سم شوي شي به تا ته صحيح لاره

چي کله مسلمانان په خپل دين باندی ثابت قدم وي نو کافراناوأغيار ترينه هم په ويره او لړزان وي هغوئ ته دا پته ده چي زمونږه کار اوس نه کيږي، او چي کله مسلمان په خپل دين مضبوط نه وي نو کافر ورباندي ډاډه راځي، او کافرو ته هم دا پته وي چي دا په خپل دين کښي مضبوط نه دے نو زمونږه سره به څه وفاء اوکړي. نو هغوئ ئې هم د ټشو پيپر پشان استعمالوي .

صرف خپل کار پري کوی او چي خبره د هغوئ نه مني نو وژني ئې او زيات ئې مړ کړي هم دي لکه د روس يو صدر ئې د بچو سره اوړاؤ کړے وو .

دغه رنګه بد نامول هم د يهود عمل دے په تيرو کلونو کښي د برطانيه صدر کلينټن ئې په ښځه بد نام کړو او په ټوله نړئ ئې په شرمونو اوشرمولو، اوس هم چي د يهودو خبره او حکم نه مني نو اول خو ئې قتل کوي که دغه نه وي نو داسي په ويره او دباؤ کښي ساتي چي هډو نوم ئې ختم شي لکه نن سباء په ملت مسلمه کښي مسئله د جهاد شوه دا څوک په ډاکه نشي کولے . بلکه دا ظالمان د اسلام سره د کولاؤ دوشمنئ اظهار هم کوي او دوئ په اسلامي عقيدو او په شريعت محمديهﷺ باندي حمله کوي او پّه رحمت عالمﷺ صحابه کرام او د اسلام په شعائرؤ پسي مذاق نه هم پرهيز نه کوي .

## د ا□تشراق محرِّكات

**١ـ صليبي محرّك :**

دا ظالمان د مذهبي تعصّب او ديني جوش او جذبي په بناء استشراق د اسلام خلاف يو د اسلحي په طور باندي استعمالوي او د نصرانيت د غلبي د پاره كولاۇ دے په دي لاندي ليكلے شوي هدفونو باندي زيات زور وركوي . اسلام د موجوده يهوديت او نصرانيت نه مأخوذ دے .

يعني اسلام آخري او آفاقي مذهب نه دے بلكه د مخكښنو مذهبنو نقل دے (نعوذ بالله)

١.١ـ په رسالت كښي شک پيدا كول :

مستشرقين د حضورﷺ په رسالت كښي شكونه او شبهات پيدا كوي او دا وائې چي محمدﷺ يو كامياب مفكّر او قائد وو مګر د دي صحيح پيغبر كيدل يقيني نه دي .

١.٢ ـ په قرآن مجيد كښي شكونه پيدا كول .

په دي ضمن كښي دوئي عمومًا دوئ د دي ثابتولو د پاره زور لګوي چي قرآن پاک د محمدﷺ تصنيف دے څه آسماني كتاب نه دے .

١.۴ـ په حديث كښي شک پيدا كول .

د مستشرقين لويه نشانه حديث نبويﷺ دي په دي باره كښي د دوئ سره يو څو اعتراضات دي چي د دي جوابونه د اسلام علماء كړي دي .

١.۵ ـ ضعيف او من ګړت روايتونه خورول

مستشرقين يو طرف ته مستند مأخذونه نشانه جوړول او دويم طرف ته ضعيف او من ګړت روايتونه په خپلو تحقيقاتو كښي د دلائلو په طور باندي استعمالول او د دى اشاعت كول .

١.۶ـ په فقه اسلامي باندي حملي كول .

په فقه اسلامي كښي نقصان رواستل او دا بے فائدي څيز ګرځول .

١.٧ ـ تنحير : (دعقيدي د تثليث اشاعت كول) د مستشرقين اكثريت عيسايان دي او ټوله دنيا عيسائي جوړول د مستشرقين آخري هدف دے، د دى وجه نه دوئ د عقيدي د تثليث د ثابتولو كوشش كوي.

**٢ـ □يا□ى او ا□تعمارى محرّك**

د أكثر مستشرقين كوششونه محرك سياسي او استعماري دمى د دوئ لوئے تعداد د استعماري طاقتونو د پاره كار كوي د دوئ هدفونه دا دي .

٢.١ ـ د اسلامي عادات او معاشرت مطالعه كول

مستشرقين د اسلامي معاشري تهذيب ثقافت أدباو د اقدار با قاعده تعليم حاصلوى د دي د پاره چي ده زميني حقائق مطابق د خپلو حكومتونو رهمنائي اوكړي .

٢.٢ ... د اسلامي ملكونو ژبي يادول .

مستشرقين د اسلامي ملكونو ژبي يادوي د دي د پاره چي په سياست، تجارت او د جاسوسئ د پاره ئې استعمال كړي .

٢.٣ ... په عربئ ژبه باندى نمبر :

مستشرقين مسلمانانو لره د دوئ د مذهب د مأخذونو د لري كولو او جدا كولو د پاره د عربئ ژبي نه د دوئ رشته ختمه كړي. او دوئ د عربئ په فصاحت باندى اعتراضات اوكړي. او په ديكښي يورپى الفاظ ورداخل كړي او دعربئ أصلى شكل ګډوډولو او ختمولو كوشش اوكړي .

٢.۴... په عربي دنيا كښي قديمي پريښودلي شوي ژبې خورول :

په عرب دنيا كښي پخوانئ پريښودلې شوي ژبې ژوندئ كول د دي د پاره چي د عربو پيژندل ختم شي .

٢.۵ ... د غير مسلمو ژبو او بازاري لهجو حوصله أفزائي كول :

په هندوستان او بنګله ديش كښي د مسلمانانو ژبه اردو او د بنګله ديش په مقابله كښي هندى ژبې لره زور وركول او كوشش كول. په پاكستان كښي د بهارتي ميډيا په ذريعه سوقيانه ژبي لره رائج كول .

٢.۶ ... په عالم اسلام كښي د يورپى ژبو اشاعت كول :

مستشرقين په عالم اسلام كښي يورپى ژبې عام كوي په مراكش كښي هسپاپوري په الجزائر كښي فرانيسى په ليبيا كښي اكالوي او د پاک هند سره په اكثر اسلامي دنيا كښي انګريزي ژبه رائج كوي چي د دينه د عالم اسلام مقامي ژبې سخت په خطره كښي دى .

٢.٧ ... د مسلم قبائل ملكونو حكومتونو او د طبقاتو په درميان كښي د نفرت ورتيزول مستشرقين مغربي تهذيب ، او معاشرت دومره روښانه پيش كوى چي عام مسلمانان د احساس كمترئ ښكار شي. دا په خپله معاشره باندى د حيواني معاشري خيال اوكړى او پدي خبره ځان پوهه

كړي چي انسانان صرف په يورپ کښي موندلے شي ، مستشرقين دا ذهن جوړوي او مسلمانانو لره ترغيب ورکوی چي د دوئ مذهبي زندگي او دين داري پريږدي او د مغرب پيروی اوکړي . او د فرينگيانو په ړوند نقل کولو کښي خپل عزت اوگڼړی .

٢.٨ ... مسلمانان په طبعي طور باندي کمزوري او جاهلان گرځول او په احساس کمترئ کښي مبتلا کول .

أکثر مستشرقين د مسلمانانو سره د همدردئ طريقه اختياروي او په دوئ کښي جان بوج نا اميدي خوره شي . دوئ طبعًا کمزوري او جاهل ځان گڼړي . دا سبق د مسلمانانو اولولي نو عام مسلمانان دا خيال کوي چي زمونږه په دنيا کښي هيڅ حيثيت نشته ، او مسلمان بحيثيت يو قوم دے چي قابل د اصلاح نه دے دا احساس کمترى به دوئ بے کاره او معطّل کړي .

٢.٩ ... د جهاد غلط تأويلات کول :

مغرب ته هميشه د پاره د مسلمانانو د جهادي جذبې نه خوف دے .

د دی وجه نه مستشرقين مسلمانانو لره د جهاد د جدا کولو د پاره قسم قسم تأويلات ښائي .

## ٣. دفاعي محرّك :

د مستشرقين د کوششونو يو محرك د خپلي حلقي دفاع ده. دوئ د اسلام د متنفر کولو د پاره دا سبق هم ښائي چي اسلام طرف ته چي څوک مينه کونکئ وی مغربي ځوانان منعه کول غواړي . او دا د دی دپاره اگر چي په خپل دين باندي مضبوط نه وی خو چي کم از کم د اسلام نه خو جدا وي .

**<u>۴ـ تجارتي او اقتصادي محرّك :</u>**

د مستشرقين د جدو جهد نه روستو تجارتي مقصدونه هم په كار راوستل مغربي ناشرين د تجارتي نفع پيش نظر په مشرقي موضوعاتو باندي تصنيفي او تحقيقي كار كول په پوره دنيا كښي خپل كتابونه خرڅول او دغه رنګه ډير زيات دولت حاصلول .

**<u>۵ـ علمي محرّك :</u>**

بعض مستشرقين د علمي ذوق نه د مجبوره كيدلو سره په مشرقي موضوعاتو باندي تحقيقات كوي ، د دوئ د تصانيف تحقيقي معيار د عام مستشرقين نه بهتر دے . د دي تصنيفاتو فائدي په خپل ځائے باندي مګر د دينه په مسلمانانو كښي د مستشرقين ګمراه كونكي كتابونو لره د مشهور كولو لار هم همواريږي .

## د مستشرقين دوه/۲ أهم ترين هدفونه

۱ـ د اسلامي عقائدو او شريعت خاتمه كول .

د دوئ د كوششونو اول أهم ترين مقصد اسلامي عقيدي او شريعت اسلاميه ختمول .

۲ ـ مغرب د اسلام نه جدا ساتل :

د دوئ دويم أهم ترين مقصد مغربي دنيا د اسلام نه جدا ساتل ، د دي ټولو خبرو نچوړ او حاصل دا شو چي يهود او نصاري د خپل منسوخ دين د پاره ځومره كوششونه او محنتونه كوي خپل ټول طاقتونه د هغي د نشر اشاعت د پاره صرف كوي. كه د مال طاقت دے كه بدني طاقت دے ، كه فكري طاقت دے او ټول په يو صف كښي ولاړ دي او ټولو يو بل لره د رور ولئ او بهائي چاره لاس وركړي دي .

افسوس صد افسوس چي مسلمان د مسلمان نه ځومره جدا دے او ولي داسي اوشو دا خومونږه په خپله خپل دوشمن په خپله حربه كښي كامياب كړو، او څه شو هغه مسلمان چي كافران به ترينه د مياشتو په مسافت باندي په خوف كښي وو او نن ئي په سرونو لوبي كوي . دا أصل كښي د مسلمان وحدت ملّي ختم شوے دے. نن كه مسلمان بحيثيت مسلمان جوړ شو او يو والي ئي اختيار كړو نو ته ګوره چي ټوله دنيا به د دوئ په

پښو کښې پرته وي ، او په ټوله دنيا باندي به اسلامي بيرغ رپانده وي کله کله مونږه الله رب العزت ته فريادکوؤ .

## فـــــــــــريـــــــــــــاد

اے ربه امت مسلمه خپلو کښي ګران کښي
او کافـــر تـرينه په ويـــره اوپه لـــړزان کښئ
چي مســـلم د مسلمـــان سـه په غاړئ شي
ټول أغيــار به په ژړا شي په ميــدان کښي
نو يهــود او نصـــاري به پريشـــــــان شي
چي سوچ فکر مسلمان اوکړي قــرآن کښي
او د دنـــيا ټول کافــران بـــه بے آرام شي
که مسلمان د مسلمان نه ځان قربان کړی
مســلمان د مسلمان د ســر دوشــمن دے
ربه پوهه ورله ورکـړی په قــــرآن کښي
نن ذليـــله او رســـوا په کردنــــړئ شــــو
الله نور مه غورځوه مونږه امـــتحان کښي
اے رحـــمانه ته ئې کـړي لکه يو جسـم
چي احساس ورسه پيدا شي په جــهان کښي
د فقير په زړګـــي يو ارمــــان وريــــږي
چي به څنګ شي مسلمان کلك په ايمان کښي

تر څو چي مسلمان په مسلمان باندی د زړه نه خفه شوے نه وي او د مسلمان غم خفګان ورته خپل غم او خفګان نه وي ښکاره شوے نو ا هيڅ کله د کاميابئ او نجات خوبونه نشي ليدلے "إين خيال است جنون است" دا تش ليونتوب دے نو راځئ چي ټول خفګانونه او اختلافات شاته او غورځوؤ ، او يو بل لره د ورور ولئ لاس ورکړو ان شاء الله کاميابي به زمونږ پښو لره راځي الله دی ټولو مسلمانانو لره په زړونو کښي دا خبره اوغورځوي چي يو شي آمين .

## قوم پر□تي

الله سبحانه وتعالى اسلام يو عالمګير مذهب راليږلئ دے ، اسلام د قوم پرستئ نه منع فرمائيلي ده نبی عليه السلام فرمائی ﴿ لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلٰى أَعْجَمِيٍّ ﴾ نشته غور والے د عربي په عجمي باندی او نه د تور په سپين مګر په تقوي باندی غوره والے دے ، دغه رنګه د خپل اجتماعي آزادئ اظهار په قومي حيثيت سره اوکړئ .

نو کله قومونه په نسلي بنياد باندی جوړوي او کله په وطني بنياد باندي ، د دي وجه نه د قوم پرستئ دوه شکلونه جوړيږي .

١- وطني قوم پرستي : (civilcrounded (natlonal 15m)

په دي نظريه کښي خلق د يو رياست د شهري کيدو د حيثيت نه يو قوم شمارلے شي د دي مقصد د خپل قوم د پاره د زيات نه زياته آزادي قوت او وسائل جمع کول وي .

١.٢ ـ نسلي قوم پرستي :

په دي نظريه کښي خلق د يو نسل نه د تعلق په بناء باندي يو قوم منلے شي ، په تيره شوي صدئ کښي هټلر د نازي ازم نعره اولګوله .

دا د قوم پرستئ علمبردار وو ، مسولينی د فاشزم نعره اولګوله ، دا د وطن پرستئ علمبردار وو. خو اسلام د يو والي او ورور ولئ علمبردار مذهب دے د قوم پرستئ او وطن پرستئ نعره سره د اسلام هيڅ تعلق نشته ولې؟ ځکه د دوئ مقصد دنيا داري مفاد پرستي او اتباع د نفس ده . دا نظام آزادي مساوات عدل او د ترقئ چي کوم معيار پيش کوي او د دی د پاره چي کوم لار ښائي د دي اول قدم انسان د مذهب نه اړوي نو مونږه

لره پکار دي چي قوم پرستي او وطن پرستي پريږدو او اسلام پرستئ لره غاړه ورکړو دا د  ورور ولئ او بهائي چاره او يو والي مذهب دے يهود نه غواړي چي مونږه يو کړي کله د پنجابي او پښتون په نوم او کله د فارسبان او پښتون په نوم او کله د اينکو په نوم مونږه جنګوي . نا مونږه به هيڅ کله د يهودو په چال کښی ځان نه راولو او مونږه به د ﴿كَجَسَدٍ وَّاحِدٍ﴾ پشان کردار ادا کوؤ .

**اللهم احفظنا من شرور اليهود والنصاري آمين.**

## د عالم ا□لام خلاف د ا□تعماري كوششونو تمهيدي دوراو د مسلمانانو اختلافات

اے مسلمانانو ورنړو د يورپی استعمار تمهيدي دور خلافت راشده نه واخله تر صليبي جنګونو د اختتام پوري وو ، چي په ديکښي د اسلام دوشمن طاقتونه د لاندي ليکلې شوی څلور هدفونو د پاره په نظر راځی .
١ـ د خلافت خاتمه ٢ـ په مقامات مقدسو باندي قبضه ٣ـ په عالم اسلام باندي قبضه ۴ـ د اسلام او مسلمانانو خاتمه .
١ـ د اسلامي خلافت خاتمه :
د خلافت راشده د دور نه واخله تر د خلافت عباسيه پوری کفری طاقتونه د خلافت اسلاميه د ختمولو د پاره کوششونه کوي . ۶١۶هـ کښي چنګيز خان په عالم اسلام باندي حمله اوکړه، او د دي نوسي هلاکو خان په محرم ۶۵۶هـ کښي بغداد تس نس کړو او عباسی خلافت ئي ختم کړو، او عيسايانو د دوئي پوره حمايت اوکړو .
٢ـ په مقامات مقدسه باندي قبضه :
پّه مقدس مقاماتو باندي د قبضي د پاره په عالم اسلام باندي صليبی جنګونه مسلط شولو چې په ديکښي بيت المقدس چنړ شو او ډير مسلمانان شهيدان شو .
٣ـ په عالم اسلام باندي قبضه :
د يورپ مقصد صرف په بيت المقدس باندي قبضه کول نه دي بلکه د عالم اسلام ټوله زمکه او وسائل لاس ته راوړل د دي د پاره چي په دي بار بار حملي اوکړي .
۴ـ د اسلام او مسلمانانو خاتمه کول :
د صيلبی جنګونو او تاتاريانو د يورش په دوران کښي عيسايانو د دوئي سره إتحاد کولو نه روستو د اسلام او مسلمانانو د خاتمي او د خپل مذهب د عالمګير غلبي ولولي د پاره اوکړو مقصد د خبري مي دا دے چي کافران د يو بل سره إتحادونه په دي بنياد کوي چي اسلام او مسلمانان به په کومه طريقه ختم کړو ، او د اسلام د شعائرو به څنګه هتک او بې عزتي اوکړو. خو که بل طرف ته اوګورو نو مسلمانان په خپلو کښي مشت او ګريبان دي، دا احساس ورسره هډو شته نه چي زما هم څه

حيثيت يّه معاشره کښي شته، په حقيقت کښي ازمرے دے خو د ځان نه ئي
ګډه جوړه کړي ده.
قصه داسي ده چي يو ځل يو کس د ازمري بچے نيولے وو او د ګډو بيزو سره ئي ژوند تيرولو يوه ورځ ازمري په ګډو بيزو حمله اوکړه چي ګوري د ازمري بچے ئي هم اوليدو چي د ګډو بيزو سره منډي وهي نو دا زمرے حيران شو چي د زمرے بچے او د ګډو بيزو سره دے . په څه طريقه ئي راوبللو او ورته اووئيل چي ته خو زمرے ئي نو د ګډو بيزو سره څه کوي؟ نو د زمري بچي ورته اووئيل نا زه ګډه يم، زمري د اوبو ډن ته بوتلو او ورته اووئيل خپل ځان ته اوګوره چي د زمري بچي اوکتل نو حيران شو چي زه خو زمرے يم نو دے هم د زمري په شان په دغه ګډو او بيزو حمله اوکړه هغوئ ټولو منډي کړي نو زمري ته پته اولګيده چي واقعي زه زمرے يم دغه رنګه مسلمان هم دے کاش چي مسلمان خپل ځان پيژندلے وي نو زما عاجزانه درخواست مسلمانانو ورنړو ته دا دے چي يو موټے شئ او دا خفګانونه او کيني او بغضونه او نفرتونه يّه محبت خوشحالئ او خندا باندي بدل کړئ ته ګوره چي څنګه به تاسو ته کاميابي په لاس باندي راځي الله رب العزت ته مسلمانان خپل مينځ کښي يو کړي ګني ختميږي آمين .
د مسلم قبائل،ملکونو، حکومتونو، او د طبقاتو په ما بين کښي د نفرت اور تيزيدل

يهود او کافر د عالم اسلام په مختلف طبقاتو ، قومونو او ملکونو په درميان کښي د نفرت خورولو د پاره ميډيا په پريس باندي مصروف عمل دي د دی د پاره چي مسلمانان په خپل مينځ کښي په اختلافات او په خانه جنګئ کښي مبتلاء وي او په سياسي طور باندي کله هم متحد او مضبوط نه شی. او هم په دغه پروګرام کښي أغيار تر ډير حده پوري کامياب دی که مونږه نظر اوکړو نو په ټوله نړئ کښي مسلمانان په خپل مينځ کښي په اختلافاتو کښي مبتلاء دي او دهيڅ چاه احساس نه بيداريږي چي مونږه د چا پروګرام کامیابه وو او څوک پدي خپلو دوشمنو باندی خوشحاله کوؤ، او څوک د ټولو غمونو بے غمه کوؤ نو زه د زړه نه دا آرمان لرمه چي کله به مسلمان بل مسلمان ته غاړه اوځي او کله به دا نفرتونه ختم کړی او کله به ديهودو او نصاری ؤ په زړونو اُور بل کړی، او کله به شيطان او د شيطان اولاد د غم په اُور کښي اوغورځوي . الله

پوهه ئي نصيب کړی په فرقان ؛ ډېر مظلوم دے او د ستم ظلمونو ښکار دے مسلمان .

که دا يو شو ټول کافــر به په لــړزان شي
که په نيغه او حقيقي لاره روان شو مسلمان
مسلمان به مسلمان هله صحيح شي
که ئې ختم کړل نفرتونه په قرآن
دفقير په زړه بس دغه يو آرمان دے
چې ئې وينم په دنيــا کښــې بس يو ځان

نور به څه وايم الله ! خو يو تمنا لرم چې امت مسلمه په خپل مينځ کښې ستا په کتاب راجمع کړه چې د ﴿واعتصموا بحبل الله جميعاً ﴾ مصداق جوړ شي آمين يا رب العالمين .

## د اتفاق ببونه

په قرآن کښې ځائے په ځائے أمور انتظاميه بيانيږي، او د دي د پاره چې مسلمانان منظم وي او د دوئې په مينځ کښې وحدت او اتفاق وي لکه سوره البقرة کښې سورة النساء کښې په سورة الحجرات کښې هم ښائسته آداب بيانيږي چې په هغه سره اتفاق راځي او بے اتفاقي ختميږي .

## دويمه خبره د اتفاق په باره کښې ديثونه

د نبی عليه السلام په ارشاداتو کښې هم بار بار د اتفاق تأکيدونه راځي او د بے اتفاقئ او اختلافاتو نه منع راغلي ده .

۱ـلکه حديث کښې راځي : ﴿ عن ابي هريرة رضی الله عنه قال : قال رسول اللهﷺ: ان الله يرضٰی لکم ثلاثاً، ويکره لکم ثلاثاً، فيرضی لکم أن تعبدوه ولا تشرکوا به شيئاً، وأن تعتصموا بحبل لله جميعاً ولا تفرقوا ويکره لکم قيل وقال وکثرة السؤال، واضاعة المال ﴾[119] .

ترجمه : الله تعالی ستاسو د پاره دری کارونه خوښوي او دری کارونه بد ګڼړي، ستاسو د پاره دا خوښوي چې د الله تعالی بندګي اوکړئ او شرك مه کوئ او د الله په رسئ منګولئ اولګوئ، او بے اتفاقي مه کوئ. او بد ګڼړي ستاسو د پاره قيل او قال (په مجلسونو کښې بے فائدي خبري چې

[119][رواه مسلم باب النهی عن کثرةالمسائل، الأحکام الشرعية للأشبلي جلد۱ص۳۵۰

فلانكي داسي وئيلي او داسي وئيلي شوي) او ډير تپوسونه كول (يعني بے ضرورته سوالونه) او بربادول د مال .
فائده : يعني په اتفاق الله رب العزت خوشحاليږي

۲- او رسول اللهﷺ فرمائي : ﴿ اٰمركم بخمس بالجماعة، والسمع، والطاعة، والهجرة، والجهاد في سبيل الله ﴾ ([120]).

ترجمه : زه تاسو ته د پنځو خبرو حكم كوم . يو جماعت (يعني د امت د اجتماعي شكل او اتفاق برقراره ساتل) دويم اوريدل، دريم تابعداري (يعني د مشرانو او امير خبره اوريدل او تابعدري كوئ) څلورم هجرت، پنځم جهاد فى سبيل الله د الله په لاره كښي جهاد كول .
فائده : يعنى اتفاق د الله تعالى او رسول ﷺحكم دے .

۳-او رسول اللهﷺفرمائي:﴿ البركة في ثلاثة في الجماعة، والثريد، والسحور ﴾ ([121]).

ترجمه : بركت په دريو څيزونو كښي دے. په اتفاق كښي او په ما ته ډوډئ كښي او په چرګ بانګي (پيش مني) كښي .
فائـــده : يعني په يو والي او اتفاق كښي بركت دے .

۴-او رسول الله ﷺ فرمائي : ﴿ المؤمن للمؤمن كالبنيان يشدّ بعضه بعضا ﴾ .

او رسولﷺ فرمائي : ﴿ المؤمنون كرجلٍ واحد إن اشتكي عينه اشتكى كله، وإن اشتكي رأسه إشتكي كله ﴾([122]) .

---

[120] [بخاري ومسلم باب تراحم المؤمنين والترمذى باب شفعة المسلم على المسلم والنسائي] [رواه أحمد والترمذى مشكوة كتاب الامارة] .
[121] [المعجم الكبير للطبراني جلد/۱ ص/۶۳ ،شعب الايمان فصل في فضل الجماعة، الألفقه جلد/۱ص۲۴]

[122] الجمعبينالصحيحينالبخاريومسلم/ (1/ 309)
أنأباهأعطاهغلامافقاللهالنبي {صلىاللهعليهوسلم}
ماهذاقالأعطانيهأبيقالفكلإخوتكأعطاهكماأعطاككقاللاقالفارده
805 - - الثانيعنالشعبيعنالنعمانبنبشيرقالسمعتهيقولسمعترسولالله {صلىاللهعليهوسلم} يقول
وأهوىالنعمانبإصبعيهإلىأذنيهإنالحلالبيّنوإنالحرامبيّنوبينهمامشتبهاتلايعلمهنكثيرٌمنالناسفمناتقىالشبهاتاستبرألدي
نهوعرضهومنوقعفيالشبهاتوقعفيالحرامكالراعيحولالحمىيوشكأنيرتعفيهألاولكلملكحمىألاوإنحمىاللهمحارمهأ
لاوإنفيالجسدمضغة ً إذاصلحتصلحالجسدكلهوإذافسدتفسدالجسدكلهألاوهيالقلب
806 - الثالثعنالشعبيعنالنعمانبنبشيرقالقالرسولالله {صلىاللهعليهوسلم}
مثلالمؤمنينفيتوادهموتراحمهموتعاطفهممثلالجسدإذااشتكىمنهعضوٌتداعىلهسائرالجسدبالسهروالحمىوفيحديثو
كيع

ترجمه : مؤمنان په شان د يو سړي او يو بدن دي كه سترګي ته تكليف وي نو ټول بدن ته تكليف وي، او كه سر ته تكليف وي نو ټول بدن ته تكليف وي .

فائـــده : يعني مؤمنان به يو بل مضبوطوي د يو بل سره به دوستي او ورو ولئ ساتي د يو بل سره به همكاري او تعاون كوي .

او عمر رضى الله عنه په جابيه مقام كښي په يو بيان كښي وئيلي وو .

﴿عليكم بالجماعة وإياكم والفرقة فأن الشيطان مع الواحد وهو من الاثنين أبعد، ومن أراد الآخرة بحوحة الجنة فليلزم الجماعة﴾([123]) .

ترجمه : لازم دي په تاسو اتفاق او ځان اوساتئ د بے اتفاقئ نه ځكه شيطان د يو سره وي د دوؤ نه جدا وي. او څوک چي د جنت په مينځ كښي اوسيدل غواړي نو د جماعت او اتفاق سره دي ځان جخت كړي .

فائــده : يعني اتفاق فرض دے او بے اتفاقي حرامه ده او د بے اتفاقئ سره شيطان وي او د اتفاق نه شيطان لرى وي او څوک چي اتفاق كوي نو الله تعالى به د جنت په مينځ كښي ځائے وركوي .

٧- او رسول اللهﷺفرمائي : ﴿لا تباغضوا، ولا تحاسدوا، ولا تدابروا، وكونوا عباد الله اخوانا، ولا يحل لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاثة أيام﴾([124]) .

٨ ـ او رسول اللهﷺفرمائي : ﴿يفتح أبواب الجنة يوم الاثنين، ويوم الخميس فيغفر لكل عبد لا يشرك شيئا الا رجل كانت بينه وبين اخيه شحناء فيقال انظروا هذين حتى يصطلحا﴾([125]) .

ترجمه : د ګل او پانچ شنبه په ورځ د جنت دروازي برسيره كولے شي (بل روايت كښي راغلي دي چي د ګل او پانچ شنبي په ورځ د خلقو

---

[123]/[ترمذي باب لزوم الجماعة ومسند أحمد جلد/١ ص ٢٦ في مسند عمر بن الخطاب رضى الله عنه وصحيح ابن حبان ذكر الأخبار عما يجب على المرء جلد/١٠ ص ٤٣٧ ، جلد/١٦ ص٢٣٩، ومسند بزاز جلد/١ ص ٢٣٦ ، سنن كبري للنسائي جلد/٨ ص٢٨٤ جلد/٨ ص٢٨٦ أبو يعلى جلدا/١ ص ١٣٠ معرفة السنن والآثار ص ١٧٠]

[124]/[بخاري رقم الحديث ٦٩٦٥ ابو دواؤد فمن هجر أخاه المسلم رقم الحديث ٤٩١٢ ومسند أحمد بن حنبل أنس بن مالك رضى الله عنه رقم ١٢٠٩٤ ]

[125]/[رواه مسلم ، مشكوة باب ما ينهي من التهاجر والتقاطع واتباع العورت]

عملونه الله ته وړاندے کولے شي) هر بنده ته ښنه کولے شي چي شرك ئي نه وي کړے مګر هغه سړي ته چي د هغه او د هغه د رور په مينځ کښي کينه (يعني ورانه او اختلاف) وي پس اوئيلے شي چي دي دواړو ته صبر اوکړئ تر دي چي روغه اوکړي .
فائــده : يعني چي څوک د مسلمان نه بائيکاټ کوي او ورانه ورسره ساتي نو الله تعالى ورته ښنه نه کوي .

٩- او رسول اللهﷺفرمائي : ﴿وفساد ذات البين هي الحالقة﴾[126]
ترجمه : د خپل مينځ بے اتفاقي خرونکي ده .

## دريمه خبره د لانجو او جګړو قبا□ت او نقصانونه

الله او رسولﷺد لانجو او جګړو ډير قباحتونه ذکر کړي دي په دي وجه ډيري لانجي او جګړي او بے ځايه بحثونه او مناظري ښه کار نه دے او دا د کافر او منافق صفت دے لکه الله تعالى د منافق په صفت کښي ذکر کوي ﴿وهو الد الخصام ﴾[127]
دا سخت جګړه کونکے دے، او بل ځائے د مشرك په باره کښي وائي چي ﴿فاذا هو خصيم مبين ﴾[128]نا څاپه دا جګړه کونکے دے ښکاره ، بل ځائے د کفارو او مشرکينو باره کښي وائي ﴿ بل هم قوم خصمون﴾[129]

او رسول اللهﷺ فرمائي : ﴿ ما ضلّ قوم بعد هدي كانوا عليه الا أوتو الجدل ﴾[130]
ترجمه : نه دے ګمراه شوے يو قوم روستو د هدايت نه چي د وئ وي په هغه مګر ورکولے شي جګړي .

---

126/[رواه أبو داؤد والترمذي وقال هذا حديث صحيح، مشكوة]
127[سورةالبقرة/ ]
128[سورة النحل/]
129[سورة الزخرف آيت/٨٥] .
130/[رواه أحمد والترمذي ومشكوة وقرطبي وابن كثير في تفسير سورة الزخرف]

يعني چي کله يو قوم هدايت پريږدي او گمراه شي نو په لانجو او جګړو اخته شي .
فائــده : د دي حديث نه معلومه شوه چي د ډيرو لانجو والا گمراه دي . او رسول الله ﷺ فرمائي : ﴿إن أبغض الرجال إلى الله الألد الخصم﴾[131]ترجمه: بى شکه مبغوض ترين دسړونه ډيرزيات جګړه کونکى دى

ترجمه : دا هم معلومه شوه چي په لانجو کښي په خپله خبره ډير کلکيدل پکار نه دي، ابو سفيان رضى الله عنه تا چا اوئيل چي ته سردار ئې ته په څه ورسيدي نو ابو سفيان رضى الله عنه اوئيل چي زما د چا سره لانجه وي نو د صلح ځائے پکښي پريږدم .او رسول اللهﷺفرمائي : ﴿ ذروا المراء فأن المؤمن لا يماري﴾[132]

لانجي پريږدئ ځکه مؤمن لانجي نه کوي . ﴿ ذروا المراء فأن المماري قد تمّت خسارته﴾ لانجي پريږدئ ځکه څوک چي لانجي کوي هغه پوره تاواني دے . ﴿ذروا المراء فكفاك إثما أن لا تزال مماريا ﴾ لانجي پريږدئ پس پوره ده تا لره دا گناه چي تر څو ته لانجي کونکے ئې (يعني د لانجو والا پوره گنهگار دے) .

﴿ ذروا المراء فأن المراء لا أشفع له يوم القيامة ﴾

لانجي پريږدئ ځکه لانجي کونکې د پاره زه د قيامت په ورځ سفارس نه کوم .

﴿ ذروا المراء فأنا زعيم بثلاث أبيات في الجنة في رياضها و وسطها و أعلاها لم ترك المراء وهو صادق ﴾

ترجمه : لانجي پريږدئ پس زه ذمه وار يم په دري کورونو کښي په ماحول د جنت کښي او په مينځ کښي او په بره طرف کښي د هغه چا د پاره چي لانجي پريږدي او دا رشتنے وي (يعنې پّه حقه وي ) .

---

131/[رواه البخاري عن عائشة رضى الله عنها وابن كثير وقرطبي في تفسير قوله وهو ألدالخصام]
132/[آداب العشرة]

﴿ذروا المراء فأن أول ما نهاني عنه ربي بعد عبادة الأوثان المراء وشرب الخمر ﴾
.
ترجمه : لانجي پريږدئ يقينا اول هغه څه چي منع كړي ما لره رب زما روستو د عبادت د بتانو نه هغه لانجي دي او څكل د شرابو .

﴿ ذروا المراء فأن الشيطان قد يئس أن يعبد ولكنه قد رضى منكم بالتحريش وهو المراء ﴾([133]) .

ترجمه : لانجي پريږدئ يقينا شيطان نا اميده شوے دے ددينه چي د هغه عبادت اوكړے شي ليكن هغه راضي دے ستاسو نه په جګړو كښي .

عبد الله بن عباسرضى الله عنه وائي : ﴿ وكفي بك إثما أن لا تزال مماريا ﴾([134]) .

ترجمه : دا پوره ګناه ده چي ته جګړه كونكے ئي دغه رنګه دا قول د ابو الدرداء رضى الله عنه هم دے .

امام أوزاعيؒفرمائي چي ما د بلال بن سعدرضى الله عنهنه اوريدلي وو ، ﴿ اذا رأيت الرجل لجوما مماريا معجبا فقد تمت خسارته﴾([135]) .

ترجمه : كله چه تايو سوئ اوليدلو لانجوو الاجكړه كونكئ تكبر كونكئ پس يقينًا دا تاوان ئ پوره دئ ـ عمررضى الله عنه فرمائي : ﴿لا يبلغ عبد حقيقة الإيمان حتى يدع المراء وهو محق والكذب في المزاح﴾ [أصول السنة لإبن أبى زمبين ج ا ص ٢٣٣]

ترجمه : نشي رسيدے بنده حقيقت د ايمان ته تر دي چي دا پريږدي لانجو لره او حال دا دے چي دا په حقه وي، دا مضمون په ډيرو رويتونو كښي راځي چي سړے به په حقه وي نو هم به لانجي نه كوى كوي او دروغ په ګپ شپ او خوش طبعي كښي به نه كوي .

---

[133][المعجم الكبير للطبرانى جلد/١ ص ١۶۴ په دي روايت كښي بعض جملي كمزوري دي ]

[134][أخبار مكة للفاكهي جلد/٢ ص /١٢١] .

[135][شعب الايمان جلد/١١ ص ١٧ فصل فى الحلم والتودة والرفق او دا قول خالد بن يزيد نه هم نقل شوے ، مساوى الأخلاق جلد/٢ ص ١٠٣ او د قول عبدة بن أبي ليلى نه هم نقل شوے ، أنيس الفضلاء ص ١٥٧]

إبن مسعود رضی الله عنه فرمائي : ﴿ثلاث من كنّ فيه يجد بهنّ حلاوة الايمان ترك المراء في الحق والكذب فى المزاحة ويعلم ان ما اصابه لم يكن ليخطئه وان ما أخطأه لم يكن ليصيبه﴾[136]

ترجمه : دري خبري دي هغه څوک چي وي پکښي دا دري خبري نو د ايمان خوند به بيا مومي يو جګړي پريښودل په حق کښي (يعني اګر چي په حقه وي) دويم دروغ په خوش طبعئ کښي . دريم دا عقيده ئې وي چي کوم شے ما ته راوسيد دي زه نه خطاء کولم (يعني زما د پاره د الله تعالی د طرف نه مقرر وو) او کوم څه چي زه خطا کړم نو دا ما ته نه شو رسيدے ( يعني زما دپاره چي په تقدير کښي څه مقرر وي هغه به کيږي .

امام شافعيؒ وائي : ﴿المراء في العلم يقسي القلب ،يُورِّث الضغائن﴾

ترجمه : جګړي مناظري په علم کښي زړه سخت کوي او کينه پيدا کوي .

معروفؒ وائي : ﴿ إذا أراد الله بعبد شرّا غلق عنه باب العمل وفتح عليه باب الجدل﴾([137]) .

ترجمه : کله چي اراده اوکړي الله تعالی په يو بنده د شر نو بند کړي د دي نه دراوزي د عمل او بر سيره کړي په ده باندي دروازي د جګړي .

٣ ـخبره دا چي عليرضی الله عنه وائي چي چا د دنيا سره مينه نه کوله نو د دنيا مصيبتونه پري آسان وي .

١ ـ ابن سينا وائي : ﴿ ولن تخلص النفس عن الدّون ما التفتت إلى قيل و قال و جدال ﴾([138])

ترجمه : نفس د کمي نه نه خالي کيږي تر څو چي توجه کوي قيل او قال ته ( چي فلانکي داسي وئيلي دي او داسي وئيلي شوي دي) او جګړو ته (يعني چير چاړ او تا وئيلي او ما وئيلي او جګړي د بے همته او بے کاره خلقو کار دے .

[136]/[وأخرجه عبدالرازق شرح السنة للبغوي جلد/١ ص ٥٢] .
[137]/[ سير إعلام النبلاء ص ٣٤٠ بحواله أنيس الفضلاء ص ١٥٩]
[138]/[سير أعلام النبلاء ج ١٧ ص ٥٣٥ بحواله انيس الفضلاء ] .

## ځلورمه خبره د هغه چا مقام او فضيلت چي هغه د مسلمانانو په مينځ کښي ده اتفاق او روغې کوشش کوي

پّه قرآن او حديث کښي د صلح او روغي أمر شوے دے او د صلح فضائل بيان شوي دي لکه الله تعالى فرمائي : ﴿ لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ اِلَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ اَوْ اِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ١ وَ مَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا﴿۱۱۴﴾﴾ ([139])

ترجمه : أکثر جرگي بے خيره دى، مګر دري قسمه جرګې د خير دي. او ځوک چي دا دري قسمه جرگي د الله تعالى د رضا د پاره اوکړي نو الله تعالى به ورته أجر عظيم ورکړي .

پّه دي دريو قسمه جرگو کښي يوه جرگه د خلقو د صلح او روغې د پاره.

او الله تعالى وائي : ﴿وَ اِنْ طَآىِٕفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا﴾([140])

ترجمه : او که چري دوه ډلې د مؤمنانو نه جنګ کوي نو صلح وکړئ په مينځ د دوئ کښي، او الله تعالى وائي : ﴿اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ﴾([141])

يقينا مومنان رونړه دي روغه اوکړئ په مينځ د رونړو ستاسو کښى .

او الله تعالى وائي : ﴿وَ الصُّلْحُ خَيْرٌ﴾([142]) ترجمه: اوصلح غوره ده

او الله تعالي وائي : ﴿ وَ اَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ﴾([143])

ترجمه : صلح اوکړئ په خپل مينځ کښي .

او رسول اللهﷺفرمائي : ﴿ألا أخبركم بأفضل من درجة الصيام، والصدقة، والصلوة، قال: قلنا بلى، قال: إصلاح ذات البين﴾ ([144])

ترجمه : آيا زه خبر نه درکوم په غوره د مرتبې د روژو او خيرات او مانځه نه، راوي وائې مونږه اوئيل چي ولى نه؟ رسول اللهﷺاوئيل صلح کول د دوه کسانو په مينځ کښي .

---

139/[النساء/۱۱۴] .
140/[□ورة الحجرات آيت/۹] .
141/[سورة الحجرات آيت/۱۰] .
142/[سورة النساء آيت/۱۲۸]٠
143/[سورة الأنفال آيت/۲] .
144/[رواه أبو داؤد والترمذي وقال هذا حديث صحيح مشكوة] .

فائــده : يعني د خلقو په مينځ كښي د روغي كولو او جوړ راوستو ثواب د روژو خيراتونو او مونځونو نه ډير دے .

او رسول الله ﷺفرمائي : ﴿ أبو أيوب أنصاري رضى الله عنه وائي « ألا أدلك على تجارة ؟ قال بلى يا رسولالله ، قال تسعى في إصلاح بين الناس إذا تفاسدوا ، وتقارب بينهم إذا تباعدوا ﴾([145]) .

ترجمه : آيا زه اونه ښايم تا ته يو تجارت؟ هغه اوئيل ولې نه (يعني وي ښايه) رسول الله ﷺ اوئيل چي كوشش د روغي كوئ په مينځ د خلقو كښي، كله چي د دوئ په مينځ كښي فساد (اختلاف) راشي او نزدي والے كوئ په مينځ د دوئ كښي كله چي دوئ د يو بل نه جدا شي .

او رسول الله ﷺفرمائي : چي دري قسمه دروغ جائز دي.يو دا هم چي : ﴿ والكذب ليصلح بين النّاس ﴾([146]) .

دروغ د دي دپاره چي روغه روالي په مينځ د خلقو كښي .

نبى عليه السلام فرمائي د حسن بن علىﷺپه باره كښي ﴿ ويا ابنى هذا سيّد ﴾ زما دا ځوئے سردار او مشر دے. او بيا د دي مشرئ وجه ذكر كوي چي ﴿ ولعلّ الله أن يصلح به بين فئتين عظيمتين ﴾([147]) .

ترجمه:اميد دے چي الله تعالى د ده په وجه روغه راولې په ما بين د دوؤ غټو ډلو كښي . حسن بصريؒ وائي : ﴿ استقبل والله الحسن بن على معاوية بكتائب أمثال الجبال ﴾([148]) .

ترجمه : زما دي په الله قسم وي چي حسن بن عليرضى الله عنه د معاوية رضى الله عنه د مقابله د پاره د غرونو پشان لښكري راوستلي (دا څلويښت زره فوج وو خو بيا ئې هم د معاويه رضى الله عنه سره صلح اوكړه) د دي حديث نه معلومه شوه چي أصل مشري د خلقو په مينځ كښي روغه كول دي .

---

145/[الضياء اللامع من الخطب الجوامع ص ٢١٧ للشيخ محمد بن صالح العثيمين وأخرجه الطبراني فى المعجم الكبير]

146/[رواه أحمد والترمذي مشكوة]

147/

148/

## پنځمه خبره د اتفاق فائدي

د اتفاق ډير فائدي دي او برکتونه دی . يو دا چي په هر دور کښي د مسلمانانو پّه مينځ کښي اتفاق وو نو جهادونه ، غزاګاني او فتوحات ډير زيات شوي وو او الله تعالى ورلره په دوشمن غلبه ورکړي وه ، او ډير ملکونه د مسلمانانو په قبضه کښي راغلي وو او په دغه ملکونو کښي اسلامي خلافت او امارت قائم شوے وو .

د مثال په طور په دري دورونو کښي فتوحات ډير زيات شوي دي . يو د عمررضى الله عنه په دور کښي ، دويم د عثمانرضى الله عنه په دور کښي ، عثمان رضى الله عنه ، دولس ورځي کم دولس کاله حکومت کړے وو ألبته د هغه د دور په آخرى دوه کلونو کښي خپل مينځ کښي اختلافات راپيدا شو نو فتوحات بند شو .

او دريم د وليد بن عبد الملك په دور کښي او ده لس/۱۰ کاله حکومت کړے وو د ۸۶هـ نه تر ۹۶هـ پوري ، د ده په دور کښي ډير فتوحات اوشو په مشرق مغرب اندلس فرنسا کښي .

د دي دريو دورونو نه علاوه په نورو وختونو کښي چي کله د مسلمانانو په مينځ کښي وحدت او اتفاق وو نو جهادونه ، غزاګاني ، فتوحات به کيدل لکه د رسول اللهﷺپه دور کښي ، بيا د أبوبکررضى الله عنه په دور کښي ، او د ابوبکر رضى الله عنه خلافت دوه کاله دري مياشتي او لس ورځي وو. دغه رنګه د معاويةرضى الله عنه په دور کښي اتفاق راغلے وو او هغه څه کم شل کاله حکومت اوکړو او ډير فتوحات اوشو. دغه رنګه د عبدالملك بن مراوانؒ په دور کښي اتفاق وو . ډير فتوحات اوشو .

او د ده حکومت ديارلس کاله /۱۳ وو د ۷۳هـ نه تر ۸۶هـ پوري ، او په کوم دور کښي چي اتفاق نه وو نو د جهادونو، غزاګانو او فتوحاتو دروازه بنده شوه ، لکه د عثمانرضى الله عنه په آخري دوه کلونو کښي، د عليرضى الله عنه خلافت پنځه کاله وو . ليکن په خپل مينځ کښي داختلافاتو په وجه جهادونه او فتوحات نه دي شوي .

د معاويهرضى الله عنه نه روستو څلور کاله حکومت يزيد بن معاويه رضى الله عنه اوکړو ليکن د اختلافاتو د وجه نه فتوحات بند وو .

بيا نهه/۹ کاله حکومت عبدالله بن زبیررضی الله عنه اوکړو د هغه په دور کښي هم د خپل منځني اختلافاتو د وجه نه فتوحات اونه شول. صرف د أفريقى لږه حصه فتح شوي وه .

## شپږمه خبره د بے اتفاقئ نقصانونه

بے اتفاقي سپیره والے لری او د برکتونو دروازی ورسره بندیږي. او د بے اتفاقئ سره زیات نقصانونه دي.

۱- یو دا چي بے اتفاقي سره د مسلمانانو قوت ختمیږي او د جهادونو او فتوحات دروازي بندیږي لکه مخکښي بیان شو .

۲- دویم دا چي د بے اتفاقئ سبب د عذاب عظیم دے .

۳- دریم دا چي بے اتفاقي سبب د تور والي د مخونو دے لکه سورة آل عمران /۱۰۵ .

۴- څلورم دا سبب د شکست دے لکه د جنګ أحد دشکست أسباب الله تعالى بیانوي، نو یو سبب دا دے ﴿وَ تَنَازَعْتُمْ فِی الْاَمْرِ ﴾([149]) او تاسو اختلاف اوکړو په حکم د پیغبر کښي .

۵-پنځم : دا چي دا سبب د جدائي د پیغبر دے ، یعني چي څوک اختلافات کوي نو پیغبر تری نه جدا دے لکه : ﴿اِنَّ الَّذِیْنَ فَرَّقُوْا دِیْنَهُمْ وَ کَانُوْا شِیَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِیْ شَیْءٍؕ﴾([150])

ترجمه : یقینا هغه کسان چي بیل بیل ئي کړو دین خپل او وو دوئي ډلي ډلي ، نه ئي ته د دوئي نه په یو شي . قرطبيّ وائي : ﴿ فأوجب برائته منهم﴾ الله تعالى واجب کړو براءت د پیغبر د دوئ نه .

۶- شپږم : دا سبب د بوزدلئ دے .

۷- اووم د بے اتفاقئ د وجه نه د مسلمانانو رعب او دبدبه ختمیږي لکه ﴿وَ لَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَ تَذْهَبَ رِیْحُکُمْ﴾([151])].

او جګړي مه کوئ نو بزدله به شئ او لاړه به شي دبدبه ستاسو .

بل روایت کښي راځي ﴿**ولا تختلفوا فأن من کان قبلکم اختلفوا فهلکوا**﴾ اختلاف مه کوئ ځکه مخکښنو اختلاف کړے وو نو هلاك شو .

---

[149] /

[150] /

[151] /سورة الأنفال آیت/۴۶]

۸۔ أتم : دا چي بے اتفاقي او اختلاف سبب د هلاکت دے لکه رسول الله ﷺ فرمائي : ﴿**فأنما هلك من قبلكم بكثرة سؤالهم، واختلافهم على أنبياءهم**﴾[152] .
ترجمه : يقينًا هلاك شوي دي مخکني په ډيرو تپوسونو (يعني بے ضرورته سوالونه) او په اختلاف د دوئ د انبياء سره .
په بل روايت کښي راځي ﴿ولا تختلفوا فان من كان قبلكم اختلفوا فهلكوا ﴾[153]]
ترجمه : اختلاف مه کوئ ځکه مخکښنو اختلاف کړے وو نو هلاک شو.
۹۔ نهم : دا سبب د عقوبت معنوي دي لکه : عبادة بن صامت رضى الله عنه وائي : چي نبى ﷺبهر راووتلو چي مونږه ته د ليلة القدر خبر راکړی نو دوؤ مسلمانانو جګړه وکړه . نبى ﷺ افرمائيل : چي زه د دي د پاره راغلے ووم چي تاسو ته د شب قدر خبر درکړم خو فلانکي فلانکي جګړه اوکړه نو د هغې په وجه د ليلة القدر معلومات پورته شو .[154]

فائـــده :
د دی نه معلومه شوه چي جګړه او بے اتفاقي دومره نا کاره شے دے چي د هغې په وجه د هميشه د پاره د ليلة القدر مقررتيا پورته کړے شوه . نو اختلاف او جګړه د برکتونو نه د محرومئ سبب ګرځی. فضائل اعمال لمولانا زکريا رحمه الله . نووي او قاضي عياض رحمهم الله وائي چي دا دليل دے چي جګړه نا کاره شے دے او دا سبب د عقوبت معنوي دے[155] .
۱۰۔ لسم : دا چې په بے اتفاقئ شيطان ډير خوشحاليږي لکه رسول الله ﷺ وائي چي إبليس خپل تخت په اوبو کيږدی بيا تشکيلونه ليږي. شيطان ته هغه بچي ډير نزدي وي چي هغه ګمراه کول ډير کوي. يو راشي وائي ما دا او دا کار اوکړو ، شيطان ورته وائي تا هيڅ نه دي کړی بيا يو راشي ما د سړي او ښځي په مينځ کښي جدائي راوسته ، نو شيطان هغه بچي د

[152]/[بخاري كتاب بدء الوحي ومسلم باب فرض الحج وباب توقيره ﷺ]
[153]/بخارى رقم ۲۴۱ ورقم ۳۴۷۶ ومسند أحمد جلد/۱ ص ۴۱۱ ومسند ابى يعلى جلد/۹ ص ۲۳۴]
[154]/[مشكوة عن البخاري وفضائل أعمال لمولانا زكريا رحمه الله]
[155]/[فتح الباري جلد/۱ ص ۱۱۳ نيل الأوطار جلد/۴ ص ۳۷۰]

ځان سره جخت کړي او ورته وائي چي﴿**نعم أنت** ﴾ ته زما ښه بچے ئې([156]) .
یولسم : دا چي بے اتفاقي ډیر خطرناك شے دے لکه په حدیث د بخاري شریف کښي راځي عمر رضی الله عنه وائي چي زما یو أنصاري ملګرے وو مونږ د مدیني بره طرف ته اوسیدلو نمبر په نمبر به نبی ﷺ خوا ته راتلو ، کله چي به زه نه ووم هغه به ما لره حالات او خبر راوړلو او چي هغه به نه وو نو ما به ورلره خبر راوړو . یوه ورځ زما انصاري ملګرے راغے د هغه نمبر وو ماسختون راغے او دروازه ئې اوټکوله او وي وئیل چي افتح افتح . دروازه برسیره کړه په یو روایت کښي راځي چي زما دروازه ئې سخته ووهله وائي ما ورته اوئیل چي آیا د غسّان بادشاه حمله اوکړه ﴿**جآء الغسّان وفي رواية أجاءت غسّان**﴾ هغه اوئیل چي نه ﴿**بل هو أشد من ذالك وفي رواية بل أعظم منه وأطول**﴾ د دي نه زیات خطرناك كار اوشو ﴿**إعتزل رسول الله صلى الله عليه وسلم أزواجه وفي رواية طلق رسول الله صلى الله وسلم نسائه**﴾
ترجمه : رسول الله ﷺ د خپلو بیبانو نه جدا شو([157]) .

فائــده : د دي واقعي نه معلومه شوه چي خپل مینځ کښي اختلاف ډیر خطرناك شے دے . تر دی چي صحابو د غسّان د بادشاه د حملي نه هم ډیر خطرناك ګنړلو، حالانکه دا د نبی ﷺ د خپلو ببیانو سره اختلاف وو یعني د یو کور اختلاف وو .

## اوومه خبره

ټول أنبیاء علیهم السلام الله تعالی د وحدت او اتفاق د پاره رالیږلي دی چي د مسلمانانو صف یو شي او په یوه کلمه راجمع شي . لکه امام

[156]/[رواه مسلم ، مشکوة ، باب الوسوسة]
[157]/[الرحیق المختوم ص ۴۱۹ الأخبار العامة عن استعداد الرومان وغسّان]

بغوی رحمه الله په تفسير د سورة شوري کښي ﴿أن اقيموا الدين ولا تتفرقوا فيه﴾ کښي وائي .

﴿بعث الله الأنبياء كلهم بإقامة الدين والألفة، والجماعة، وترك الفرقة، والمخالفة﴾([158]) .]

راليګل الله تعالی ټول أنبياء عليهم السلام د پاره د قائمولو د دين او محبت او اتفاق د پاره او د پاره د پريښودلو د بے اتفاقئ او اختلاف .

## أتمه خبره

اتفاق د أهلسنت والجماعت نښه ده لکه إمام طحاوی رحمه الله وائي ﴿ونري الجماعة حقا وصوابا والفرقة زيغا وعذابًا﴾([159])

او مونږه وينو اتفاق حق او صواب او بے اتفاقی کوږوالے او عذاب .

د إبن تيميه رحمه الله وينا

ابن تيميه رحمه الله وائي : ﴿ إنه صلى الله عليه وسلم سنّ الاجتماع على إمام واحد في الامامة الكبرى وفي الجمعة، والعيدين، والاستسقاء، وفي صلوة الخوف، وغير ذالك﴾([160]) .

ترجمه : رسول الله ﷺ مسنون ګرځولي دي راجمع کيدل په يو امام په لوئے امامت کښي او په جمعه کښي او په اخترونو کښي او په استسقاء کښي او په صلوة خوف کښي او په نورو کارونو کښي د دي دپاره چي د امت په مينځ کښي وحدت او اتفاق وي . دغه رنګه زمونږه اذان ، اقامت ، خطبه ، وختونه هر څه يو دي په دی ټولو کښي د اتفاق درس دے .

---

[158]/[معالم التنزيل جلد/۴ ص ۱۲۲

[159]/[شرح العقيدة الطحاوية لأبن العز ص ۵۱۲]

[160]/[ إقامة الدليل على ابطال التحليل لابن تيميه رحمه الله جلد/۳ ص ۴۸۰]

**د امام شافعي ر□مه الله وينا**

چي كوم اختلافي او اجتهادى خبرى دي نو په هغه كښي سړے خپل ځان خامخا په حقه نه ګڼړي او مخالف به خامخا په باطله نه ګڼړي . د دي د پاره چي اختلاف نه ډيريږي او اتفاق نه خرابيږي بلكه سړے به دا وائي چي زما خبره حقه ده خو احتمال د خطاء پكښي شته او د مخالف خبره خطاء ده خو احتمال د حق پكښي شته . لكه امام شافعي رحمه الله وائي ﴿ **قولي صواب يحتمل الخطأ وقول غيري خطأ يحتمل الصواب** ﴾(161) زما خبره حقه ده احتمال د خطاء پكښي شته او زما د مخالف خبره خطا ده احتمال د حق پكښي شته .

## نهمه خبره د اختلاف او بے اتفاقئ أ□باب

اختلاف او بے اتفاقي د څه نه پيدا كيږي د دي ډير أسباب دي .

١ـ يو سبب د شيطان منل ، لكه شيطان وسوسي غورځوي فلانى فلانى خو داسي داسي كار كړے وو او دا خبري كړي دي ، او تا د هغه خبره اومنله ، لكه الله تبارك وتعالى فرمائي : ﴿ **ان الشيطان ينزغ بينهم** ﴾ يقينا شيطان وسوسي غورځوي پّه مينځ د دوئي كښي .

او رسول الله ﷺ فرمائي : ﴿ **إن الشيطان قد أيس أن يعبده المصلون في جزيرة العرب ولكن في التحريش بينهم** ﴾(162)

شيطان نا اميده شوے دے چي عبادت د ده اوكړے مونځ كونكي په جزيرة العرب لكن نااميده نه دے دتيزى وركولونه په مينځ د دوى كښى ددے وجے نه دشيطان منل نه دى پكار كه هغه ته د يو چا غلطى مخى ته كوى نو ته ئ ښه كارونه مخى ته كړه

٢ـدويم سبب ګناه ده لكه حديث كښ راځى رسولﷺ فرمائي ﴿ **والذي نفسى بيده ما توادّا ثنان فيفرق بينهما إلا بذنب يحدثهم أحدهم** ﴾(163) .

---

161/[رسالة هدى السلف فى الاتفاق ص /٣]

162/

163/[حديث صحيح رواه أحمد]

زما دي په هغه ذات قسم وی چه دهغی په لاس کښې زما ساه ده دوستی نه کوی دوه کسان چې جدای راشی په مینځ ددی دواړو کښې مګر دادکناه وی په سبب دکناه چې کوی ے یو ددے دواړو نه .
فائــده : یعنی دګناه د وجه نه دوستی ختمیږی او اختلاف راځی ابن قیم رحمه الله په الجواب الکافی کښ وای چې د ګناه دوجې نه د خپلو رونو سره وحشت پیدا کیږي یعني محبت ختم شی[164] .
۳ـ دریم سبب طمع ده کله د دوه کسانو په مینځ کښ ډیره دوستی او مینه محبت وی لیکن د هغه نه څه طمع لری کله چه څه ورنکړی نو دا مرور او خفه شی او دوستی ختمه شی د دے وجه نه الله تعالی وائی ﴿وَ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ﴾[165] .
ترجمه : مه اوګدوئ سترګي خپلي هغه څه ته چي مونږه فائده ورکړي په هغي سره جوړو ته د دوئي نه . او رسول اللهﷺ فرمائي : ﴿ وازهد فيما عند النّاس يحبّك النّاس ﴾[166]
مینه مه کوه په هغه څه کښي چي د خلقو سره وي مینه به وکړي ستا سره خلق .

[164]/[من اثار المصية وحشة يجدها العاصي مع اخوانه، الجواب الكافي بحواله قافلة الداعيات عنوان مفسدات الاخوة]
[165]/[سورة طه آيت/١٣١
[166]/[رواه ابن ماجه والحاكم مشكوة]

۴. څلورم سبب د شهرت او مشرئ خواهش دے

فضيل بن عياض رحمه الله وائي چي څوک د مشرئ خواهش کوي په هغه کښي کينه پيدا کيږي، د خلقو عيبونه لټوي او که د ده په مخکښي د يو چا صفت کوي ښه ئي نه ګڼړي .

امام شافعي رحمه الله فرمائي : چي زما خواهش دا دے چي خلق علم زده کړي اوما ته د يو شی هم نسبت ونکړے شي([167]) .

۵. پنځم سبب د دنيا سره مينه ده

د دنيا د ميني محبت په وجه هم د يو بل سره اختلاف راځي .

شعر :

وما هي الا جيفة مستحيلة عليها كلاب همّهن إجتذا بها

نه ده دنيا مګر مرداره ده چي سپي پري اړم دي او هر يو ئي ځان ته راکاږي .

فإن تجتنبها كنت سلما لاهلها وان تجتذبها نازعتك كلابها

که چري ته د دی مرداري نه ځان ساتي نو ته روغه کونکے ئي د خاوندانو د دنيا سره او که چري دنيا ځان ته راکاږي نو د دنيا سپي درسره جګړه کوي ([168]).

شپږم سبب حسد (کينه) ده

د کينی د وجه نه هم اختلافات پيدا کيږي . الله تعالی وائي «وَ مِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ۝» ([169]) الله تعالی د کينه ګرو د شر نه پناه راکړي .

[167]/[حلية الأولياء جلد/١ ص ١١٨ ، سير أعلام النبلاء جلد/١٠ ص ٢٩]

[168]/[سير أعلام النبلاء جلد١٠ ص ٢٩]

[169]/) الفلق(5)

## لسمه خبره آداب د اختلاف

يعني چي کله اختلاف راشي نو بيا څه کول پکار دي . نو پکار دا ده چي په لاندي آدابو عمل اوکړے شي .

## اول ادب ښه ګمان کول

يعني چي د اکابرينو او مشرانو احترام وکړے شي ، او په علماء او مشرانو ښه ګمان وکړے شي (يعني پّه مخالفينو به بدګماني نه کوي بلکه خه ګمان به پري کوي) په هغوئ به دا ګمان نه کوي چي دوئ قصدًا حق پريښودے دے . بلکه د هغوئ د پاره به صحيح عذر لټوئ ، لکه رسول اللهﷺفرمائي : کله چي يو حاکم په فيصله کښي اجتهاد وکړي او حق ته اورسي نو د هغه د پاره دوه اجره دي . او که چري خطاء شي نو يو أجر دے .([170])

خو ته به هم خه ګمان کوي چي کيدے شي چي زما مخالف د حق خبري د پاره خه کوشش کړے وي ليکن خطاء شوے دے ، د انسان نه خطاء او سهوه کيږي .

## عقيده د أهلسنت والجماعة

او د أهلسنت والجماعة عقيده هم دا ده چي مخکني علماء به په خه طريقه يادوي ، په بده طريقه به ئي نه يادوي لکه إمام طحاويؒ وائي ﴿وعلماء السلف والسابقين ومن بعدهم من التّابعين أهل الخير والأثر وأهل الفقه والنّظر لا يذكرون إلا بالجميل ومن ذكرهم بسوء فهو على غير السبيل﴾([171]).

ترجمه : علماء د سلفو او مخکښي او روستني تابعين خاوندان د خير او أثر دي او خاوندان د فقه او نظر دي دوئي به نه شي يادولے مګر په خه او څوک چي دوئ په بدئ يادوي نو هغه بغير د لاري د مؤمنانو نه دے .

د دي وجه نه چي د يو عالم خبره صحيح حديث نه خلاف راشي نو د هغه د پاره به دري قسمه عذرونه لټوي، يو دا چي د هغه عقيده نه وه چي ګني نبی ﷺ دا خبره کړي ده .

---

[170]/[بخاري و مسلم]
[171]/[شرح العقيدة الطحاوية ص ۴۹۱]

دويم دا چي د هغه دا عقيده نه وه چي ګني د نبیﷺدا مقصد دے . دريم دا چي د هغه عقيده دا وه چي دا حکم منسوخ دے د دي وجه نه إبن تيميه رحمه الله وائي چي ډير مجتهدين علماء داسي خبره يا کار کړے وي چي هغه بدعت وي ليکن هغوئ ته دا معلومه نه وي چي دا بدعت دے خو هغوئ خپل کوشش کړے وي ([172]).

## دريم ب په اجتهادي مسائلو کښي په يو بل تنقيد نه کول

دا أدب په مخکښي أدب کښي داخل دے . يعني کومي خبري د اجتهاد او سوچ سره تعلق لري لکه د يو چا سوچ يو شان وي او بل سوچ بل شان وي يو وائي دا کار يا دا طريقه غوره ده بل وائي دا کار يا دا طريقه غوره ده ، نو په هغي کښي به په چا تنقيد نه کوي . لکه أنسرضی الله عنه وائي مونږه په سفر کښي وو چا روژه نيولي وه او چا روژه نه وه نيولي ، روژه دارو په بوزه عيب نه ويلو او بوزه په روژه دارو عيب نه ويلو([173]) د قاسم بن محمدؒ نه تپوس اوشو چي کله امام به زوره قرأت نه کوي نو د هغه نه روستو قرأت وايم او که نه؟ هغه ورته اوئيل : ﴿ان قرأت فلك في رجال من أصحاب محمد صلى الله عليه وسلم أسوة فاذا لم تقرأ فلك في رجال من أصحاب محمد ﷺأسوة﴾([174])

قرطبي رحمه الله وائي چي امام ابو حنيفه رح او د هغه ملګرو او امام شافعي رح او نورو د مديني ېّه امامانو پسي مونځونه کول چي هغه مالکيه وو (يعني د امام مالك د مذهب والو) حالانکه هغوئ به بسم الله نه لوسته، نه په زوره او نه په پټه دغه رنګه امام ابی يوسف رح به هارون رشيد بادشاه پسي مونځ وکړو او هغه ښکر لګولے وو (يعني وينه ترينه وتلي وه) او هارون رشيد بادشاه ته امام مالك رحمه الله فتوي ورکړي وه چي اودس ته ضرورت نشته. نو وينه ترينه وتلي وه او امام يوسف رحمه الله پسي مونځ اوکړو او اعاده ئې اونکړه ([175]).

---

[172]/[مجموع الفتاوي جلد/١ ص ١٩١]
[173]/[قافلة الداعيات ص ٩ بخارى ومسلم وأبوداؤد ، مسند أحمد ومسند أبو يعلي سنن كبرى]
[174]/[التميهد لابن عبد البر جلد/١١ ص ٥۴]
[175]/[التمهيد لابن عبدالبر جلد/١١ ص ٥۴]

حالانكه د امام ابو يوسفؒ مذهب دا دے چي ويني وتلو سره اودس ماتيږي ليکن مونځ ئې دوباره اونکړو . نو په اختلافي مسائلو کښي هغوئ داسي چشم پوشي کړي ده .
د إمام أحمد بن حنبلؒ نه چا تپوس اوکړو چي د يو امام نه وينه وتلې وي او اودس ئې نه وي کړے نو په هغه پسې به مونځ کولے شي او که نه ، نو هغه اوئيل چي ﴿ كيف لاأصلي خلف الامام مالك وسعيد بن المسيّب ﴾([176])
ځنګه به زه مونځ نه کوم په إمام مالك او سعيد بن المسيب رحمهما الله پسي (يعني که د يو سړي دا مذهب وی چي د وينه په وتلو سره اودس ماتيږي بل طرف ته د امام مذهب ئې دا وي چي د وينه په وتلو سره اودس نه ماتيږي نو ورپسي مونځ کولے شي، ځکه د لوئے لوئے امامانو دا مذهب دے چي د وينې په وتلو اودس ماتيږي .
إمام شافعيؒ امام ابو حنيفةؒ په جماعت کښي د سحر مونځ کولو، ﴿ فلم يقنت ولم يجهر ببسم الله تأدبا مع أبي حنيفة ﴾([177])
نو دعا قنوت ئې اونه لوستل او نه ئې بسم الله په زوره ولوسته، د امام أبو حنيفة رحمه الله أدب ئې کولو « په بل روايت کښي راځي چي د هغه د قبر أدب او احترام ئې کول » .
يحيى بن سعيد انصاري رحمه الله وائې چي د مفتيانو په مينځ کښي به هميشه اختلاف راتلو . يو به اوئيل دا شے حلال دے بل به اوئيل چي دا شے حرام دے ، ليکن چي چا به حرام ګنړلو نو هغه دا نه دي وئيلي چي حلال ګنړونکے هلاك شو او چي چا حلال ګنړلو نو هغه دا نه دی وئيلي چي دا حرام ګنړونکے هلاك شو([178]) .
سفيان ثوري رحمه الله وائې چي په کوم شي کښي د فقهاء اختلاف وي نو زه خپل رونړه نه منع کوم چي په هغې عمل اوکړي .([179])
دغه رنګه د ډيرو علماء نه نقل دي چي په اجتهادی خبرو کښي به په يو بل رد او تشدّد نه وي .([180])

---

[176]/[قرطبي جلد ٢٣ ص ٣٧٥ بحواله قافلة الداعيات ص ١٢]
[177]/[الفتاوي جلد/٢٠ ص ٣٦٤]
[178]/[جامع بيان العلم جلد/٢ ص ٨٠]
[179]/[الفقه والمتفقه جلد/٣ ص ٦٩]

## دريم أدب

( او دا هم په مخكښي دوه ادبونو كښي داخل دے ) چي د اجتهاد د وجه نه به د يو بل سره رور ولي نه ختموئ، په بعضو خبرو كښي به بحثونه او مناظري راځي ليكن رورولی اوتعلقات به په ځای وی

لكه د عبدالله بن مسعود او دعمربن الخطاب رضی الله عنهما په مينځ كښ په ډيرو مسائلو كښ اختلاف وو لكه ابن قيم رحمه الله په إعلام الموقعين كښ دسلو/١٠٠ پوری مسائل ذكركړی دي ليكن د دي باوجود د دوئی په مينځ كښ ډيره زياته مينه اوروروليی وه لكه يو ځل ابن مسعود رضی الله عنه عمر رضی الله عنه راياد كړو ډير زيات ئي وژړل اووی ويلچی﴿فأنه كان حصناً للاسلام﴾عمر رضی الله عنهداسلام د پاره مضبوطه قلعه وه چي په دی قلعه به خلق داخليدو او وتلوبه ترينه .

هر كله چي هغه زخمی شو او بيا شهيد شو نو هغه قلعهكنډمه شوهبل طرف ته عمر رضی الله عنه د إبن مسعودرضی الله عنه ډير صفت كوي چي﴿كنيف ملئ علما﴾يو لوښے دے چي ډک شوے دے دعلم نه كنيف تصغيرد كنف دے كنف لوښی ته وائی او تصغير للتعظيم دے. يونس الصدفیؒ وائی﴿ما رايت اعقل من الشافعی﴾ ما دامام شافعیؒ نه زيات هوښيار نه دے ليدلے يوه ورځ ورسره زما په يوه مسئله كښي مناظره وه بيا د يو بل نه جدا شو بيا چي روستو ورسره زه ملاؤ شوم نو زما لاس ئي اونيولو او وي وئيل اے ابو موسی آيا دا صحيح نه ده چي مونږ رونړه شو اګر چې په يوه مسئله كښي زمونږ اتفاق نه راځی .

## څلورم أدب

چي د چا فضائل (يعني دينې كارونه) د نقصان او غلطو كارونه به زيات وو نو هغه عيبونه به نه بيانوي (او دا هم مخكښي آدابو كښي يعني په توقير الأكابر د مشرانو په احترام كښي داخل دے )

---

[180]/[لكه الآداب الشرعية لابن مفلح جلد/١ ص ١٨٦ شرح النووي على مسلم جلد ٢ ص ٢٤ ، مجموع الفتاوي جلد/٢٠ ص ٢٠٧]

سعيد بن المسيّب ؒ وائي : ﴿ ليس من شريف ولا عالم ، ولا ذي فضل إلا وفيه عيب ، ولكن من النّاس من لا ينبغي أن تذكر عيوبه ﴾

ترجمه:نشته يو شريف سړے يا عالم يا د كمال خاوند مګر په هغې كښي به څه عيب وي ليكن د بعضو خلقو عيبونه ذكر كول مناسب نه دي . ﴿ فمن كان فضله أكثر من نقصه وهب نقصه لفضله ﴾([181])

چي د چا ښه فضيلت (يعني ښه كارونه) ډير وي د نقصان (يعني بدو كارونو نه) نو بخلے (او معاف) كولے به شي نقصان د هغه د وجه د فضيلت د هغه نه.

عبد الله بن مبارك ؒ فرمائي : ﴿ إذا غلبت محاسن الرجل على مساوته لم يذكر المساوي وإذا غلبت المساوي لم تذكر المحاسن ﴾ ([182])

چي كله د يو سړي خه كارونه د بدو كارونو نه زيات وي نو بدي به ئې نه يادوي او چي كله د يو سړي بد كارونه د ښه كارونو نه زيات وي نو ښه كارونه به ئې نه يادوي .إمام ذهبيؒ وائي : ﴿ ولو أنا كلّما أخطأ إمام في إجتهاده قمنا عليه وبلّ عناه و هجرناه لما سلم منّا لا إبن نصر ولا إبن مندة ولا من هو أخبر منهما ﴾([183])

كه چري داسي وي چي امام خطاء شي نو مونږه د هغه خلاف راپورته شو هغه ته بدعتي اوايو هغه پريږدو نو هيڅ څوک به بچ نه شي. نه ابن نصر نه ابن مندة ، او هغه څوک چي هغه دوئي نه غټ وي .

دغه رنګه ابن قيم رح وائي چي د چا سره علم د شريعت وی نو هغه يقينا پوهيږي چي يو غټ سړے چي هغه د اسلام د پاره قرباني وركړی وي او ښه كارونه ئې كړي وي ، او په اسلام كښي او په مسلمانانو كښي د هغه يو حيثيت او مرتبه وی د هغه نه كله خطائي او لغزش كيږی چي هغه په

---

181/ [الكفاية ص /١٠٢ جامع بيان العلم وفضله جلد/٢ ص ٨٢١]

182/ [سير أعلام النبلاء جلد/٨ ص/٣٩٨] .

183/ [سير أعلام النبلاء جلد/١٤ ص/٤٠] .

هغه کښي معذوره وی بلکه ثواب ورته ملاويږي ، ځکه اجتهاد ئي کړے وي په هغه غلطئ کښي به د هغه تابعداري هم نه کوي خو

﴿ ولا يجوز أن تهدر مكانته وامامته ومنزلته في قلوب المسلمين ﴾([184])

حاصل دا دے چي چا د اسلام د پاره قرباني ورکړي وي او ښه کارونه ئي کړي وي هغه به د نظر نه نه غرځوي. که لږه غلطي تري نه شوي وي هغه معاف کول پکار دي او د هغه چشم پوشي پکار ده ، ابن رجب حنبلي رح وائي چي منصف هغه سړے دے چي د سړي لږه غلطي معاف کوی د وجه د ډيرو ښو کارونو نه .([185])

شعر :

وإذا الحبيب أتى بذنب واحد جاءت محاسنه بألف شفيع

امام مالكؒ وائي : چي ﴿ ما في زماننا شئ أقل من الانصاف ﴾([186])

نشته زمونږ په زمانه کښي يو شے کم د انصاف نه ، يعني ځوک انصاف نه کوی الله تعالى فرمائي : ﴿وَ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰى اَلَّا تَعْدِلُوْا اِعْدِلُوْا﴾هواقرب للتقوى([187])

## پنځم ادب د اتفاق فائدو ته کتل

يعنى که په چا کښ لږه غلطى وی نو په هغه صبر پکار دے چے اتفاق نه خرابيږی ځکه داتفاق فائدی ډيری زياتی دی او که د چا په لږه غلطئ چشم پوشی نه کوی نو اختلاف راځی او دی اختلاف نه ډير نقصانونه پيدا کيږی نو پکار داده چےد اتفاق فائدو ته وکتلے شی د بعضو خلقو نه دا غلطی کيږی چےد لږی لږی غلطئ په وجه د خلقو سره اختلافات پيدا کوی او وائی دا غلطی کړی ده او داسے کار ئي کړے دے او داکارے د شريعت نه خلاف دے اوبيا د دی نه اختلاف پيدا کوی دا سوچ نه کوی چے د دی خبرو فا هده ډيره کمه ده او د اتفاق فائده او برکتونه ډير زيات دی لکه په روايت نعمان بن بشيررضی الله عنه کښ راځی ﴿والجماعة بركة والفرقة عذاب﴾ په اتفاق کښ برکت وے او اختلاف

---

[184]/[اعلام الموقعين جلد/٣ ص ٢٨٣] .

[185]/[القواعد ص /٣١٥]

[186]/[جامع بيان العلم وفضله ص ٥٣١]

[187]/[سورة المائده/٨] .

عذاب وے او ابن مسعودرضی اللهعنه وائی : ﴿ وأن ما تكرهون في الجماعة خير ممّا تحبّون في الفرقة﴾ بعض خلق وائی چي په دی جماعت کښ دا وا غلطی دهددی وجه نه ترینه زه جدا شوم نو ابن مسعودرضی الله عنه وائی چي کوم شے چي تاسوئي بد گنړی په اتفاق کښ ډیر غوره دے دهغه څه نه چے تا سوے خوښوی په اختلاف کښ او ابن تیمیهؒ هم دی ته اشاره کوی ﴿فأن الفساد الناشئ في هذه الفرق أضعاف الشرّ الناشي من خطأ نفر قليل في مسئلة فرعيّة﴾ يقينا هغه فساد چے د دی اختلاف نه پيدا کيږی ډير دوچند دے دهغه شرنه چے هغه پيدا کيږی دخطا او غلطی دلږو کسانو نه په يو فروعی مسئلي کښ نبیﷺعائشه رضی الله عنها ته د بيت الله شريف په باره کښ وائي .

## يوولسمه خبره د اتفاق أ□باب

داتفاق ډير اسباب دی چي د دغه اسبابو د وجه نه مينه او محبت رورولی او دوستی او اتحاد راځی او اختلاف او بي اتفاقی ختميږی .

### اول □بب قلب □ليم دے

يعنی په زړه کښ چا ته خيرے نه ساتل د چا سره کينه نه کول هر چا ته زړه پاک ساتل او د قيامت په ورځ به الله تعالی هغه چا ته نجات ورکوي چي د هغه زړه روغ وي او د خيري نه پاک وي لکه الله تعالی وائي : ﴿يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّ لَا بَنُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿٨٩﴾﴾([188])
په هغه ورځ چي راتله وکړي الله ته په هغه زړه روغ باندي .
او د جنتيانو په صفت کښي هم راغلي دي چي د هغوئ زړونه به پاک وي د خيري او خفگان نه . لکه الله تبارك وتعالی فرمائي : ﴿وَ نَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ اخوانًا على سرر متقابلين﴾ ([189])ترجمه: او مونږه به اوباسو هغه چه ددئ په سينوکښی دی دخفگان نه [.او رسول اللهﷺ أنسرضی الله عنه ته وائي : چي ﴿ يا بنيّ إن قدرت أن تصبح وتمسي وليس في قلبك غش لأحد فافعل ﴾([190])

---

[188]/} [الشعراء: 87، 88]
[189]سورة الأعراف/]
[190]/[رواه الترمذي باب الاعتصام بالكتاب والسنّة]

ترجمه : اے بچیه ! که ستا وس کيږي چي سبا او بیگاه کړي او ستا په زړه کښي چا ته خیرے نه وي نو دا کار کوه اودا زما د سنتو نه دی او چا چي زما سنت ژوندی کړل نو ده زما سره مینه اوکړه او چا چي ما سره مینه اوکړه نو دا به زما سره په جنت کښي وي .

## د نیکانو ینې پاکې وي

أبو دجانهرضی الله عنه چي کله وفات کیده نو مخ ئې پرقیدو ، چا ورته اوئیل چي ﴿ ما لوجهك يتهلّل ؟﴾ ستا مخ ولې پرقیږي؟ هغه اوئیل چي زما په خپل عمل کښي دوه خبرو باندی اعتماد دے . یو دا چي ﴿ لا أتكلم فيما لا يعني ﴾ ما بے فائدي خبري نه کولې . دویم دا چي ﴿ وكان قلبي للمسلمين سليماً ﴾ زما زړه مسلمانانو ته روغ وو([191]) .

قاسم الجوعيّ وائي : چي ﴿ أقصر طرق الجنّة سلامة الصدر ﴾ د جنت لنده سینه پاکه ساتل دی([192]).

سقطي رح وائي : ﴿من أجلّ أخلاق الأبرار سلامة الصدر للإخوان والنّصيحة لهم﴾

لوئے أخلاق د نیکانو سینه پاکه ساتل دی رونړو ته او خیر خواهي د هغوئ ده د غټو خلقو سینې غټي وي . صبر برداشت ئې ډیر وي .

إبن قیمّوائي چي خائسته صفات الله تعالی په إبن تیمیه کښي راجمع کړي وو، او د هغه بعض مشرانو ملګرو به وئیل زما زړه مسلمانانو ته روغ وو . او بعض مشرانو ملګرو به ئې وئیل چي آرمان دے چي زه د خپلو ملګرو سره داسي وے چي إبن تیمیه رح د خپلو مخالفینو او دوشمنانو سره وو ، مخالفینو ته به ئې خیري نه کولې . دعا به ئې ورته کوله . إبن قیم رح وائي چي ما ورله یوه ورځ د ده د یو دوشمن د مرګ خوشخبري

---

[191]/[رواه إبن وهب فی الجامع ص/۳۱۹ وابن سعد جلد/۳ ص ۴۱۸، سیر أعلام النبلاء جلد/۳ ص ۱۵۲ تاریخ الاسلام جلد/۳ ص۷۰ صفة الصفوة جلد/۱ ص۴۸۶ بحوالة البدر في فضل سلامة الصدر ص۴] .

[192]/[رواه الخطيب في الزهد والرقائق ص/۳۲ وإبن عساكر في تاريخ دمشق جلد/۵۲ ص۸۰ بستان العارفين ص/۷۹ صفة الصفوة ص/۲۳۶ بحواله البدر في فضل سلامة الصدر ص۴] .

ورکړه چي هغه د ده غټ دوښمن وو ده ته به ئې ډير تکليف رسولو . نو زه ئې ورتلم او وي وئيل چي " انا لله وانا اليه رجعون" بيا فوري پورته شو د هغه کورنئ ته تسلّي ورکړه او ورته اوئيل چي " انا لکم في مکانه" زه تاسو د پاره د هغه په ځائے يم چي ستاسو څه شي ته ضرورت وو نو زه به درسره امداد کوم . هغوئ ډير خوشحاله شو او ده ته ئې دعا اوکړه او دا حالت ورته ډير غټ ښکاره شو([193]) .

دويم سبب د مسلمانانو او ملګرو په باره کښي چغلي او غيبتونه نه اوريدلاو چي څوک چغلي او غيبت کوي هغه منع کول

فضيل بن أبى عياضؒ وائي : چي زه د وهب بن منبه رح خوا ته ناست ووم يو سړے ئې خوا ته راغلو وئيل ئې زه د فلانکي په خوا راتلم او تا ته ئې کنځل کول. نو وهبؒ ډير غصه شو او وئيل ئې چي ﴿ما وجد الشيطان رسولا غيرك﴾ آيا شيطان ستا نه علاوه بل استاذى نه موندلو .

فضيل بن عياضؒ وائي : چي زه ناست ووم او دغه سړے راغے چي کنځل ئې کړي وو . وهب رح ته ئې سلام اوکړو، د هغه د سلام جواب ئې ورکړو او مصافحه ئې ورسره اوکړه او خوا ته ئې کينولو([194]) .

يو سړي عمر بن عبد العزيزؒ خوا ته راغے ورته اوئيل چي که چري ستا خوښه وي نو مونږه ستا د خبري معلومات کوؤ، که چري ته دروغژن ئې نوددي آيت مصداق ئې﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا﴾([195])

که چري فاسق درته يو خبر راوړو نو تحقيق کوئ (يعني ته فاسق ئې) او که چري ته رشتنے ئې نو ددي آيت مصداق ئې چي﴿هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۢ بِنَمِيْمٍ ﴿١١﴾﴾([196])

پشي شا عيب لګونکے دے، تلونکے دے په چغلئ (يعني ته به چغل خورئي )

او که چري ستا خوښه وي نو معافي به درته وکړو ، هغه سړي اوئيل چي أمير المؤمنين معافي راته اوکړه بيا به داسي کار نه کوم ([197]).

---

[193]/[صلاح الأمة في علو الهمة ، مضمون مکارم الأخلاق ورسالة نشر الورود والرياحين ص/۴]

[194]/[البداية والنهاية جلد/۹ ص ۲۷۶، حلية الأولياء جلد/۴ ص۷۱ صفة الصفوة جلد/۲ ص ۲۹۵ بحواله البدر في فضل سلامة الصدر] .

[195]/[سورة الحجرات/۶]

[196]/[سورة القلم/۱۱] .

**دريم ب موافقة الاخوان**

يعني د ملګرو سره اتفاق کول يعني چي کله يوه خبره يا يو کار وي نو د کوم حده پوري چي په شريعت کښي جواز وي د ملګرو سره اتفاق کول او مخالفت نه کول. اګر چي هغه خبره يا کار ستا د طبعيت مزاج او خواهش نه خلاف وي ، لکه الله تعالى خپل پيغبر ته وائي : ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللهِ لِنْتَ لَهُمْ ۚ ﴾([198])

په سبب د رحمت د الله ته نرم شه دوئي ته .

أنسرضى اللهعنه وائي : چي ما د رسول اللهﷺ لس کاله خدمت کړے دے خو چي ما به يو کار کړے وو نو ما ته ئي نه دي وئيلي چي دا کار دي ولي کړے دے ، او چي ما به يو کار نه وو کړے نو دا ئي نه دي وئيلي چي دا کار دي ولې نه دے کړے .

أبو عثمانؒ وائي ﴿ **موافقة الإخوان خير من الشفقة عليهم**﴾ موافقت د رونړو ډير غوره دے د شفقت نه په هغوئ کښي ، جويره رحمهاالله وائي : ﴿**دعوت الله أربعين سنة أن يعصمني من مخالفة الإخوان**﴾ ما د الله نه څلويښت کاله دعا وکړه چي ما د ملګرو مخالفت نه وساتي .

## څلورم ب د ملګرو نه عذر قبلول

يعني که ملګرو نه خطائي اوشي او عذر پيش کړي نو د هغوئ عذر قبلول، رسول اللهﷺ فرمائي : ﴿**من إعتذر إليه أخوه المسلم فلم يقبل عذره فعليه مثال صاحب مكس**﴾

هغه څوک چي مسلمان رور ته عذر پيش کړي او دائي قبول نه کړي نو په ده باندى ګناه ده پشان د خاوند د ټيکس . او عمررضى الله عنه وائي : ﴿ **أعقل النّاس أعذر لهم** ﴾([199])

ډير هوښيار د خلقو نه ډير عذر قبلونکے دے د خلقو .

## پنځم ب

---

197/[أحياء علوم الدين جلد/٣ ص ١٥٦، الأذكار ص ٢٧٧ بحواله البدر]
198/[سورة ال عمران آيت/١٥٤]
199/[آداب العشرة]

﴿ وبعبارة أخري ينځم أدب ﴾ د ملګرو د پاره عذر لټول . يعنى كه د ملګري نه غلطي اوشي نو د هغه د پاره عذر لټول چي كيدے شي چي دا عذر ئې وى يا دا عذر ئې وي .

عبد الله بن مباركؒ او إبن مازنؒوائي : ﴿المؤمن يطلب معاذير إخوانه والمنافق يطلب عثراتهم ﴾ مؤمن د خپلو رونړو عذرونه لټوي او منافق د هغوئ لغرشات او غلطياني لټوي .

حمدون القصارؒ وائي : ﴿إذا زلّ أخ من إخوانك فاطلب له تسعين عذر﴾ كله چي ستا رور اوخيژي (يعني خطائي تري نه اوشي) نو لس كم سل/٩٠ عذرونه ورله اولټوه .فضيل بن عياضؒ وائي : ﴿ الفتوّة الصفح عن عثرات الإخوان﴾ جوان مردى او سړيتوب (يعني د ښو اخلاقو تقاضا دا ده) چه مخ اړول د غلطو د رونړو نه .إبن الإعرابيؒ وائي : ﴿ تأنسى مساوي الإخوان يدم لك ودّهم ﴾ يعني چه د ملګرو خطائي هيروي نو دوستي به دى هميشه پاتي شي([200]) .

جنيد بغداديؒ تا چا اوئيل چي ستا ملګري ډوډئ ډيره خوري، هغه اوئيل چه دا ځكه چي شراب نه ځكي (يعني نشه نه كوي) نو جنيدؒ د خپلو ملګرو دفاع اوكړه .

## شپږم □بب د اتفاق د ملګرو □رورتونه پوره كول

عبد الله بن عمررضى الله عنه وائي : چي رسول اللهﷺ فرمائيلي دي چي الله تعالى بعض خلقو ته خصوصى نعمتونه وركوى چي خلقو ته فائده ورسوى، ﴿ويقرّها فيهم ما بذلوها ﴾ او الله تعالى دغه نعمتونه په دوئي كښي برقراره ساتي تر څو چي دوئ دغه نعمتونه د خلقو د پاره خرچ كړي ، ﴿فإذا منعوها نزعها منهم فحوّلها إلى غيرهم﴾ كله چي دوئي دغه نعمت منع كړي نو الله تعالى تري نه دغه نعمت واخلي او بل چا ته ئې نقل كړي .

---

[200]/[آداب العشرة للشيخ أبو البركات]

په بل روايت کښي راځي چي رسول اللهﷺ فرمائي : ﴿ إن لله عبادًا خلقهم لقضاء حوائج النّاس تقضى حوائج النّاس على أيديهم ﴾
د الله تعالى بعض بندګان د خلقو د ضرورتونو د پوره کولو د پاره پيدا کړي دي چي الله تعالى د هغوئ په لاس د خلقو ضرورتونه پوره کوي . ﴿ اولئك آمنون من فزع يوم القيامة ﴾ دا به په أمن وي د ويري د قيامت نه([201]) .
إبن منكدرؒ فرمائي چي ﴿لم يبق من الله إلا قضاء حوائج الإخوان﴾([202])
نه دے پاتي شوے د الله تعالى نه مګر پوره کول د ضرورتونو د رونړو .
اووم سبب د اتفاق (يا ادب ملګرتيا) ايثار دے
يعنى ملګري په ځان غوره کول ، لکه الله تعالى وائي : ﴿وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ ولوكان بهم خصاصة﴾([203])[
دوئي نور غوره کوي په خپلو ځانونو باندي اګرکه په دوى ولګه وى .

## □ حـكايــت

يو خليفه ته چا د صوفيانو په باره کښي چغلي اوکړه چي دوئي شريعت پريږدي . نو بادشاه د دوئ يوه ډله ونيوله ، په دي ډله کښي أبو الحسين النوريؒ هم وو. بادشاه أمر وکړو چي څټونه ئې په توره اووهئ . ابو الحسين نوريؒ د توري والا ته د نورو ملګرو نه مخکښي شو د توري والا تري نه تپوس اوکړو چي تا د نورو ملګرو نه ځان ولي مخکښي کړو هغه اوئيل چي ﴿ أردت ايثار أصحابي بحياة هذه اللحظة ﴾ ما اراده وکړه د غوره کولو د ملګرو خپلو په ژوند د دي لږ وخت باندي . د دي خبري په وجه بادشاه ټول معاف کړل .
د ابراهيم بن ادهمؒ او د ابوبكر القرطبيؒ او ابو عمرو الآدميؒ واقعات مخکښي په اوومه موضوع کښي تير شوي دي او د ايثار متعلق علماء کرامو ډير واقعات نقل کړي دي .

---

[201]/[قضاء الحوائج لإبن أبي الدنيا]
[202]/[آداب العشرة] .
[203]/سورة الحشر/٩] .

## اتم□بب د ملګرو بار بار ملاقتونه کول

د هغوئ د حالاتو نه ځان خبرول ، ابن مسعودرضی الله عنه وائي چي کله به زمونږ يو رور نه وو نو مونږه به د هغه ځائے ته لاړو. که هغه به بيمار وو نو مونږه به د هغه د بيمارئ تپوس وکړو. که په خدمت کښي به مصروفه وو نو تعاون به مو ورسره وکړو او که بيمار يا مصروفه به نه وو نو زمونږ تلل به د هغه د ملاقات وو .(204)

د إبن منکدرؒ نه چا تپوس وکړو چي په دي دنيا کښي خوند په څه کښي دے نو هغه اوئيل ﴿ التقاء الاخوان و إدخال السرور عليهم ﴾ د رونړو ملاقات او هغه خوشحاله کول .

عمررضی الله عنه فرمائي : ﴿ لقاء الإخوان جلاء الأحزان ﴾ ملاقات د رونړو لري کونکے دے د غمونو(205) .

سفيانؒ وائي : چي ډير کرتي زه د يو رور سره ملاؤ شوم ﴿فأقيم شهرا عاقلا بلقائه﴾ د يوي مياشتي پوري زه د هغه په ملاقات عقلمند وګرځيدم .

---

204/[اداب العشرة]

205/[روضة العقلاء من کلام عمررضی الله عنه ص ۱۶۲]

**لسم□بب د ملګرو خبره په شوق اوريدل او د هغه خبري ته توجه کول**
عطاءؒ وائي : چي کله يو سړے ما ته يو حديث بيانوي زه هغه ته داسی کينم چي ما دغه حديث نه وي اوريدلے ، ﴿وقد سمعته قبل أن يولد﴾ حالانکه ما دغه حديث د ده د پيدائش نه مخکښي أوريدلے وي.

وتراه يصغي للحديث بسمعه     وبقلبه ولعلّه أدري به([206])

**يولسم□بب تکلّف نه کول**

يعني ملګرو د پاره ډير تکلّف نه کول ، ځکه کله ملګري يا ميلمه راشی او ته ورله ډير تکلّف کوي نو هغه په سرړي بوج کيږي . او هغه د أئينده د پاره بار بار نه شي راتلے خلق وائی چي څه تيار وي هغه د يار وي ، او خلق وائ چي پياز دي وی خو چي په ناز وي (يعني محبت سره وي )
د سلمان فارسيرضی الله عنه خوا ته ميلمه راغے څه چي تيار وو هغه ئي ورله مخي ته کيښودل او وي وئيل که چري رسول اللهﷺ مونږه د تکليف نه نه وے منع کړے نو مونږه به ستا د پاره ډير تکلّف کړے وو .
په بل روايت کښي راځي چي دوه ميلمانه راغلل د يو نوم شقيق دے بل ئي ملګرے دے . نو سلمان فارسيرضی الله عنه عنه اوئيل : که چري رسول اللهﷺ مونږه د تکليف نه نه وے منع کړے نو مونږه به ستا د پاره ډير تکلّف کړے وے ، بيا ئي ډوډئ او مالګه راوړه . نو هغه ميلمه اوئيل چي که چري د دي مالګي سره زعفران وي نو ښه به وي نو سلمان فارسيرضی الله عنه د اودسلوښے (يعني لوټه) وليږله هغه ئي ګانړه کړه او زعفران ئي راوړل .
شقيقؒ وائي : چي مونږه ډوډئ وخوړله نو زما ملګري اوئيل چي ﴿الحمد لله الذي قنَعنا بما رزقنا ﴾ صفتونه هغه ذات لره دي چي مونږه ته ئی صبر راکړو په دي رزق . نو سلمانرضی الله عنه اوئيل ﴿ لو قنعت بما رزقك لم تكن مطهرى مرهونة ﴾([207])

---

[206]/[سير أعلام النبلاء جلد/٥ ص٨٦ بحواله مفسدات الإخوة ٢٨]
[207]/[مسند أحمد جلد/٥ ص ٤٤١ بحواله مفسد الإخوة ص/١٠٥]

که چري تا صبر کړے وے په هغه څه چی الله تعالی رزق درکړے تا ته نو زما د اودس لوښے به نه وے ګانړه شوے .
فائــده : په دي حديث کښي ذکر شو چي تکلّف ناروا ه دے .
په بله واقعه کښي راځي چي د جابررضی الله عنه خوا ته د صحابه کرامو رضی الله عنهم يوه ډله راغله ، هغه ورته ډوډئ او سرکه کيښوده او وي وئيل چي خورئ ځکه ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلي دي چي ﴿ **نعم الإدام الخلّ**﴾ سرکه ښه اينګولے دے .
او د هغه سړي د پاره هلاکت دے چي د ده خوا ته ميلمانه راشي او د ده په کور کښي چي څه تيار وي دا هغه ميلمستيا د پاره معمولي وګنړي، او د ميلمنو د پاره هم دا هلاکت دے چي څه د دوئ مخي ته کيښودے شي او دوئ ئي معمولي وګنړي([208])
بعض حکماء وائي : چي ﴿ **من سقطت كلفته دامت ألفته** ﴾ د چا چي تکلّف ختم شو نو دوستي ئي هميشه شوه([209]) .
بعض سلف وائي : چي ﴿ **شر الإخوان من تتكلّف له** ﴾ ([210])
ناکاره د رونړو (ملګرو) نه هغه څوک دي چي ته هغه لره تکليف ورکړي .فضيل بن عياضؒ فرمائي : چي د خلقو مينځ کښي جدائی د تکلف د وجه نه راځي . يو سړي خپل ورور (ملګري) لره دعوت ورکړي، د هغه د وجه نه تکليف وکړی نو هغه به دوباره نه راځي .

**دولسم □بب**

ﭙخواني دوستان او تعلقات نه هيرول، بعض خلق د معمولي غلطئ په وجه زاړه دوستان هير کړی او نوي نوي تعلقات پيدا کوی . دا ډيره بے وفائي او نا پوهي ده .
د رسول اللهﷺخوا ته يوه زنانه راغله، رسول اللهﷺ هغه ځان ته نزدي کينوله او وئيل ئي ﴿**إنها كانت تأتينا أيّام خديجة**﴾ دا به زمونږ خوا ته د

---

[208]/. [رواه أحمد جلد/٣ ص٣٧١ ، مجمع الزوائد جلد/٨ ص١٨٠ والطبرانی وأبو يعلي بحواله مفسدات الإخوة ص /١٠٥] .
[209]/[مختصر منهاج القاصدين ص/١٠٠]
[210]/[المختار من رسالة الصداقة والصديق ص /١٣٥ بحواله مفسدات الإخوة]

خديجيؓ په وخت کښي راتله . ﴿ وإن حسن العهد من الإيمان ﴾بی شکه خائسته عهد دايمان نه دئ ([211]) .
په بل روايت کښي راځي چي يوه بوډئ د رسول اللهﷺخوا ته راغله، رسول اللهﷺورته اوئيل : ﴿کيف أنتم کيف حالکم کيف کنتم بعدنا﴾ څنګه ئي ، څه حال مو دے ، زمونږه نه روستو تاسو په څه حال وئ . هغي اوئيل چي ﴿ بخير بأبي وأمي يا رسول اللهﷺ ﴾ په خير وو زما مور او پلار دي ستا نه قربان شي يا رسول اللهﷺ ، چي هغه اوتله چا اوئيل چي يا رسول اللهﷺ تا دي بوؤئ ته ډيره توجه ورکړه . رسول اللهﷺ اوئيل چي ﴿ إنها کانت تأتينا زمن خديجة﴾ دا به زمونږه خوا ته د خديجي رضی الله عنها په وخت کښي راتله ، او ﴿ إن حسن العهد من الإيمان ﴾بی شک خائسته عهد دايمان نه دئ ([212]).
رسول اللهﷺبه ګډ حلال کړو، د خديجي رضی الله عنهادوستانو ته به ئي هديه تري نه ليږله ([213]).
فائده : د دي رواياتو نه معلومه شوه چي رسول اللهﷺبه ډيره وفاداري کوله او زاړه دوستان ئي نه هيرول .
او حديث کښي راځي د پلار حق دا هم دے چي د هغه د دوستانو سره تعلق ساتي .

## دريالسم □بب د إتفاق او محبت د ملګرو خوشحاله کول

يعني د ملګرو په مخکښي داسي خبره کوه چي هغه پري خوشحاليږي د هغه خبرو نه ځان ساته چي هغه پري خفه کيږي .
يحيى بن معاذؒ وائي : ﴿ ليکن حظّ المؤمن منك ثلاثة﴾ د مؤمن برخه دي ستا نه دري خبري شي . يو دا چي ﴿ إن لم تنفعه فلا تضرّه ﴾ که فائده ورته نشي رسولے نو ضرر ورته مه رسوه .

---

211/[آداب العشرة]

212/[رواه الحاکم جلد/١ ص١۶ وصححه وحسّنه الألباني مفسدات الإخوة ص /١٢٢]

213/[بخاري ومسلم ، ترمذی]

دويم دا چي ﴿ إن لم تضرّه فلا تغمّه ﴾ كه خوشحاله كولے ئي نه شي نو مه ئي غمژن كوه .

دريم دا چي ﴿ إن لم تمدحه فلا تذمّه ﴾ كه صفت ئي نه شي كولے نو بدي ئي مه بيانوه ([214]).

## څوارلسم بب د اتفاق د ملګرو ره مشوري كول ، پنځلسم عاجزي كول او د تكبر نه ځان اتل

دا مونږه يو څو ضروري أسباب د اتفاق ذكر كړل ، نور هم علماء كرامو د اتفاق او محبت او دوستئ او رور ولئ ډير أسباب بيان كړي دي . الله دي زمونږه اتفاق او د يو بل محبت نصيب كړی . او الله تعالى دی مونږه د بي اتفاقئ او اختلافونو نه اوساتي او زمونږ زړونه دي يو بل ته پاک كړی ، او مونږه دي د غيبتونو ، كينو ، او حسد نه اوساتي ، الله تعالى دی د ټول أمت مظلومه په حال رحم اوكړی ، او ټول أمت محمدﷺ دي د يو أمارت او قيادت لاندي راجمع كړی .
وصلى الله عليه وعلى خير خلقه محمد وآله وأصحابه أجمعين . ربّنا تقبّل منّا إنك أنت السميع العليم .

## دق او باطل والا د پاره د جنګ جګړو پريښودو ترغيب

د اسلامي شريعت راهنما حضرت محمدﷺد دی خبري ترغيب او مينه وركړی ده چي أمت مسلمه دي په خپل مينځ كښي د يو والي او إتفاق نه كار واخلي . او د هغه كار نه دي ځان اوساتي چي دهغه په سبب د مسلمانانو جدا والي راځي اګر چي په حقه ولي نه وي .حضرت أبو امامه رضى الله عنه روايت كوی فرمائي چي محمدﷺ فرمائي :

﴿من ترك المراء وهو مبطل بنى له بيت في ربض الجنّة ، ومن تركه وهو محقّ بنى له فى وسطها ، ومن حسّن خلقه بنى له في أعلاها ﴾

---

[214]/[مفسدات الإخوة ص/١٢۶]

چا چي جنګ او جګړه پریښوده او په داسي حال کښي چي دا په باطله وو نو الله رب العزت به ورلره د جنت چاپیره کور جوړ کړی ، او چا چي جګړه پریښوده په داسي حال کښي چي دا په حقه باندی وو نو جوړ به شي د دي د پاره کور په مینځ د جنت کښي ، او چا چي خپل أخلاق خائسته کړل نو جوړ به شي د دي د پاره اوچت مقام د دی جنت نه([215]) .

او هم دغه رنګه روایت د أبو الدرداء أبو أمامه واثلة بن الأسقع او أنس بن مالك رضی الله عنهم دے . دوئي فرمائی : ﴿ خرج علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم يوما ونحن نتمارى في شئ من أمر الدين فغضب عضبًا شديدًا لم يغضب مثله ، ثم انتهرنا الخ .﴾([216])

چي یوه ورځ زمونږ سره نبیﷺ اووتلو او مونږه په څه شي کښي د دین د کار په یو أمر کښي بحث مباحثه جګړه کوله ، نو نبی علیه السلام ډیر زیات غصه شو چي د دي په شان نو وو غصه شوے . بیا ئي مونږه اورټلو نو وي فرمائیل خبردار ! اے د محمدﷺ امته یقینا ستاسو نه مخکښي په دي خبرو سره هلاک شوي وو پریږدئ جګړي د وجه د دي کموالي د خیر نه ، جګړي پریږدئ یقینا مؤمن جګړي نه کوي ، جګړي پریږدئ یقینا د جګړي کونکي تاوان پوره شوے دے . نو کافي ده د ده د پاره دا ګناه چي همیشه جګړه کونکے ئي ، جګړه پریږدئ ځکه یقینا زه به د جګړي کونکي د پاره د قیامت په ورځ سفارش نه کوم . جګړه پریږدئ زه ذمه وار یم د دریو/۳ کورنو په جنت کښي چاپیره د دي په مینځ کښي او په اوچت طرف د دیکښي د هغه چا د پاره چي جګړه پریږدي او دا ریښتونے وي ، جګړه پریږدئ یقینا اول هغه چي زه ترینه رب منع کړے یم روستو د بتانو د عبادت نه هغه جګړه ده .

هم دغه رنګه د أبو سعید خدری رضی الله عنه نه نقل دی فرمائي ﴿انّا جلوسا عند باب رسول اللهﷺ نتذاكر ينزع هذا بآية ، وينزع هذا بآية ،

---

215/[رواه أبوداؤد والترمذی الترغيب والترهيب جلد/١ ص٧٧ .]

216/[الحديث رواه الطبراني فی الكبير] .

فخرج علينا رسول اللهﷺ كما يفقأ في وجهه حبّ الرّمّان فقال : يا هؤلاء بهذا بعثتم أم بهذا أمرتم؟لاترجعوا بعدي كفّارا يضرب بعضكم رقاب بعض﴾

چي مونږه نزدي د دروازي د نبی ﷺ کښي ناست وو، مذاکره هم کوله يو تن په يو آيت بحث کولو ، او بل کس په بل آيت بحث کولو نو نبی عليه السلام زمونږ خواته راووتلو لکه چي په اننګو کښي ئي أنار نچوړ شوي وي او بيا ئي اوفرمائيل اے خلقو ! په دي باندي ليږلي شوي ئي يا درته په دي باندی حکم شوے دے مه واپس کيږئ زما نه روسته کافر چي ځني ستاسو نه د ځنو څټونه وهي .

او عائشه رضی الله عنه نه روايت دے فرمائي : ﴿ إن أبغض الرّجال عندالله الألد الخصم﴾ ([217])

چي نبیﷺ فرمائي : يقينا زيات نا خوښه په سړو کښي الله رب العزت ته ډير زيات جګړه کونکے دے .

او بل روايت د أبوهريره رضی الله عنه نه دا دے چي نبیﷺ فرمائي : ﴿المراء في القرآن كفر﴾([218]) په قرآن کښي جګړه کول کفر دے .

د دي ټولو روايتونو نه معلومه شوه چي جنګ جګړي کول ډير زيات نا کاره څيز دے اګر چي په حقه ولي نه وي. لکه د نن سبا مناظري شوي په ديکښي به يوه ډله خامخا په حقه وي ، ليکن دين ته ترينه هيڅ فائده نشته . بلکه اولټه د نفرتونو فضاء عام کيږی . په دي خبره کښي شک نشته چي شهرت پري نه کيږی د سمعت او شهرت په نن دور کښي لويه ذريعه ده او د زنده باد او مرده باد آوازونه واقعي په ديکښي شته خو د دين سر بلندی پري نه کيږی .

د دين او علماء دين او طلباء نه د خلقو نفرتونه نور هم زياتيږي ولي به نه وي چي د دوئ په معاشره کښي يو لوئے کردار دے او ډير په درنه سترګه ورته خلق ګوري خو چي کله ترينه معمولي غلطي اوشي نو د خلقو په نظر کښي سپک شي ، او دا د عوامو غلط نظر دے ځکه طالب او عالم دا خو څه ملک او پيغبر نه دے خو بيا هم احتياط پکار دے . نو چي

[217]/رواه البخاري ومسلم والترمذی والنسائي]
[218]/[رواه أبو داؤد ]

عالم طالب د يو بل ګريبان کښي لاس اچولے وی نو ډير د غم او خفګان خبره ده . نو زما علماء طلباء ته عاجزانه دراخواست دے چي د دين صحيح راهنمائي اوکړو .
او د دی مناظرو او مجادلو مباحثو نه ځان پرهيز کړو او خالص د الله رب العزت د سپيڅلی دين خدمت اوکړو او د دي مناظرو په ځائے د هغه يهود او نصاري او کفارو مقابله اوکړو، چي زمونږه په مينځ کښي دا نفرتونه پيدا کړي دي او د هغوئ منصوبي د خاورو سره خاوري کړو او د هغوئ ټول کوششونه نا کام کړو .
او هغه رونړو ته عاجزانه التماس دے چي کوم د نفرت فضاګاني عام کوی چي د الله د پاره خپل جذبات کنټرول کړي او د هغه بې دينو د سيلابونو مقابله اوکړو او دا طاقتونه دی د هغوئ خلاف استعمال کړه .
او زه هم دا يو درخواست کوم . اے زما رور جانه ! الله مو الله دے نبی مو محمد رسولﷺ دے کتاب مو کلام الله دے قبله مو بيت الله ده ، قبر منو مرګ منو ، ميزان محشر منو ، پل صراط منو جنت او جهنم منو نو ولې د يو بل نه نفرت کوؤ نو زما يوه خبره په حيثيت د مسلمان رور اومنه ، غصه کيږه مه .
چي يو والے او ورور ولي ځان کښي پيدا کړو . اے الله رب العزته ! زمونږه ټول کوششونه په خپل در کښي قبول کړه او د نجات د دين او دنيااو اخيرت ئ اوګرځوه ، او زمونږه استاذانو مور پلار أقرباء دوستانو او عام مسلمانانو سترګي پري يخي کړه آمين يا رب العالمين .

*وقت*

سينکنډ ونه ساعتونه دي روان دي
اسويلي او أرمانونه دي روان دي
که دي اوکړو عمل په دي دنيا
د جنت بشارتونه دي روان دي
که هر څه درته پيښيږي صبر اوکړه
هلته شته دے غلمانونه دي روان دي
دنيا ځائے نه دے د ټولو خواهشاتو
جنت شته دے ټول فکرونه دي روان دي

که ته شــولي ور روان په حـقه لاره
شتــــه دےشته دےمحــلونه دي روان دی
که دي واخستي فائـدي د دي ساعته
خوند به اوکړی دیدونه دي روان دي
سوال کــومه د الله رب الـــعزت نه
اے فــقیره عملــونه دي روان دي

احقرالعبادالی العزیز الوهاب ابومنقادالله مولنارضاءالله حفظه الله ورعاه وجعل الجنة مثواه امین یا رب العالمین